# غنائم العمر

## بلغة البشتو

د. محمد بن عبدالرحمن بن عبدالله السبيهين

شبكة الألوكة
www.alukah.net

# په ژوند کې ګټور غنیمتونه

## غنائم العمر بلغة البشتو

تأليف:
محمد بن عبدالرحمن بن عبدالله السبيهين

## تقدیم
## د شیخ عبد العزیز بن محمد بن عبد الله السَّدْحَان

د الله تعالی شکر دی چې د قلم په وسیله یې انسان ته هغه څه زده کړل چې هغه پرې نه پوهېده، سلام او درود دې پر هغه چا وي چې جوامع کلم ورته ورکړل شوې وه، او پر صحابه کرامو، چې د فضیلت او ارزښت خاوندان و، او پر ټولو هغو کسانو باندې چې د هغوی لار یې تعقیب کړه، او د علم په خپرولو کې یې په ژبه او قلم سره مرسته وکړه، سلام او درود دې وي.

د سلام او درود څخه وروسته:

د علم څخه لیکوال، لوستونکي او دعوتګر هغه وخت ګټه ترلاسه کوي، چې په اسانه لفظي یا لیکلې بڼه خلکو ته وړاندې شي، په دې سره د علم پوهه، زده کړه، او نورو ته یې رسونه ډېره اسانه شي، له همدې امله نبوي تګلاره هم دا وه چې واضحه او معنا داره الفاظ به استعمالول، ترڅو په پوهه او زده کړه کې آسانه وی.

زما په فکر چې دا رساله چې په نوم، محتوا او په ځانګړې ډول لیکنې سره یې لیکوال د لیکوالۍ د تګلارې له امله دوه ځانګړتیاوې خپلې کړې دي:

لومړی: د فضائل اعمال په موضوع زما د علم په رڼا کې له دې وړاندې چا داسې کتاب نه دی لیکلی.

دویم: د بېلابېلو موادو راټول او ترتیبول، او ترڅنګ یې د متن د الفاظو سره سم مختلف رنګونه کارول، بېشکه د مختلفو رنګونو کارول، د خبرو په زده کړه، او د لوستونکي په ذهن کې د معلوماتو د تثبیت سره ډېر مرسته کوي. تر دې دمه زه په فضائلو کې ددې کتاب په څیر کتاب نه وینم چې دا تګلاره یې تعیقیب کړې وي.

د دې کتاب له غوره ځانګړتیاو څخه دا ده چې لیکوال یې د هغو حدیثونو راوړلو ته خاصه پاملرنه کړې چې د سند له مخې صحیح یا حسن وي، او دا کار یې دستاینې وړ دي، دا ځکه چې ډېر هغه څوک چې د فضائلو په اړه خبرې، یا تصنیف کوي، ضعیف یا کله نا کله موضوع (جعلي) حدیثونه رانقل کوي.

ښايي ځينې کسان ځکه د ضعيفو حديثونو څخه استدلال کوي چې ځينې محدثينو ورکې نرمي کړی ده، ليکن غوره او احتياطي تګلاره دا ده، چې يوازې د ثابتو حديثونو په رانقلولو، بسنه وشي، او له نورو ډډه وشي، امام محدث عبدالله بن مبارک رحمه الله څومره ښه ويلي دي: «د صحيح حديثونو په شتون کې د ضعيفو حديثونو ذکر کولو لپاره ځای نشته»

## د دې رسالې لنډيز دا دی:

د دې کتاب مقدمات او پايلې په دلايلو سره ښکلي شوی دی، چې مختلف رنګونه ورکې کارول شوي چې په زده کړه او پوهه کې مرسته کوي، دا هغه څه دی چې په دې کتاب کې دي.

د دې ليکوال استاد ډاکټر محمد بن عبد الرحمن السبيهين دی، ما له هغه څخه ښايسته اخلاق زده کړي دی، او ترڅنګ مې ترې په لغت نحوه زده کړې، هغه ددې وړ دی چې زما لپاره سرليک او مقدمه وليکي، ليکن زما په ګمان دا مقدمه د هغه د کتاب چې ليکم دا د زده کوونکي د خپل ښوونکي د اولادنو سره د نيکۍ يوه برخه ده، د دوی پلار زما د رياض په علمي معهد کې زما ښوونکی و، چې د هغه د پوهې او ښه اخلاقو څخه مې ګټه ترلاسه کړې دسه، الله دې فردوس جنت د هغه ځای وګرځوي، او د هغه په په زامنو، لمسيانو او په ټول نسل برکت کړي.

## له پای مخکې:

زما وړانديز دی چې استاد ډاکټر محمد بايد دې تګلارې ته نور پراختيا هم ورکړي، او هغه حديثونه چې د څلورو بنيادي عبادتونو (لمونځ، زکات، روژه او حج) پورې اړه لري، راټول کړي، د حديث الفاظ سره د هغې د ثواب، د ګناهونو معافيدل او د درجاتو د لوړولو سره بيان کړي.

## په پای کې:

الله پاک دې د استاد ډاکټر محمد هغه کوښښ چې په د کتاب کې يې کړی، قبول کړی، زه هيله من يم چې دا کتاب به ګټور کتاب وی،

الله پاک دې د دې کتاب فایده عامه کړي، د دې کتاب محتوا او منځپانګه د عقیدې، عباداتو او سلوکیاتو اړوند ده، چې په دې سره د الله د فضل او مهربانۍ بیان کول چې په لږ عمل باندې ډیر ثواب ورکوي، دا هغه څه دي چې یو انسان دې کتاب لوستلو، دزه کولو او په هغې به باندې عمل کولو ته هڅوي.

زما په اند، له وړاندې څخه وینم چې د الله توفیق ددې کتاب په تصنیف او د غنیمتونو په ترتیب کې څرګند دی.

الله تعالی څخه دعا کوم چې د دې کتاب د لیکوال لپاره دې دغه ټولو غنیمتونو ګټه په دنیا، آخرت او برزخ کې ورکړي، او ددې کتاب د لوستونکې، اوریدونکي، او هر هغه چا چې نوور ته خلکو ته ورسولو، برابر اجر او ثواب ورکړی.

و الحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات.

عبد العزيز بن محمد بن عبد الله السدحان

# په دې کتاب کې زما تګلاره:

**لومړی:** ما يوازې هغه غنيمتونو غوره کړي دي چې د قرآن کريم په آيت يا صحيح يا حسن حديث سره ثابت شوي وي.
او دا معلومه خبره ده چې د حديثو عالمان کله ناکله د حديثونو د تصحيح، تحسين او تضعيف په اړه اختلاف لري؛ ځکه چې د سند په مطالعه کولو کې د دوی تګلارې مختلفې وي، شايد دلته ځينې داسې حديثونه وي، چې ځينو علماؤ حسن بللي، خو نور علماء يې ضعيف ګڼي، په دې کې کومه ستونزه نه شته، ځکه چې د علماؤ اختلاف يو عام او مشهور حالت دی، زموږ لپاره دا مهمه ده چې د حديث د سند په اړه معتبر عالم د حديث د صحت يا حسن حکم ورکړی وي.
**دويم:** ما غنيمتونه په لوی بابونو کې، په لاندې ترتيب سره تقسيم کړي دي:
١ ـ د الله ته ځان نږدې کول. ٢ ـ د ناخوښيو کارونو له منځه وړل. ٣ ـ د هدف ترلاسه کول.
دا ځکه چې د مسلمان لومړی هدف ځان الله ته نږدې کول وي، بيا تخليه وي، چې ناوړه کارونه له منځه وړل وي، چې دا د تحليې لپاره مقدمه ده، چې خپل هدف ترلاسه کول دي، بيا د هر باب او هرې موضع د لاندې څېرکي دي.
**دريم:** ما د هر څېرکي غنيمتونه د هغې د ستر فضيلت له مخې ترتيب کړي دي؛ هغه داسې که چيرته يې ټول په ټولو غنيمتونو عمل نه شو کولی؛ نو د فضيلت له مخې دې په ترتيب سره ورباندې عمل پيل کړي، تر څو د ستر اجر خاوند شي.
**څلورم:** ما د هر غنيمت تر څنګ يو ځای پرېښی دی، ترڅو چې د هغې د ادا کولو پر مهال په کې نښه وکړل شي.
**پنځم:** ما په هر څېرکي کې غنيمت، د هغې فضيلت، او دليل په جلا جلا چوکاټونو کې بيان کړي دي.

**شپږم:** غنیمت مې په تور رنګ لیکلی، فضیلت په شین رنګ لیکلی، کوم چې د جنتیانو د لباس رنګ دی، دلیل مې په اسماني (آبي) رنګ لیکلی، کوم چې د بحر رنګ دی، او د دلیل هغه برخه چې شاهد وي، په سور رنګ سره مې جلا کړې ده.

**اووم:** د حدیثو تخریج مې په لنډ ډول کړي، چې د اصلي ماخذ سره مې د حدیث شمېره لیکلې ده، په دې کار کې مې اعتماد په صحیحینو، په څلورو سننو او نورو مشهورو کتابونو کړی، او د حدیثونو په تصحیح کې مې اعتماد د حدیثو د علماؤ په تصحیحاتو کړی دی، بیا په ځانګړي ډول په: شیخ احمد شاکر، شیخ الباني او شعیب الأرناؤط رحمهم الله.

**اتم:** په کومو حدیثونو کې چې ناشنا الفاظ شته، او پوهېدو ته یې اړتیا ده، د هغې معناګانې مې بیان کړي دی.

او دا هم ښایي د توفیق یوه نښه وي چې په دې کتاب کې ټول درې سوه شپېته (٣٦٠) غنیمتونه دي، چې تقریباً د کال د ورځو په شمېر دي. نو که یو مسلمان هره ورځ یو یو غنیمت عملي کړي، په یو کال کې به دومره ستر غنیمتونه ترلاسه کړي، چې یو انسان به یې په ټول عمر کې هم تر لاسه نه کړي، بریالی انسان هغه دی چې الله ورته توفیق ورکړي.

زه له الله څخه غوښتنه کوم چې هر چا دا کتاب ولوست، یا یې واوریده، په خلکو کې یې خپور کړ او عمل یې ورباندې وکړ؛ ته ورته فایده او ګټه ورکړه، زما تکیه او توکل پر الله دی، چې د عزت خاوند دی، او زه خپل کار هم هغه ته سپارم، ولا حول ولا قوة إلى بالله العزيز الحكيم.

محمد بن عبدالرحمن بن عبدالله السبيهين

# په ژوند کي گټور غنيمتونه
# ۳۶۰ غنيمتونه

## هغه غنيمتونه چې په هغې سره د الله مراد، هغې ته نږديوالى او قربت، او مهرباني ترلاسه کيږي

**۵۹ غنيمتونه**

- د الله د مراد ترلاسه کولو غنيمتونه — ۲۵ غنيمتونه
- الله ته نږديکت او قربت ترلاسه کولو غنيمتونه — ۱۳ غنيمتونه
- د الله د فضل د ترلاسه کولو غنيمتونه — ۲۱ غنيمتونه

## هغه غنيمتونه چې په هغې سره د دنيا او اخرت مکروهات له مينځه ځي

**۹۱ غنيمتونه**

- دين د زيان رسوونکو کارونو د لرې کولو غنيمتونه — ۵۳ غنيمتونه
- له مرگ وروسته د مکروه کارونو څخه د ژغورنې غنيمتونه — ۱۷ غنيمتونه
- په دنيا کې د زيان رسوونکو کارونو څخه د لرې کولو غنيمتونه — ۲۱ غنيمتونه

## هغه غنيمتونه چې په هغې سره د دنيا او آخرت مقصد ترلاسه کيږي

**۲۱۰ غنيمتونه**

- هغه غنيمتونه چې د ديني هدف د ترلاسه کولو په لار کې تراسه کيږي — ۵ غنيمتونه
- هغه غنيمتونه چې د عمل له لارې ترلاسه کيږي — ۱۴ غنيمتونه
- هغه غنيمتونه چې د اخرت د بريا لپاره پکار وړل کيږي — ۱۴۶ غنيمتونه
- هغه غنيمتونه چې د نفسي ارتياو د پوره کيدو لپاره پکار وړل کيږي — ۳۱ غنيمتونه
- د دنيوي غرض د پوره کيدو والا غنيمتونه — ۱۰ غنيمتونه
- شاوخوا خلکو اړوند غرض د پوره کولو والا غنيمتونه — ۴ غنيمتونه

# لومړی باب

## هغه غنیمتونه چې د الله خوښې، نږدیوالي، او فضل پرې ترلاسه کیږي.

**۵۹ غنیمتونه**

**دا باب درې څپرکي لري:**

- **لومړی څپرکی:** هغه غنیمتونه چې د الله رضایت او خوښي پرې ترلاسه کیږي. (۲۵)
- **دویم څپرکی:** هغه غنیمتونه چې الله ته نزدیوالی پرې ترلاسه کیږي (۱۳)
- **دریم څپرکی:** هغه غنیمتونه چې د الله فضل او مهربانی پرې ترلاسه کیږي (۲۱)

# لومړی څپرکی

## هغه غنیمتونه چې د الله د خوښې پرې ترلاسه کیږي.

## (۲۵) غنیمتونه

په غنیمت عمل

# ۱ غنیمت

## ۱ ـ دعا

**فضیلت:** د بندګۍ حقیقت ته رسیدل.

**دلیل:** له نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: «دعا عبادت دی». بیا یې دا آیت ولوست: ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ (غافر: ۶۰).

او ستاسو رب فرمایي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم. بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذلیله به وي

[دا حدیث ترمذي: ۲۹۶۹ روایت کړی، وایي چې دا حدیث حسن صحیح دی، او الباني دا حدیث صحیح بللی]

په غنیمت عمل

# ۲ غنیمت

## ۲ ـ رښتینولي

**فضیلت:** د رېښتینولۍ ستر مقام.

**دلیل:** له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «بېشکه رښتیا ویل د نېکۍ لور ته بښوونه کوي، او نېکي بیا د جنت لارښوونه کوي، انسان چې تل رښتیا وایي، تر هغې چې د الله په نزد رېښتني وګڼل شي».

[البخاري، ۶۰۹۴، مسلم، ۲۶۰۷]

## ۳ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۳ ـ د الله تقوی نیول

**فضیلت:** د الله په وړاندې په ټولو مخلوقاتو کې ډېر عزتمن.

**دلیل:** الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾ (الحجرات: ١٣).

بېشکه د الله په نیز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی.

## ۴ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۴ او ۵ ـ د غصې زغمول او د خلکو بښل

**فضیلت:** تقوا داره جوړېدل.

**دلیل:** الله تعالی فرمایي: ﴿أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ * الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ (آل عمران: ١٣٤-١٣٣)

د پرهېزګارانو لپاره تیار کړې شوې دی، هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي او خلقو ته معافي کوونکي وي او الله نېکي کوونکي خوښوي.

## ۵ غنیمت

په غنیمت عمل

### ٦ ـ د ښاښت لمونځ کول

**فضیلت:** د اوابینو ښخه شمېرل کېدل.

**دلیل:** له زید بن ارقم رضی الله عنه څخه روایت دی، وایي: ده څه خلک ولیدل چې د ښاښت لمونځ یې کاوه؛ نو ده وېوښتل: آیا دوی نه پوهېږي چې د دې لمونځ غوره وخت کوم دی؟! بېشکه د الله رسول ﷺ فرمایلي دي: د اوابینو د لمونځ وخت هغه وخت دی، چې کله د وړو اوښانو پښې د سختو ګرمو شګو له تاوه وسوزېږي. رواه مسلم، ٧٤٨

په غنیمت عمل

# ۷ غنیمت

## ۷ـ څلوېښت ورځې د لمانځه لومړی تکبیر رالاندې کول

**فضیلت:** له نفاقه خلاصون.

**دلیل:** له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی، وايي: د الله رسول ﷺ وفرمايل: «چا چې څلوېښت ورځې په جماعت سره داسې لمونځ وکړ، چې د لمانځه لومړی تکبیر ترې فوت نه شي؛ نو دې ته به دوه برائتونه ولیکل شي: یو برائت د جهنم له اور څخه، او بل برائت د منافقت څخه». رواه الترمذي: ۲۴۱، احمد: ۱۲۵۸۳، الباني ادا حدیث صحیح بللی

په غنیمت عمل

# ۸ غنیمت

## ۸ ـ روژه نیول

**فضیلت:** په اعمالو کې غوره او سپېڅلی عمل.

**دلیل:** له ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی، وايي: پوښتنه مې وکړه: اې د الله رسوله! داسې عمل راوښایه چې جنت ته مې داخل کړي، نو هغه راته وفرمايل: «روژه نیول په ځان لازم وګرځوه، ځکه چې د روژې برابر هیڅ شی نه شته، یا یې داسې وویل: د روژې هیڅ برابر څه نشته». رواه احمد: ۲۲۷۰۷، او الباني ادا حدیث صحیح بللی

په غنیمت عمل

# ۹ غنیمت

## ۹ـ د الله ذکر کول

**فضیلت:** په اعمالو کې غوره او سپېڅلی عمل.

**دلیل:** له ابو الدرداء رضی الله عنه څخه روایت دی، وايي رسول الله ﷺ وفرمايل: «آیا زه تاسې په غوره عملونو، خبر نه کړم، چې د الله په نزد ډېر پاکوونکي دي، درجات مو لوړوي، د الله په لار کې له سرو او سپینو زرو د مصرف کولو څخه درته غوره دي،

او له دې هم غوره دي چې كله د دښمن سره مخ شئ؛ تاسې د هغوی غاړې پرې کړئ او هغوی ستاسو غاړې پرې کړي؟» صحابو وویل: ولې نه! رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: «هغه د الله ذکر کول دي». رواه الترمذي:۳۳۷۷، الباني دا حدیث صحيح بللی

په غنیمت عمل

## ۱۰ غنیمت

**۱۰ـ** «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير»

**۱۰۰ ځله ویل**

**فضیلت:** په اعمالو کې غوره او سپېڅلی عمل.

**دلیل:** له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: «څوک چې (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير) په یوه ورځ کې سل (۱۰۰) ځله ووایي، دا به یې د لسو غلامانو د آزادولو سره برابر شي، سل نېکۍ به ورته ولیکل شي، سل ګناهونه به یې وبښل شي، او دا به په همدغه ورځ تر ماښام پورې له شیطانه یو کلک ډال وي، او له دې پرته به د لوستونکي لپاره بل غوره عمل نه وي، مګر د هغه چا عمل به ترې غوره وي، چې دا ذکر یې زیات ویلی وي». [البخاري: ۳۲۹۳، مسلم: ۲۶۹۱]

په غنیمت عمل

## ۱۱ غنیمت

**۱۱ ـ سهار او ماښام** (سبحان الله وبحمده) **سل ځله ویل**

**فضیلت:** په اعمالو کې غوره او سپېڅلی عمل.

**دلیل:** له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «چا چې سهار او ماښام (سبحان الله وبحمده) سل ځله وویل، د قیامت په ورځ به د دې ویونکي څخه بل څوک غوره څوک رانه شي، مګر هغه تن به له ده هم غوره وي، چا چې دا ذکر ددې په برابر او یا له دې زیات ویلی وي». رواه مسلم: ۲۶۹۲

په غنیمت عمل

# ۱۲-۱۳ غنیمتونه

**۱۲ او ۱۳ ـ په نورو خوراک کول، او په هغه چا سلام ویل چې پېژنې یې او که نه یې پېژني**

**فضیلت:** په اعمالو کې غوره او سپېڅلي عمل.

**دلیل:** له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه: په اسلام کې غوره کار څه دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: «خلکو ته خوراک ورکول، او سلام کول، برابره خبره ده که هغه تن ته پیژني او که نه پیژني».

رواه بخاري: ۱۲، او مسلم: ۳۹

په غنیمت عمل

# ۱۴-۱۷ غنیمتونه

**۱۴ -۱۷ ـ مسلمان خوشالول، غم ترې لرې کول، پور یې ادا کول، او له ولوږې خلاصول**

**فضیلت:** په اعمالو کې الله ته خوښ کارونه.

**دلیل:** له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «الله ته په ټولو عملونو کې دا خوښه ده چې یو مسلمان خوشاله کړې، یا ترې غم لرې کړې، یا یې پور ادا کړې، او یا یې له ولوږې خلاص کړې».

دا حدیث طبراني په المعجم الکبیر کې ۱۳٦٤٦ شمیره روایت کړی، او الباني صحیح بللی

په غنیمت عمل

# ۱۸ غنیمت

**۱۸ـ په الله په لاره کې جهاد کول، او هلته یوه لحظه تېرول، او د یوه ورځې او شپې لپاره رباط کول**

**فضیلت:** د حجر الأسود تر څنګ د لیلة القدر د شپې د عبادت څخه غوره دی، د شپیتو کلونو عبادت څخه غوره دی، او د یوې میاشتې د روژې او قیام څخه غوره دی.

**دلیل:** ۞ له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، وایي: ما د الله رسول ﷺ څخه واورېدل چې ویې فرمایل: د الله په لاره کې یوه ساعت تېرول د لیلة القدر د شپې د هغه عبادت څخه غوره دی چې د حجر الأسود سره ادا شي». رواه ابن حبان، حدیث ۴۶۳، الألباني دا حدیث صحیح بللی

۞ له عمران بن حصین رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «د الله په لار کې په صف د ودریدو مقام، د یو بنده د شپیتو کلونو عبادت څخه غوره دی». رواه الحاکم (۲۳۹۶)، سیوطي اوألباني دا حدیث صحیح بللی

۞ له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله په لاره کې د وتلي تن مقام، د شپږو کلونو د نفل عبادت څخه غوره ده. رواه أحمد فی المسند (۱۰۹۳۷)، الباني دا حدیث صحیح بللی

۞ له سلمان رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي: ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې فرمایل یې: «یو ورځ او یوه شپه د الله په لاره کې جګړه کول د یوه میاشتې د روژې او قیام څخه غوره ده». رواه مسلم (۱۹۱۳).

۞ له سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي: ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې فرمایل یې: «یوه ورځ د الله په لاره کې جګړه کول - یا یې داسې وفرمایل- د یوې میاشتې د روژې نیولو او د قیام څخه غوره دي» رواه الترمذي (۱۶۶۵)، الباني دا حدیث صحیح بللی

په غنیمت عمل

## ۱۹ غنیمت

### ۱۹ـ د لیلة القدر کې عمل کول

**فضیلت:** د زرو کلونو د عمل ښخه غوره دي

**دلیل:** الله تعالی فرمايي: ﴿لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾ [القدر: ۳]

په غنیمت عمل

## ۲۰ غنیمت

### ۲۰ـ د خلکو ترمینځ سوله کول

**فضیلت:** د روژې، لمانځه، او صدقې ښخه غوره دی

**دلیل:** له ابو درداء رضي الله عنه ښخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: آیا تاسو ته د روژې، لمانځه، او صدقې ښخه غوره عمل نه ښایم؟ صحابو وویل: ولې نه، اې د الله رسوله! هغه ﷺ وفرمایل: «د خلکو ترمنځ سوله کول، او د خلکو ترمنځ فساد کول بیا دین له مینځه وړي». رواه أبو داود (۴۹۱۹) والترمذي (۳۵۰۹) وأحمد (۲۸۱۵٦)، الباني دا حديث صحيح بللی

په غنیمت عمل

## ۲۱ غنیمت

### ۲۱ ـ د جمعې د ورځې د سهار لمونځ په جماعت سره کول

**فضیلت:** په ټولو مونځو کې غوره دی.

**دلیل:** له ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ښخه روایت نقلوي، چې وېي فرمایل: په ټولو مونځو کې غوره لمونځ د جمعې د ورځې د سهار لمونځ دي، چې په جماعت سره وکړل شي. رواه البزار في المسند (۱۲۷۹) الباني دا حديث صحيح بللی

په غنیمت عمل

# ۲۲ غنیمت

## ۲۲ـ د نفل لمانځه ادا کول په کور کې

**فضیلت:** د فرض لمانځه پرته دا لمونځ ترټولو غوره دی.

**دلیل:** له زید بن ثابت رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: اې خلکو، په خپلوو کورنو کې لمونځ کوئ، ځکه د انسان لپاره د فرض لمانځه پرته تر ټولو غوره لمونځ هغه دی چې په خپل کور کې يې ادا کړي. رواه البخاري: ۷۳۱

په غنیمت عمل

# ۲۳ غنیمت

## ۲۳ ـ د شپې لمونځ کول، او په هغې کې تر سلو آیتونو لوستل

**فضیلت:** د فرض لمونځ پرته دا تر ټولو غوره لمونځ دی، له دې امله بنده په قانتینو کې وشمېرل شي.

**دلیل:** ❁ له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د فرض لمونځونو وروسته د شپې لمونځ تر ټولو لمونځونو غوره دی. رواه مسلم: ۱۱۶۳

❁ له عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما څخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «څوک چې د شپې لمونځ کې سل آیتونه ولولي، هغه به د قانتینو له ډلې څخه وشمېرل شي»

رواه أبو داود ۱۳۹۸ الباني دا حدیث صحیح بللی

پە غنیمت عمل

# ۲۴ غنیمت

## ۲۴ـ د محرم میاشت روژه کیدل

**فضیلت:** د رمضان وروسته تر ټولو غوره روژه ده

**دلیل:** له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت وایي چې رسول الله وفرمایل: «د رمضان وروسته تر ټولو غوره روژه د محرم د میاشتي روژه ده» رواه مسلم: ۱۱٦۳

پە غنیمت عمل

# ۲۵ غنیمت

## ۲۵ـ د ماخوستن د لمانځه وروسته څلور رکعاته لمونځ په یو سلام سره کول

**فضیلت:** دا لمونځ یې د لیلة القدر د لمانځه سره معادل دی.

**دلیل:** له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دي، وایي: «څوک چې د ماخوستن له لمانځه وروسته څلور رکعاته لمونځ وکړي، او ترمینځ یې سلام وانړوي، دا لمونځ یط د لیلة القدر د لمانځه سره معادل دی»

ابن أبي شيبة في المصنف (۱/۷۲/۲) الباني دا حدیث صحیح بللی

## دويم څپرکی:

## هغه غنیمتونه چې الله ته نزدیوالی پرې ترلاسه کیږي

## (۱۳) غنیمتونه

## ٢٦ غنيمت

په غنيمت عمل

### ١ – د الله خخه ويره

**فضيلت :** د الله تعالى دوستي، ملگرتيا او محبت ترلاسه كيدل.

**دليل:** الله فرمايلي دي: ﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ * الَّذِينَ ءَامَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴾ [يونس: ٦٢ – ٦٣].

اگاه شئ! بېشكه د الله دوستان چې دي؛ پر هغوى باندې نه څه وېره شته او نه دوى غمژن كېږي، هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او ځان (له نافرمانيو) ساتي.

﴿وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ﴾ [الجاثية : ١٩].

او الله د پرهېزگارانو ملگرى دى

﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾ [التوبة : ٣٦].

او پوه شئ چې يقينًا الله د پرهېزگارانو مل دى.

﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا﴾ [النحل : ١٢٨].

بېشكه الله د هغو كسانو ملگرى دى چې پرهېزگاري كوي

﴿فَإِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾ [آل عمران : ٧٦].

نو يقينًا الله پرهېزگاران خوښوي

﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾ [التوبة : ٧].

**يقينًا الله پرهېزگاران خوښوي**

## ٢٧ غنيمت

په غنيمت عمل

### ٢ – ښگينه كول

**فضيلت:** د الله د ملگرتيا او محبت ترلاسه كيدل.

**دليل:** ﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَواْ وَالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴾ [النحل : ١٢٨].

**بېشكه الله د هغو كسانو ملگرى دى چې پرهېزگاري كوي او د هغو كسانو چې هغوى نېكي كوونكي دي.**

﴿وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴾ [آل عمران : ١٣٤].

**او الله نېكي كوونكي خوښوي.**

په غنيمت عمل

## ۲۸ غنيمت

### ۳- د الله ذکر کول

**فضيلت:** د الله ملګرتيا ترلاسه کيدل.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «الله فرمايلي دي: زه د خپل بنده سره د هغه د ګمان په اندازه يم، زه د هغه سره يم کله چې ما يادوي». [صحيح بخاری: ۷۴۰۵- صحيح مسلم: ۲٦۷۵]

په غنيمت عمل

## ۲۹ غنيمت

### ۳- د الله څخه دعا غوښتل

**فضيلت:** د الله ملګرتيا ترلاسه کيدل.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «الله فرمايلي دي: زه د خپل بنده سره د هغه د ګمان په اندازه يم، زه د هغه سره يم کله چې له ما دعا غواړي». رواه مسلم ۲٦۷۵

په غنيمت عمل

## ۳۰ غنيمت

### ۵- خلکو ته خير رسول

**فضيلت:** په انسانانو کې الله ته خوښ.

**دليل:** له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی، چې روسول الله ﷺ فرمايلي دي: «په انسانانو کې الله ته ډير خوښ بندګان هغه دي، چې خلکو ته خير رسوي».

[دا حديث طبرانی په الکبير (۱۳٦۴٦) کې روايت کړی، او البانی صحيح بللی]

## ٣١ غنیمت

په غنیمت عمل

### ٥- په الله توکل کول

**فضیلت:** دغه بنده سره الله محبت کوي.

**دلیل:** ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾ [آل عمران : ١٥٩].

یقینًا الله له توکل کوونکو سره مینه کوي.

## ٣٢ غنیمت

په غنیمت عمل

### ٦- د الله لپاره له یو بل سره ملاقات کول، محبت ساتل، خیرخواهي لټول، او زیارت کول

**فضیلت:** دغه بنده سره الله محبت کوي.

**دلیل:** له ابو هریره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت نقل کوي: یوه سړی به بل کلی کي د خپل وروړ د لیدو لپاره روان شو؛ نو الله پاک ورته پر لاره فرښته مقرر کړې وه، کله چې هغه ځای ته ورسید، فرښتي تري وپوښتل: چېرته ځې؟ هغه وویل: په دغه کلي کز زما دالله لپاره وروړ دی، د هغه ملاقات ته ځم. فرښتي ورته وویل: آیا کومه نیکي دې ورسره کړې چې د هغې بدله غواړې؟ هغه وویل: نه، یوازې زما ورسره د الله لپاره مینه ده. فرښتي ورته وویل: زه د الله له لورې تا ته استازی راغلی یم چې الله له تاسره هغسې مینه لري، لکه څنګه یې چې ته هغه شخص سره لرې" رواه مسلم (٢٥٦٧).

❁ له عباده بن صامت رضي الله عنه څه روایت دی، وایي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي: چې الله فرمایلي دي: هغه کسان چې د الله لپاره یو بل سره مینه لري، زما د محبت حقدار دي، څوک چې زما لپاره یو بل ته نصیحت کوي، زما د محبت حقدار دي، او څوک چې زما لپاره د یو بل ملاقات کوي، زما د محبت حقدار دی". دا حدیث ابن حبان (٥٧٧) روایت کړی، او الباني صحیح بللی

په غنیمت عمل

## ۳۳ غنیمت

### ۸- د الله لپاره یو بل سره اړیکه ساتل

**فضیلت:** دغه بنده سره الله محبت کوي.

**دلیل:** له عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "زما د محبت حقدار هغه څوک دي، چې زما لپاره د یو بل سره اړیکه ساتي". [الحاکم: ۷۴۰۹]

په غنیمت عمل

## ۳۴ غنیمت

### ۹ – د الله لپاره یو بل ته څه ورکول

**فضیلت:** دغه بنده سره الله محبت کوي.

**دلیل:** له عباده بن صامت رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما د محبت حقدار هغه څوک دي، چې زما لپاره یو بل ته څه (بخشش) کوي. [الحاکم:۷۴۰۹]

په غنيمت عمل

## ۳۵ غنيمت

### ۱۰ - د انصارو سره محبت

**فضيلت:** دغه بنده سره الله محبت کوي.

**دليل:** له حارث بن زياد رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «هر څوک چې انصارو سره محبت ولري، په هغه ورځ چې الله سره مخ شي، الله به د ده سره محبت وکړي»

[دا حديث ابن حبان (۷۲۷۳) ابن ماجه (۱٦۳) نسائي (٦۲۷۴) او أحمد (۱۵۷۸۰) روايت کړی، الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۳٦ غنيمت

### ۱۱ - د الله سره د ملاقات محبت

**فضيلت:** د دغه بنده د ملاقات سره د الله محبت.

**دليل:** له عباده بن صامت رضي الله عنه څه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «څوک چې د الله د ملاقات خوښوي، الله هم د هغه تن سره ملاقات خوښوي». [البخاري: ٦۵۰۷ ، مسلم: ۲٦۸۳]

په غنيمت عمل

## ۳۷ غنيمت

### ۱۲ – صله رحمي پالل

**فضيلت:** د الله اړيکه د دغه بنده سره.

**دليل:** له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: صله رحمي په عرش پورې اويزان ده، او وايي: چا چې زه وپالم، الله به هر خير ورته ورکړي، او چا چې زه پرې کړم، الله به يې د هر خير څخه پرې کړي» [مسلم:۲۵۵۵]

# ۳۸ غنیمت

په غنیمت عمل

## ۱۳ - په سجده کې زیاتې دعاګانې ویل

**فضیلت:** د دعا د قبلیدو ځای دی.

**دلیل:** له ابو هریره رضي الله عنه څه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «انسان خپله رب زیات نزدې د سجدې په حالت کې وي؛ نو تاسې په دغه وخت کې ډېرې دعاګانې کوئ». [مسلم:۴۸۲]

# دریم فصل

## د الله د فضل او مهربانۍ ثابتونکې غنیمتونه

## (۲۱) غنیمتونه

په غنیمت عمل

# ۳۹ غنیمت

## ۱. د الله ښه ویره او تقوی

**فضیلت:** الله پرې خوشالیږي.

**دلیل:** ﴿لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ﴾ [آل عمران:١٥]

د هغو کسانو لپاره چې پرهېزګاره دي، (هغه) د خپل رب په نیز باغونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې په هغو کې به دوی تل ترتله وي او (د دوی لپاره) ښې پاکې ښځې دي او د الله له جانبه رضامندي (ده)

په غنیمت عمل

# ۴۰ غنیمت

## ۲. د خوراک او څښاک وروسته حمد ویل

**فضیلت:** الله پرې خوشالیږي،

**دلیل:** د انس بن مالک رضي الله عنه ښه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "الله پاک د هغه بنده ښه خوشالیږي چې خوارک وکړي، او بیا د الله حمد ووایي، اویا څښاک وکړي، او بیا د الله حمد ووایي".

رواه مسلم (٢٠٢٢)

په غنیمت عمل

# ۴۱ غنیمت

## ۳. مسواک

**فضیلت:** الله پرې خوشالیږي،

**دلیل:** د عائشې رضي الله عنها روایت دی: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "مسواک خوله پاکوي، او الله پرې خوشالیږي".

رواه النسائي في الكبرى (٤) وابن ماجه (٣٤٤٩) وصححه ابن حبان والمنذري والنووي.

په غنيمت عمل

## ۴۲ غنيمت

**۴. "رضينا بالله ربا، وبالإسلام دينا، وبمحمد رسولا" سهار او ماښام ويل**

**فضيلت:** په دې سره الله خپل بنده خوشالوي.

**دليل:** د ابو سلام رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "څوک چې کله سهار او ماښام د 'رضينا بالله ربا، وبالإسلام دينا، وبمحمد رسولا' ووايي، دا يې حق دی چې الله به يې خوشاله کوي."

رواه أبو داود (٥٠٧٢) وصححه الأرناؤوط.

په غنيمت عمل

## ۴۳ غنيمت

**۵. توبه**

**فضيلت:** د توبې قبليدل.

**دليل:** د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "څوک چې د لمر د ډوبيدو (غروب) څخه مخکې توبه وکړي، الله به يې توبه قبوله کړي." [مسلم : ٢٧٣٤]

په غنيمت عمل

## ۴۴ غنيمت

**٦. د قرآن زده کول، او نورو ته يې ښودنه کول**

**فضيلت:** په خلکو کې غوره شخص.

**دليل:** د عثمان رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "په تاسو غوره هغه تن دی چې قرآن خپله زده کړي او بيا يې نورو ته وزده کړي." [البخاري:٥٠٢٧]

په غنیمت عمل

## ۴۵ غنیمت

**۷. د هر لمانځه وروسته** "سبحان الله، الحمد لله، الله اکبر" **۳۳ ځله ویل**

**فضیلت:** لوی خیر او ثواب.

**دلیل:** د ابو هریره رضي الله عنه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "آیا زه تاسو له داسې یو څه خبر نه کړم، که عمل ورباندې وکړې، له تاسو مخکې تیر شوو خلکو اجر او ثواب به راګیر کړئ، او له تاسو وروسته خلک به تاسو راګیر نه کړی شي، تاسو به په ټولو کې غوره یاست، پرته له هغه چا چې د دې عمل په څیر عمل یې وکړې؟ د هر لمانځه وروسته، تسبیح، تحمید او تکبیر درې دیرش ځله داسې وایئ: سبحان الله، الحمد لله، الله اکبر، ترڅو هر یول درې دیرش ځله پوره شي".

روواه البخاري (۸٤۳) ومسلم (۵۹۵)

په غنیمت عمل

## ۴۶ غنیمت

**۸. روژه د وخته ماتول**

**فضیلت:** لوی خیر ورکې دی.

**دلیل:** د سهل بن سعد رضي الله عنه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "انسانان به تر هغه په خیر کې وي ترڅو چې روژه ماتې د وخته کوي".

روواه البخاري (۱۹۵۷) ومسلم (۱۰۹۸)

په غنيمت عمل

## ۴۷ غنيمت

### ۹. په پيغمبر ﷺ درود ويل

**فضيلت:** د دغې تن لپاره د الله له لورې لس ځله ستاينه.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "څوک چې پر ما يو ځل درود ووايي، الله به يې لس ځله ستاينه وکړي".

رواه مسلم (۴۰۸)

په غنيمت عمل

## ۴۸ غنيمت

### ۱۰. په لومړي صف کې لمونځ کول

**فضيلت:** د الله له لورې د دغه انسان ستاينه

**دليل:** له البراء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "بيشکه الله او ملائکې په لومړی صف کې د لمونځ کوونکي ستاينه کوي".

رواه النسائي في الكبرى (٣/٦٤٥) وصححه الألباني.

په غنيمت عمل

## ۴۹ غنيمت

### ۱۱. د تږيو حيواناتو ته اوبه ورکول

**فضيلت:** د الله له لورې بنده ته ښښنه.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "يو سړی په لارې سفر کاوه، چې زيات تږی شو، يو څاه يې وموندله، ورښکته شو، اوبه يې وڅښلې کله چې له څاه څخه راپورته شو، يو سپی يې وليد چې ژبه يې رابهر کړې، او د زياتې تندې له امله لمدې ختې خوړې، دې سړي د ځان سره ووويل: دا سپې د تندې له امله

هاغه حالت ته رسيدلی، کوم ته چې زه رسيدلی وم، خپله موزه يې د اوبو څخه راډکه کړه، سپي ته يې اوبه ورکړې، الله پاک يې دا عمل قبول کړ او ښښنه يې ورته وکړه".

رواه البخاري (٢٤٦٦) ومسلم (٢٢٤٤).

به غنيمت عمل

## ٥٠ غنيمت

### ١٢. د الله د يادونې لپاه رايوځای کيدل

**فضيلت:** د ملائکو په مجلس کې يادېدل، او د سکينې نازليدل.

**دليل:** د ابو هريره او ابو سعيد الخدري رضي الله عنهما څخه روايت دی، چې دواړه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم مجلس ته حاضر شول، او دا حديث يې واوريد: "هيڅ ډله خلک د الله د يادونې لپاره نه رايوځای کيږي، مګر ملائکې ترې احاطه کوي، په رحمت کې يې پټوي، سکينه پرې نازليږي، او الله يې د ملائکو په مجلس کې يادونه کوي." رواه مسلم (٢٧٠٠).

د ابو هريره رضی اله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي، الله پاک وايي: "زه د خپل بنده سره د هغه د ګمان برابر معامله کوم، کله چې ما يادوی زه د هغه سره يم، کله په زړه کې مې يادوي، زه يې هم په خپل نفس کې يادوم، او که چيرته په يو مجلس کې مې يادوي، زه به يې له هغې غوره مجلس کې ياد کړم". رواه البخاري (٧٤٠٥) ومسلم (٢٦٧٥).

به غنيمت عمل

## ٥١ غنيمت

### ١٣. د الله ذکر کول

**فضيلت:** د ملايکو په مجلس کې به يې الله يادونه وکړي.

**دليل:** ﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ ﴾ [البقره: ١٥٢]

نو تاسو ما يادوی زه به تاسو يادکړم

په غنیمت عمل

## ٥٢ غنیمت

### ١٤. د خپل ځان سره د الله ذکر کول

**فضیلت:** الله به يې د خپل ځان سره یاد کړي.

**دلیل:** د ابو هريره رضی اله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، الله پاک وايي: "زه د خپل بنده سره د هغه د گمان برابر معامله کوم، کله چې ما یادوی زه د هغه سره یم، کله په زړه کې مې یادوي، زه يې هم په خپل نفس کې یادوم، او که چیرته په یو مجلس کې مې یادوي، زه به يې له هغې غوره مجلس کې یاد کړم".

روا‌ه البخاري (٧٤٠٥) ومسلم (٢٦٧٥).

په غنیمت عمل

## ٥٣ غنیمت

### ١٥. ضعف او کمزوري

**فضیلت:** په خپل قسم کې صادقه پاتی کیدل.

**دلیل:** د حارثه بن وهب الخزاعي رضي الله عنه څخه روایت دی، چې ما د رسول الله ﷺ څخه اروېدلي دي، چې وفرمایل: "آیا زه تاسې ته جنتیان درونه ښایم؟ هر هغه څوک چې الله ته عاجزی کوي، خلک يې هم کمزوري او عاجز ګڼي، خو که چیرته په الله قسم وکړي، الله يې په خپل قسم کې ریښتینی کوي".

روا‌ه البخاري (٤٩١٨) ومسلم (٢٨٥٣).

په غنیمت عمل

## ۵۴ غنیمت

### ۱٦. په مسجد کې د لمونځ کولو ورووسته څخه پاتې لمونځ به کور کې کول

**فضیلت:** په کور کې د برکت سبب کیږي.

**دلیل:** د جابر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "کله چې په مسجد کې لمونځ وکړئ، نو باقي لمونځ دې په کور کې کوي، ځکه په دغې لمونځ سره یې الله په کور کې برکت پیدا کوي".

رواه مسلم (۷۷۸).

په غنیمت عمل

## ۵۵ غنیمت

### ۱۷. د البقرې سورت تلاوت کول

**فضیلت:** برکت ترلاسه کیدل.

**دلیل:** د ابو امامه الباهلي رضي الله عنه څخه روایت دی، چې وایي: ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي: "د البقرې سورت تلاوت کوئ، ځکه چې د دې په تلاوت او په هغې باندې په عمل کولو کې برکت دی."

رواه مسلم (۸۰۳))

په غنیمت عمل

## ۵٦ غنیمت

### ۱۸. پیشلمی

**فضیلت:** برکت ترلاسه کیدل.

**دلیل:** د انس بن مالک رضي الله عنه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "پیشلمی وکړئ، ځکه چې پیشلمي کې برکت دی".

رواه البخاري (۱۹۲۳) ومسلم (۱۰۹۵).

په غنيمت عمل

## ۵۷ غنيمت

### ۱۹. بدي په ښېګڼې له منځه وړل

**فضيلت:** لويه خوشالي ده.

**دليل:** ﴿وَلَا تَسْتَوِى الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۚ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ (٣٤) وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ﴾ [فصلت: ٣٤-٣٥].

او نېکي او بدي هيڅکله سره نه برابرېږي. ته په هغې طريقې سره جواب ورکوه چې تر ټولو ښه وي، نو ناڅاپه به هغه کس چې ستا په مينځ کې او د هغه په مينځ کې دښمني وي، داسې شي ګويا کې هغه ستا ډېر مهربان دوست دی، او دا (خصلت) نه ورکول کېږي مګر هغو کسانو ته چې صبر کوي او دا نه ورکول کېږي مګر د ډېرې لويې برخې والا ته.

په غنيمت عمل

## ۵۸ غنيمت

### ۲۰. د جمعې په ورځ د الکهف سورت تلاوت کول

**فضيلت:** تر يوې اونۍ پورې به د نور څخه برخمن وي، د لوستونکي او بيت العتيق ترمينځ فضا به په نور ډکه وی.

**دليل:** د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه روايت دی: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "څوک چې د جمعې په ورځ الکهف سورت تلاوت کړي، د هغه لپاره له يوه جمعې څخه بلې جمعې پورې به نور وي".

رواه الحاكم (٣٤١٢) وصححه السيوطي والألباني.

د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "څوک چې د جمعې په ورځ د الكهف سورت ولولي، د لوستونکي نيولې تر بيت العتيق پورې فضا به له رڼا څخه ډکه کړي".

روه البيهقي في السنن الكبرى (٦٠٧٨) وصححه الألباني.

په غنيمت عمل

# ٥٩ غنيمت

## ٢١. د ښباک پر مهال درې ځله سا اخيستل

**فضيلت:** په ښباک کې برکت.

**دليل:** د انس رضي الله عنه څخه روايت چې فرمايي: «رسول الله ﷺ به په ښباک کې درې ځله سا اخيستله او ويل به يې: دا ښه مړونکې، صحي او ښه کار دی».

رواه مسلم (٢٠٢٨)

# دوهم باب
## هغه ګټور غنیمتونه چې د دنیا او آخرت ستونزې او تکلیفونه له مینځه وړي

**۹۱ غنیمتونه**

**دا باب درې فصلونه لري:**

**لومړی فصل:** هغه غنیمتونه کوم څه چې دین ته زیان رسوي؛ له منځه وړي (۵۳)

**دویم فصل:** هغه غنیمتونه چې تر مړینې وورسته مو د تکلیفونو څخه ژغوري (۱۷)

**دریم فصل:** هغه غنیمتونه چې په دنیا کې مکروه کارونه له مینځه وړي (۲۱)

# لومړی فصل

## هغه غنیمتونه چې دین ته زیان رسونه له منځه وړي

## (۵۳ غنیمتونه)

په غنيمت عمل

## ٦٠ غنيمت

### ١ -د "سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ" ويل، سل ځله

**فضيلت:** د هرې ګناه ببښل، او د زرو (١٠٠٠) ګناهونو معافي.

**دليل:** له أبو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې «سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ» د ورځې په اوږدو کې سل ځله ووايي، ګناهونه به ور وببښل شي، که څه هم د سمندر د ځګ په اندازه ډېرې وي " [البخاري: ٦٤٢٤، مسلم: ٢٦٩١]

له سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی، چې وايي: موږ د رسول الله ﷺ په حضور کې ناست وو، هغه وفرمايل: آيا تاسې کې څوک له دې عاجز دی چې هره ورځ دې زر نيکۍ ترلاسه کړي؟ ... سل ځله دې تسبيح ووايي، نو زر نيکۍ به ورته وليکل شي، يا زر ګناهونه به ترې وببښل شي" [مسلم: ٢٩٩٨]

په غنيمت عمل

## ٦١ غنيمت

### ٢ - اودس، او د سختۍ پر وخت پوره او بشپړ اودس کول

**فضيلت:** د ټولو ګناهونو ببښنه، او له ګناهونو څخه پاکېدل.

**دليل :** له أبو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله چې يو مسلمان يا مؤمن بنده اودس کوي او خپل مخ ووينځي، نو له مخه سره هغه ټول ګناهونه وځي چې په سترګو يې ليدلي وي د اوبو سره يا د اوبو د وروستي ځاځکي سره، بيا چې لاسونه ووينځي، له دواړو لاسونو سره هغه ګناهونه هم وځي چې لاسونو کړي وي د اوبو سره يا د اوبو د وروستي ځاځکي سره، بيا چې پښې ووينځي، د پښو سره هغه ګناهونه هم وځي چې په پښو ورغلي وي د اوبو سره يا د اوبو د وروستي ځاځکی سره، تر دې چې له ګناهونو پاک وځي. [مسلم: ٢٤٤]

له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "څوک چې په ښه ډول اودس وکړي، نو ګناهونه به یې د بدن له هرې برخې ووځي، تر دې چې د نوکونو لاندې ځایونو څخه به هم ووځي" [مسلم: ۲۴۵]

له أبو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ایا زه تاسو ته داسې عمل در ونښایم، چې الله پرې ګناهونه ببښي او درجې لوړه وي؟ صحابه وویل: هو، اې د الله رسوله! نو رسول الله ﷺ وفرمایل: د سختیو په وخت کې بشپړ د اودس کول.
[مسلم: ۲۵۱]

په غنیمت عمل

## ۶۲ غنیمت

### ۳ - هغه حج چې بې ادبي او فسق ورکې ونه شي

**فضیلت:** د ټولو ګناهونو ښښنه.

**دلیل:** له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې وایي ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې ویل یې: څوک چې د الله لپاره حج وکړي، بې‌ادبي او ګناه ونه کړي؛ نو داسې پاک به راګرځي لکه په هغه ورځ چې له مور زېږېدلی وي. [البخاري: ۱۵۲۱، مسلم: ۱۳۵۰]

په غنیمت عمل

## ۶۳ غنیمت

### ۴ - مسجد اقصی ته د لمونځ لپاره تلل

**فضیلت :** د ټولو ګناهونو ښښنه.

**دلیل:** له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې سلیمان بن داود علیهما السلام د بیت المقدس د ودانولو څخه فارغ شو، نو له الله یې درې غوښتنې وکړې:

داسې پريکړه او قضاوت رانصيب کړه، چې ستا د پريکړې سره برابر وي، داسې سلطنت راکړه چې له هغې وروسته يې هېچا ته ور نه‌کړل شي، او دا چې څوک دې مسجد ته د لمانځه په نيت راشي، ټول ګناهونه يې وبښه، داسې پاک دې ببرته لاړ شي لکه هغه ورځ چې مور زېږولی وي. رسول الله ﷺ وفرمايل: د دې درېو غوښتنو څخه دوه خو الله ورکړې، او هيله لرم چې درېمه هم ور ته ورکړل شوې وي.

[النسائي: ٧٧٤، ابن ماجه: ١١٠٨]

په غنيمت عمل

## ٦٤ غنيمت

### ٥ - د قرباني د خاروي څخه ليدنه

**فضيلت :** د ټولو ګناهونو بښنه.

**دليل:** عمران بن حصين رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :اې فاطمې! پاڅه او خپله قرباني وګوره، ځکه د هغې د لومړني څاڅي وينې سره، الله ستا ټول ګناهونه ببښي.

دا حديث بيهقی په السنن الکبری (١٠٣٣٦) کې روايت کړی، او سيوطي دا حديث حسن بللی

په غنيمت عمل

## ٦٥ غنيمت

### ٦ - د الله په لاره کې شهادت

**فضيلت:** له پور (قرض) پرته د ټولو ګناهونو بښنه

**دليل:** عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: شهيد ته به د هرې ګناه بښنه وشي، خو پور به ورته نه ببښل کېږي . [مسلم: ١٨٨٦]

په غنيمت عمل

## ٦٦ غنيمت

**٧ - بشپړ اودس کول، بيا په توجه سره دوه رکعته لمونځ ادا کول او بيا د الله څخه ښنه غوښتل**

**فضيلت:** د تېر شوي ګناهونه ورسره ښنل کېږي.

**دليل:** عثمان بن عفان رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې زما د اودس په شان اودس وکړي، بيا دوه رکعته لمونځ وکړي، داسې چې د لمونځ څخه بيرونه فکر پکې ونه کړي، تېول تير ګناهونه به ورته وبښل شي.

[البخاري: ١٥٩، مسلم: ٢٢٦]

ابوبکر رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل: هيڅ بنده داسې نه وي چې ګناه وکړي، بيا ښه اودس وکړي، دوه رکعته لمونځ وکړي، او له الله څخه ښنه وغواړي، مګر الله به حتماً ورته ښنه وکړي.

دا حديث أبو داود(١٥٢١)، او ترمذي (٤٠٦)، او نسائي په الکبرى (١٠١٧٥) کې روايت کړی، او الباني ورته صحيح ويلي

په غنيمت عمل

## ٦٧ غنيمت

**٨ – په رمضان کې د ايمان او ثواب له امله قيام کول**

**فضيلت :** تېر ګناهونه به يې وبښل شي.

**دليل :** ابو هريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :"څوک چې د ايمان او ثواب په نيت سره د رمضان په مياشت کې قيام وکړي (يعني تراويح يا شپه عبادت وکړي)، نو د هغه تېول پخواني ګناهونه به وبښل شي". رواه البخاري (١٩٠١) ومسلم (٧٦٠)

په غنيمت عمل

## ٦٨ غنيمت

### ٩- په ليلة القدر قيام د ايمان او ثواب نيت سره

**فضيلت:** د تېر وخت گناهونه ببښل کېږي.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د ايمان او ثواب په نيت سره د ليلة القدر شپه عبادت وکړي، نو د هغه ټول پخواني گناهونه به ورته وبښل شي. رواه البخاري (١٩٠١) ومسلم (٧٦٠)

په غنيمت عمل

## ٦٩ غنيمت

### ١٠ - د امام له آمين سره د ملايکو د آمين موافقت

**فضيلت :** تېر گناهونه به يې وبښل شي.

**دليل :** ابو هريرة رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې امام آمين ووايي، نو تاسو هم آمين ووایاست، ځکه که د چا آمين د ملايکو له آمين سره موافق شي، نو د هغه پخواني گناهونه به وبښل شي .رواه البخاري (٧٨٠) ومسلم (٤١٠)

په غنیمت عمل

## ۷۰ غنیمت

**۱۱ – (لا إله إلا الله، والله أكبر، ولا حول ولا قوة إلا بالله) ویل**

**فضیلت:** ډېر ګناهونه به يې وبښل شي.

**دلیل:** عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د ځمکې پر مخ که چا دا وويل: **لا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ**، مګر دا چې ګناهونه به يې وبښل شي، که څه هم د سمندر د زګ په اندازه وي. رواه الترمذي (٣٤٦٠)، والنسائي (٩٨٧٣)، وأحمد (٦٥٥٤)، وصححه أحمد شاكر.

په غنیمت عمل

## ۷۱ غنیمت

**۱۲ – د هر لمونځ نه وروسته ۳۳ ځله سبحان الله، ۳۳ ځله الحمد لله، ۳۳ ځله الله اکبر، ویل او د سلو د پوره کولو لپاره دا ورسره ویل: (لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير)**

**فضیلت:** ډېر ګناهونه به يې وبښل شي.

**دلیل:** ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د هر لمانځه وروسته درې ديرش ځل سبحان الله، درې ديرش ځل الحمد لله، درې ديرش ځل الله اکبر ووايي، دا کېږي نهه نوی کيږي، او بيا دا وينا وايي :لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، نو ګناهونه به يې وبښل شي، که څه هم د سمندر د زګ په شان ډېر وي. رواه مسلم (٥٩٧)

په غنیمت عمل

# ۷۲ غنیمت

## ۱۳ – له کوره څخه د بشپړ اودس سره جومات ته د فرض لمونځ لپاره تگ

**فضیلت:** گناهونه به یې وبښل شي.

**دلیل:** ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه تاسې ته داسې عمل ونه ښایم چې الله مو پرې گناهونه وبښي او درجې مو لوړې کړي؟ صحابو ویل: هو، یا رسول الله! هغه وفرمایل: د سختیو په وخت کې پوره اودس کول، او جوماتونو ته ډېر قدمونه اخیستل.

[مسلم ۲۵۱]

- عثمان بن عفان رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: «څوک چې پوره اودس وکړي، بیا د فرض لمانځه لپاره جومات ته لاړ شي او جماعت سره یې ادا کړي، نو الله به یې گناهونه وبښي .

[مسلم ۲۳۲]

- ابوهریره رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې ښه اودس وکړي، او مسجد ته یوازې د لمونځ لپاره راشي، نو په هر قدم به یې یوه گناه ور وبښي یا یوه درجه به یې لوړه شي.

[البخاري ۲۱۱۹، مسلم ٦٤٩]

- ابوهریره رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په خپل کور کې اودس وکړي، او د الله له کورونو نه یو ته د فرض لمونځ لپاره روان شي، نو په هر قدم به یې یوه گناه له منځه لاړه شي، او په بل قدم به یې یوه درجه لوړه شي.

[مسلم ٦٦٦]

## ۷۳ غنيمت

په غنيمت عمل

**۱۴ – د یو لمونځ نه وروسته تر بل لمونځه پورې انتظار کول**

**فضیلت:** ګناهونه به یې وبښل شي.

**دلیل:** ابو هریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه تاسې ته داسې څه ونښایم چې ګناهونه مو له منځه وړي او درجې مو لوړوي؟» صحابو وویل: هو، یا رسول الله! هغه ورته وفرمایل: د سختیو په وخت پوره اودس کول، جوماتونه ته ډېر قدمونه اخستل، او د یو لمونځ وروسته د بل لمونځ پورې انتظار کول، دا رباط دی، دا رباط دی (د تل پاتې خیر سبب دی). [مسلم ۲۵۱]

## ۷۴ غنيمت

په غنيمت عمل

**۱۵ – د شپې لمونځ کول**

**فضیلت:** ګناهونه به یې وبښل شي.

**دلیل:** معاذ بن جبل رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: صدقه ګناه داسې له منځه وړي لکه څنګه چې اوبه اور له منځه وړي، او د شپې لمونځ هم (ګناه له منځه وړي).

[دا حدیث نسائي په الکبری (۱۱۳۳۰)، ترمذي (۲۶۱٦)، احمد (۲۲٤۳۹) روایت کړي دی، ابن القیم او البانی صحیح بللی]

په غنیمت عمل

# ۷۵ غنیمت

## ١٦ – د تکلیف او خوشالۍ پر مهال صدقه ورکول

**فضیلت :**گناهونه به یې وبښل شي.

**دلیل:** ﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ * الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ﴾ [آل عمران: ١٣٣-١٣٤]

او تاسو له یو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی، د پرهېزګارانو لپاره تیار کړی شوی دی، هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې.

معاذ بن جبل رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل :صدقه ګناه داسې له منځه وړي، لکه څنګه چې اوبه اور له منځه وړي.

[دا حدیث نسائي په الکبری (١١٣٣٠)، ترمذي (٢٦١٦)، أحمد (٢٢٤٣٩)، روایت کړی، ابن القیم او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

# ۷۶ غنیمت

## ١٧ – د حج او عمرې تکرار

**فضیلت:** ګناهونو به یې وبښل شي.

**دلیل :** عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: حج او عمره بار بار ترسره کړئ، ځکه دا دواړه فقر او ګناهونه له منځه وړي، لکه څنګه چې د اور بټۍ له اوسپنې، سرو او سپینو زرو نه چتلي لرې کوي.

[دا حدیث احمد (٣٧٤٣)، ترمذي (٨١٠)، نسائي (٣٥٩٧) روایت کړی، احمد شاکر صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۷۷ غنیمت

### ۱۸ – د الله په لار کې جهاد کول

**فضیلت :** د ګناهونو ببښنه

**دلیل :** ابو هریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله په لار کې د یو کس ودرېدل، له دې غوره دي چې شپېته کاله لمونځ بې له جهاده وکړي، آیا نه خوښوی چې الله مو ګناهونه وبښي. رواه أحمد (١٠٨٧٩) وصححه الألباني.

په غنیمت عمل

## ۷۸ غنیمت

### ۱۹ – د الله تعالی پر وړاندې ریښتینې توبه

**فضیلت :** د ګناهونو ببښنه

**دلیل :** ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ﴾ [التحريم: ٨]

اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو الله ته توبه وباسئ خالصه رښتینې توبه، امېد دی چې ستاسو رب به له تاسو نه ستاسو ګناهونه ورژوي.

په غنیمت عمل

# ۷۹ غنیمت

## ۲۰ – د الله څخه و یره او تقوی

**فضیلت:** **د ګناهونو بښنه.**

**دلیل:** ﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [آل عمران: ۱۳۳]

**او تاسو له یو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی، د پرهېزګارانو لپاره تیار کړی شوی دی.**

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾ [الأنفال:۲۹]

**ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! که چېرې تاسو له الله نه ووېرېږئ، هغه به تاسو لپاره فرقان (د حق او باطل په مینځ کې فرق کوونکی) مقرر کړي او له تاسو نه به ستاسو ګناهونه ختم کړي او تاسو ته به بخښنه وکړي او الله د ډېر لوی فضل والا دی.**

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ﴾ [الأحزاب: ۷۰-۷۱]

**ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او خبره کوئ ډېره سمه (درسته) خبره، هغه به تاسو ته ستاسو عملونه درست (او صالح) کړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي.**

﴿ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ﴾ [محمد: ١٥]

د هغه جنت حال (او صفت) چې پرهېزګارانو ته يې وعده ورکړې شوې ده، په هغو کې د داسې اوبو ولې دي چې خرابېدونکې نه دي او د داسې شيدو (پيو) ولې دي چې خوند (او مزه) به يې تغير نه مومي (نه خرابېږي) او د داسې شرابو ولې دي چې څښونکو ته مزه ورکوونکي وي او د صفا کړی شويو شاتو ولې دي او د دوی لپاره په دغو (جنتونو) کې هر قسمه مېوې دي او د خپل رب له جانبه مغفرت دی.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَآمِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ [الحديد: ٢٨]

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او د هغه په رسول ايمان راوړئ هغه (الله) به تاسو ته له خپل رحمت نه دوه حصې درکړي او تاسو لپاره به رڼا پيدا کړي چې تاسو به له هغې سره (په پل صراط) ځئ او تاسو به وبخښي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی.

﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا﴾[الطلاق: ٥]

او هغه څوک چې له الله نه ووېرېږي، هغه به له ده نه د ده ګناهونه لرې کړي او د ده لپاره به اجر ډېر لوی کړي

په غنیمت عمل

# ۸۰ غنیمت

**۲۱ – استغفار، او دا دعا ویل** «أستغفر الله الذي لا إله إلا هو الحي القيوم وأتوب إليه»، **او په ګناه دوام نه کول**

**فضیلت :** د ګناهونو ښښنه

**دلیل:** ﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى ٱلسَّرَّاءِ وَٱلضَّرَّاءِ وَٱلْكَٰظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَٰحِشَةً أَوْ ظَلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا ٱللَّهَ فَٱسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ [آل عمران: ۱۳۳–۱۳۵]

او تاسو له یو بل نه تلوار کوئ **هغه (مغفرت) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده** او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی، د پرهېزګارانو لپاره تیار کړی شوی دی، هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي او خلقو ته معافي کوونکي وي او الله نېکي کوونکي خوښوي، **او هغه کسان چې کله څه فاحش کار وکړي، یا په خپلو ځانونو (بل) ظلم وکړي (نو) الله یاد کړي، (او) ورپسې د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي،** او بل څوک دی چې ګناهونه وبخښي غیر له الله نه؟ **او څه چې دوی کړي وي په هغې اصرار (کلکوالی) و نه کړي**، په دې حال کې چې دوی پوهېږي.

**ابو هريره رضی الله عنه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل :قسم په هغه ذات چې زما ځان يې په واک کې دی، که تاسې ګناه نه کولای، نو الله به مو له منځه وړی، او داسې خلک به راولي چې ګناه به کوي، استغفار به غواړي، او الله به يې ښښي.** روا‌ه مسلم ۲۷۴۹

**يسار بن زيد رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې دا دعا وکړي: أستغفر الله الذي لا إله إلا هو الحي القيوم وأتوب إليه، نو الله به يې وبښي، که څه هم له جنګه يې تيښته کړې وي**

**[دا حديث أبو داود ۱۵۱۷، الترمذي ۳۵۷۷، روايت کړی دی، او الباني صحيح بلل]**

په غنیمت عمل

# ۸۱ غنیمت

## ۲۲- د هر ډول مصیبتونو پر وړاندې صبر کول

**فضیلت :** د ګناهونو بښنه.

**دلیل:** له ابوسعید خدري او ابوهریره رضی الله عنهما څخه روایت دی، رسول الله ﷺ وفرمایل: مسلمان ته چې کومه ستړیا، ناروغي، غم، خپګان، ضرر یا د زړه تنګوالی ورپېښ شي آن تر دې چې که یوازې یو خاردار شی یې بدن وخوري نو الله به یې د دې له امله ګناهونه وبښي. رواه البخاري (٥٦٤١)

په غنیمت عمل

# ۸۲ غنیمت

## ۲۳ - د بد عمل وروسته نېک عمل کول

**فضیلت :** د ګناهونو بښنه.

**دلیل :** ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ [هود: ۱۱۴]

بېشکه نېکۍ بدۍ لرې کوي

له ابو ذر رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د بد عمل وروسته نېک عمل وکړه، نو هغه به یې له منځه یوسي. رواه أحمد (٢١٧٥٠)، والترمذي (١٩٨٧) وصححه ابن العربي والسّفاریني.

په غنيمت عمل

## ۸۳ غنيمت

### ۲۴ - له لويو ګناهونو ډډه کول

**فضيلت :** د ګناهونو ببښنه.

**دليل :** ﴿إِن تَجۡتَنِبُوا۟ كَبَاۤىِٕرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلࣰا كَرِيمࣰا﴾ [النساء: ۳۱]

که چېرې تاسو له هغو غټو ګناهونو نه ځان وساتئ، چې تاسو ترې منع کولی شئ (، نو) مونږ به له تاسو نه ستاسو (واړه) ګناهونه لرې کړو او ډېر د عزت ځای ته به مو داخل کړو

په غنيمت عمل

## ۸۴ غنيمت

### ۲۵ - ټول دعاوې پر نبي ﷺ درود ويلو ته ځانګړې کول

**فضيلت :** د ګناهونو ببښنه.

**دليل:** ابی بن کعب رضی الله عنه وپوښتل: که زه ټول وخت درود دربانديږ ووايم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا ټولي اندېښني به له منځه ولاړې شي او ګناهونه به دې ووبښل شي. رواه الترمذي (۲۴۵۷) وقال: حسن صحيح

په غنيمت عمل

## ۸۵ غنيمت

### ۲۶ - د الملك سورت تلاوت کول

**فضيلت:** د ګناهونو ببښنه.

**دليل:** له ابوهريره رضی الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «په قرآن کې يوه سوره دی چې دېرش آيتونه لري، دا به د خپل لوستونکي لپاره شفاعت وکړي، تر هغې چې ببښنه ورته وشي: ﴿تَبَارَكَ الَّذِى بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾. رواه ابن ماجه (۲۸۹۹)

په غنیمت عمل

# ۸٦ غنیمت

## ۲٦ - په شریکه د الله د یاد لپاره راجمع کیدل

**فضیلت:** د ګناهونو بښنه.

**دلیل:** ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ځانګړي ملائکې دي چې د ذکر مجلسونه لټوي، کله چې د الله یادوونکي خلک پیدا کړي، نو وايي: خپل حاجت ته راشئ! بیا وايي: دغه د مځکې څخه نیولې تر اسمانه په خپلو وزرو کې راپټ کړي، بیا ترې الله وپوښتي، حال دا چې هغه د دوی په حال خبر وي: زما بندګان څه وايي؟ ملائک ورته ووايي: ستا تسبیح، تکبیر، تحمید او تمجید وايي، الله ملائکو ته ووايي: زه تاسو شاهد نیسم چې ما هغوی وبخښل.

رواه البخاري (٦٤٠٨)، ومسلم (٢٦٨٩)

په غنیمت عمل

# ۸۷ غنیمت

## ۲۸ - د شپې په وروستي دریمه برخه کې استغفار کول

**فضیلت:** د ګناهونو بښنه.

**دلیل:** ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زمونږ رب هره شپه د دنیا آسمان ته راکوزیږي، کله چې د شپې دریمه برخه پاتې شي، او وايي: څوک له ما دعا کوي چې قبوله یې کړم، څوک له ما بښنه غواړي چې بښنه ورته وکړم. رواه البخاري (٧٤٩٤)، ومسلم (٧٥٨).

په غنیمت عمل

# ۸۸ غنیمت

## ۲۹ - لیدو پر مهال مصافحه کول

**فضیلت :** د ګناهونو بښنه.

**دلیل :** براء بن عازب رضي الله عنه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې دوه مسلمانان سره ووینې او مصافحه وکړي، نو تر جلا کیدو مخکې به یې ګناهونه وبښل شي. رواه الترمذي (٢٧٢٧)

په غنيمت عمل

# ۸۹ غنيمت

**۳۰ - د اذان نه وروسته (أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمدا عبده ورسوله، رضيت بالله ربا، وبمحمد رسولا، وبالإسلام دينا) دعا ويل**

**فضيلت:** د ګناهونو بښنه.

**دليل:** له أبو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د مؤذن له اذان وروسته دا دعا ووايي، (أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمدا عبده ورسوله، رضيت بالله ربا، وبمحمد رسولا، وبالإسلام دينا) ګناهونه به يې وبښل شي. [مسلم: ۳۸۶]

په غنيمت عمل

# ۹۰ غنيمت

**۳۱ - د لارې څخه ضرر رسوونکی شی لرې کول**

**فضيلت :** د ګناهونو بښنه.

**دليل :** له أبو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: يو سړی پر لار روان و، يوه خارداره څانګه يې لرې کړه، الله له ته يې دغه عمل خوښ شو، ګناهونه يې ورته وبښل . [البخاري: ٦٥٢، ومسلم: ١٩١٤]

په غنيمت عمل

# ۹۱ او ۹۲ غنيمتونه

**۳۲ او ۳۳ - د غصې زغمل او خلکو ته بښنه کول**

**فضيلت:** د ګناهونو بښنه.

**دليل:** ﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلْكَٰظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِ﴾ [آل عمران: ١٣٣ – ١٣٤]

او تاسو له یو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی، د پرهېزګارانو لپاره تیار کړی شوی دی، هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي او خلقو ته معافي کوونکي وي.

په غنیمت عمل

## ۹۳ غنیمت

### ۳٤ - اذان ویل

**فضیلت:** د ګناهونو بښنه.

**دلیل:** له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: مؤذن ته به د خپل آواز د رسیدو په اندازه بښنه کیږي. [دا حدیث نسائي په الکبری ١٦٢١ کې، او أمام أحمد ٧٧٢٦، او أبو داود ٥١٥ روایت کړی دی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۹۴ غنیمت

### ۳۵ - تږو حیواناتو ته اوبه ورکول

**فضیلت:** د ګناهونو بښنه.

**دلیل:** ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: یو سړی په لاره تږی شو، یوه یې ومونده، ورښکته شو، اوبه یې ترې وڅښلې، کله چې بیرته راپورته شو، یو سپی یې ولید چې ژبه یې تندې رابهر کړې، او لمدې ختې خوري، دې سړي وویل: څنګه چې زه تږی وم، دا هم داسې تږی دی، څاه ته ورښکته شو، خپله موزه یې له اوبو راډکه کړه، سپي ته یې اوبه ورکړې، الله پاک یې دا عمل قبول کړ، بښنه یې ورته وکړه. [البخاري: ۲۴۶٦، مسلم: ۲۲۴۴].

په غنیمت عمل

# ۹۵ غنیمت

## ۳٦ - د مړي له ماله ښخه صدقه ورکول

**فضیلت :** د ګناهونو ښننه.

**دلیل :** له ابو هریره رضي الله عنه ښخه روایت دی، چې یو سړی رسول الله ﷺ ته وویل: زما پلار وفات شوي، مال یې پرېښی خو وصیت یې نه دی کړی، که زه د دغه مال نه صدقه ورکړم، ترڅو ګناهونه یې وبښل شي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو. [مسلم: ١٦٣٠]

په غنیمت عمل

# ۹٦ غنیمت

## ۳۷ - د نادار سره زغم کول او د تاوان پر وخت نرمۍ ښودل

**فضیلت :** د ګناهونو ښننه

**دلیل :** له حذیفة رضی الله عنه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: یوه سړی وفات شو او جنت ته داخل شو. ورته وویل شول: تا څه عمل کووً؟ هغه وویل: ما به خلکو سره سوداګري کوله، نادار ته به مې مهلت ورکاوه، او په پیسو کې به مې آسانتیا کوله، نو الله ورته ښننه وکړه. [البخاري:٢٣٩١، مسلم: ١٥٦٠]

په غنیمت عمل

# ۹۷ غنیمت

## ۳۸ - د کعبې شریفي طواف

**فضیلت :** د ګناهونو ښننه

**دلیل:** له ابن عمر رضی الله عنهما روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د کعبې ښخه اوه طوافه وکړي، نو هر ګام چې پورته یا ښکته کوي، الله پرې یو ګناه وبخښي، یو نېکي ورته لیکي، او درجه یې لوړوي. [دا حدیث ابن حبان ٣٦٩٧ کې، او الترمذي (٩٥٩) روایت کړی دی، او البانی صحیح بللی]

# ٩٨ غنيمتونه

په غنيمت عمل

**٣٩ - د يماني او حجر اسود ركنونو لمس كول**

**فضيلت :** د گناهونو ببښنه

**دليل :** له ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دغو دوو ركنونو مسح كول د گناهونو كفاره ده. [دا حديث حاكم په المستدرك (١٨٠٥) كې، او ترمذي (٩٥٩) روايت كړی دی، او البانی صحيح بللی]

# ٩٩ غنيمتونه

په غنيمت عمل

**٤٠ – الله ته سجده كول**

**فضيلت :** د گناهونو ببښنه

**دليل :** له ثوبان رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زياتې سجدې كوه، ځكه هر ځل چې ته الله ته سجده كوې، الله ستا يوه درجه لوړوي او يوه گناه درنه ختموي. [مسلم: ٤٨٨]

# ١٠٠ غنيمتونه

په غنيمت عمل

**٤١ - د بازار ته د داخليدو په وخت كې (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحيي ويميت وهو حي لا يموت بيده الخير وهو على كل شيء قدير) دعا ويل**

**فضيلت:** د يو ميليون گناهونو محوه كوي.

**دليل:** له عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې بازار ته ننوځي او دا دعا ووايي، (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحيي ويميت وهو حي لا يموت بيده الخير وهو على كل شيء قدير) الله به ورته يو ميليون نېکۍ ليکي، يو ميليون ګناهونه به ورته ببښي، او جنت کې به ورته يو کور جوړوي. [دا حديث حاکم په المستدرك (۱۹۸۰) کې، او ترمذي (۳۴۲۸) روايت کړی دی، او الباني حسن بللي]

په غنيمت عمل

## ۱۰۱ غنيمت

### ۴۲ - د عرفې د ورځې روژه

**فضيلت :** د تېر کال او راتلونکي کال د ګناهونو ببښنه.

**دليل :** له ابوقتاده انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ د عرفې د ورځې د روژې په اړه وپوښتل شو، نو ويې فرمايل: په دې سره د تېر او راتلونکي کال ګناهونه بشل کيږي. [مسلم: ۱۱۶۲].

په غنيمت عمل

## ۱۰۲ غنيمت

### ۴۲ – د عاشورې د ورځې روژه نيول

**فضيلت:** د تېر کال د ګناهونو ببښنه.

**دليل :** له ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د الله څخه دا اميد لرم چې د عاشورې ورځې په روژې سره به د تير کال ګناهونه وبښي. [مسلم: ۱۱۶۲].

په غنيمت عمل

## ۱۰۳ غنيمت

### ۴۴ - له عمرې تر بلې عمرې پورې سفر

**فضيلت:** د دواړو عمرې ترمنځ د شوو گناهونو ببښنه.

**دليل:** له ابوهريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: له يوې عمرې تر بلې پورې عمره د منځگړيو گناهونو كفاره ده. [البخاري: ۱۷۷۳، مسلم: ۱۳۴۹].

په غنيمت عمل

## ۱۰۴ غنيمت

### ۴۵ - ۱۰۰ ځله د (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير) ذكر ويل

**فضيلت** : ۱۰۰ گناهونه محوه كوي، او له شيطان څخه ساتنه ده.

**دليل:** له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خوك چې (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير) دا ذكر ۱۰۰ ځله ووايي، د لسو غلامانو د آزادولو ثواب به ترلاسه كړي، ۱۰۰ ښېگڼي به ورته وليكل شي، ۱۰۰ بدی به ترې محوه كړی شي، او په همدغه ورځ به تر شپې پورې له شيطانه خوندي وي. [البخاري: ۲۳۹۳، مسلم: ۲٦۹۱]

په غنيمت عمل

## ١٠٥ غنيمت

**٤٦ - د سهار د لمانځه وروسته، د تشهد په خیر د ناستي په دول د خبرو مخکي** (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحيي ويميت بيده الخير وهو على كل شيء قدير) **١٠ځله ویلو فضیلت**

**فضیلت:** لس ګناهونه به يې محوه شي، له شرک پرته به له نورو ګناهونو او شیطان څخه خوندي وي.

**دلیل:** له ابوذر رضي الله عنه روایت دی چي نبي ﷺ وفرمایل: څوک چي د سهار د لمانځه وروسته د تشهد په حالت ناست وي، او له خبرو مخکي (لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحيي ويميت بيده الخير وهو على كل شيء قدير) لس ځله دا ذکر ووايي، نو د هرې وينا په بدل کي به الله ورته يوه نيکي وليکي، يوه ګناه به يې وبښي، يوه درجه به يې لوړوي، په همدغه ورځ به له هر مصيبت او شیطان څخه خوندي وي، او په دغه ورځ به له شرک پرته ګناهونو څخه وژغورل شي. [دا حدیث ترمذي (٣٤٧٣) او نسائي په الکبرى (٩٨٧٨)کي روایت کړی، او الباني حسن بللي]

په غنيمت عمل

## ١٠٦ غنيمت

**٤٧ - له مجلسه د پاڅېدو پر مهال** (سبحانك اللهم وبحمدك، اشهد أن لا إله إلا أنت، أستغفرك وأتوبك إليك) **ویل**

**فضیلت :** په مجلس کي د شوي لغوي ببنل.

**دلیل:** له ابوهريره رضي الله عنه نه روایت دی چي نبي ﷺ وفرمایل: څوک چي په داسي يو مجلس کي کيناست چي هلته خبري ډيري وي، د دغي مجلس څخه د پاڅيدو د مخه (سبحانك اللهم وبحمدك، أشهد أن لا إله إلا أنت، أستغفرك وأتوب إليك) دعا ووايي، هغه ته به د دغه مجلس ګناهونه وبښل شي. [دا حدیث ترمذي (٣٤٣٣) او نسائي په الکبرى (١٠١٥٧) کي، او أحمد (١٠٥٥٩) روایت کړی دی، ابن العربی او الباني صحیح بللي]

## ۱۰۷ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۴۸ - پر الله توکل کول

**فضیلت :** له شیطاني تسلطه خوندي کېدل.

**دلیل:** ﴿إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾ [النحل: ۹۹]

ببېشکه دا، نشته ده ته هېڅ غلبه په هغو کسانو باندې چې ایمان یې راوړی دی او چې خاص په خپل رب باندې هغوی توکل کوي.

## ۱۰۸ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۴۹ - د خوب پر مهال د آیة الکرسي تلاوت

**فضیلت:** شیطان به تر سهاره نه ورنژدې کېږي.

**دلیل:** له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې نبي ﷺ وفرمایل: کله چې د خپل خوب ځای ته ولاړ شې، آیة الکرسي ولوله، نو الله به دې حفاظت وکړي، او شیطان به نه درنژدې کېږي تر هغې چې سهار شي. [البخاري: ۳۲۷۵]

په غنیمت عمل

## ۱۰۹ غنیمت

### ۵۰ - د جماع کولو پر وخت (بسم الله اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان ما رزقتنا) دعا ویل

**فضیلت:** بچیان به یې له شیطانه خوندي وي.

**دلیل:** له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دی چې نبي ﷺ وفرمایل: که څوک د جماع لپاره خپل اهل ته راشي، بیا ووایي: (بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا)، که د دغې جماع څخه الله دي ته د بچې پیدائښت لیکلی وي، نو شیطان به هېڅ زیان ورته ونه رسوي.

[البخاري: ٦٣٨٨، مسلم: ۱۴۳۴]

په غنیمت عمل

## ۱۱۰ او ۱۱۱ غنیمتونه

### ۵۱ - د یتیم سر مسح کول
### ۵۲ - مسکین ته خواړه ورکول

**فضیلت:** زړه ته نرموالی راولي، او سختي یې له مینځه وړي.

**دلیل:** له ابوهریره رضي الله عنه روایت دی چې یو سړی نبي ﷺ ته د زړه سختوالي شکایت وکړ، نو هغه ورته وفرمایل: د یتیم پر سر لاس کش کړه او مسکین ته خواړه ورکړه.

[دا حدیث أحمد (۹۱۴۰) روایت کړی، منذري او الباني وايي: راویان یې د بخاری دي.

# ١١٢ غنيمت

په غنيمت عمل

## ٥٣ - د شپې لمونځ کې لس آیتونه تلاوت کول

**فضیلت:** له غافلانو څخه به نه لیکل کیږي.

**دلیل:** له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې لس آیتونه د شپې لمونځ (تهجد) کې ولولي، دغه تن به له غافلانو نه حسابیږي.

[أبو داود: ١٣٩٨]

# دويم فصل
# هغه غنيمتونه چې تر مرګ وروسته ناخوښي پاکوي
# (١٧ غنيمتونه )

په غنيمت عمل

# ۱۱۳ غنيمت

## ۱- د الله خخه ويريدل او خپل ځان اصلاح کول

**فضيلت:** د اور څخه بچاو، د ويرې او خفګان سره نه مخ کيدل.

**دليل:** ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ * فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ * يَلْبَسُونَ مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَقَابِلِينَ * كَذَلِكَ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ * يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ * لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَى وَوَقَاهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ * فَضْلًا مِنْ رَبِّكَ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ [دخان: ۵۱-۵۷]

بېشکه متقيان به په امن ناکه ځای کې وي، په جنتونو کې، دوی به له نريو وريښمو او پېړو وريښمو جامې اغوندي، په داسې حال کې چې سره مخامخ به ناست وي، همداسې به وي- او مونږ به دوی د غټ سترګو سپينو سرو حورو سره ملګري کړو دوی به په دغو جنتونو کې هر قسمه مېوې راغواړي، په داسې حال کې چې په امن به وي، دوی به په دغو کې مرګ نه څکي- غير له ړومبني مرګ نه (چې په دنيا کې تېر شوی دی) او دوی به (الله) د دوزخ له عذاب نه بچ وساتي، د خپل رب د فضل په وجه، هم دغه ډېره لويه کاميابي ده.

﴿وَيُنَجِّي اللَّهُ الَّذِينَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ [زمر: ۶۱]

او الله به هغو کسانو ته چې ځان يې (له شرک نه) بچ ساتلی دی، د خپلې کاميابۍ (او فلاح) په وجه نجات ورکړي، په داسې حال کې چې دوی ته به نه سختي رسېږي او نه به دوی غمجن کېږي.

﴿ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾ [مريم: ۷۲]

بيا به مونږ هغو کسانو ته نجات ورکړو چې پرهېزګاري يې کړې ده او ظالمان (کافران) به په دغه (دوزخ) کې په ګونډو پراته پرېږدو.

﴿فَمَنِ اتَّقَى وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ [اعراف: ۳۵]

نو هغه څوك چې پرهېزګاره شو او د ځان اصلاح يې وکړه، نو په دوی باندې به نه څه وېره وي او نه به دوی غمجن کېږي.

﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ * الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ﴾ [يونس: ٦٢-٦٣]

اگاه شئ! بېشکه د الله دوستان چې دي؛ پر هغوی باندې نه څه وېره شته او نه دوی غمژن کېږي، هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او ځان (له نافرمانيو) ساتي.

په غنيمت عمل

## ۱۱۴ غنيمت

### ۲- د الله په لاره کې يوه ورځ روژه نيول

**فضيلت:** د جهنم د اور څخه ددې انسان ساتنه، او اويا کاله ددې انسان مخ د اور څخه لرې ساتل.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: روژه يو ډال دی، او د جهنم څخه د بچاو او ساتنې پياوړې کلا ده.

[دا حديث احمد (۹۳۴۸) او نسائی په الکبری (۲۵۴۹) کې روايت کړی دی، سيوطي او ارناؤوط صحيح بللی]

ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي، چې ما د رسول الله ﷺ واورېدل چې ويل يې: څوک چې د الله په لاره کې يوه ورځ روژه شي، الله به يې مخ د جهنم څخه اويا کاله لرې وساتي. [مسلم: ۱۱۵۳]

په غنيمت عمل

## ۱۱۵ غنيمت

### ۳- څلوېښت ورځې د تکبير اولی لمونځ ادا کول

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** انس بن مالک رضي الله عنه روايت کوي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې څلوېښت ورځې د الله د رضا لپاره په تکبير اولی سره لمونځ وکړي، د دې لپاره به دوه برائتونه وليکل شي: يو براءت د جهنم څخه، او بل براءت د منافقت څخه.

[دا حديث ترمذی (۲۴۱) روايت کړی دی، او البانی صحيح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۱٦ غنیمت

**۴- د ماسپښين له لمانځه مخکې او وروسته د څلورو رکعاتو په کولو پابندي**

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** ام حبيبې رضي الله عنها چې د رسول الله ﷺ ميرمن ده، وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د ماسپښين د لمانځه مخکې څلور رکعاته او وروسته څلور رکعاته کولو باندې پابندي کوي، هغه تن به په اور (جهنم) حرام وي.

[دا حديث ابو داود (۱۲٦۹)، ترمذی (۴۲۸)، نسائی په الکبری (۱۴۸٦) او ابن ماجه (۱۱٦۰) روايت کړی دی، او البانی صحيح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۱۷ غنیمت

**۵ – صدقه کول، که څه هم د خرما د ټوټې په اندازه وي**

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** عدي بن حاتم رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: له دوزخ نه ځان وژغورئ، که څه هم د يوې خرما د نيمايي ټوټې په صدقه کولو سره ولې وي. [البخاري: ٦۵۳۹، مسلم: ۱۰۱٦]

په غنیمت عمل

## ۱۱۸ غنیمت

**٦ - د الله په لاره کې پښې په خاور ککړيدل، او د ګرد بويول**

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** له عبس رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د چا قدمونه چې په خاورو ککړې شي، الله به يې د جهنم په اور حرامې کړي.

[دا حديث ترمذي (۱٦۳۲) روايت کړی دی، او ابن العربي او الباني صحيح بللی]

عائشه رضي الله عنها روايت کوي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې فرمایل یې: د الله په لاره کې چې د کوم مسلمان زړه ته ګرد ورسید، الله به یې د جهنم به اور حرام کړي.

[دا حدیث امام احمد (۲۵۱۸۷) روایت کړی دی، او البانی صحیح بللی]

ابو هريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د الله په لاره کې ګرد، او د جهنم لوګی هيڅ وخت د يو مسلمان په پوزه کې نه رايوځای کيږي.

[دا حدیث نسائي په الکبری (٤٣٠٦) کې روایت کړی دی، او الباني صحیح بللي]

په غنيمت عمل

## ۱۱۹ غنیمت

### ۷ -د الله ذکر

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** معاذ بن جبل رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت رانقلوي چې فرمايلي يې دي: د الله د عذاب څخه د ذکر په څير ښه خلاصونکی عمل بل نشته.

رواه أحمد (٢٢٥٠٤) وصححه السيوطي والألباني.

په غنيمت عمل

## ۱۲۰ غنیمت

### ۸ -د لوږو پر پيدائښت صبر کول، هغوی ته خواږه، ښناک، لباس ورکول او له هغوی سره ښه سلوک کول

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** عن عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: که چا ته الله لورګاني ورکړې، ښه يې ورسره وکړل، لورګاني به ورته د جهنم د اور څخه پرده شي.

[مسلم: ٢٦٢٩، البخاري: ١٤١٨]

عقبه بن عامر رضي الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې ويل يې: چا ته چې الله درې لونه ورکړي، په هغې صبر وکړي، د خپل توان برابر خوراک، څښاک او لباس ورکړي، د قيامت په ورځ به يې دا لونه د جهنم د اور څخه پرده شي.

[دا حديث ابن ماجه (٣٦٦٩) او أحمد (١٧٦٧٥) روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ١٢١ غنيمت

### ٩- د الله له وېرې څخه ژړل

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** أبو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هغه کس به جهنم ته نه ځي چا چې د الله له ويرې څخه ژړلې وي، تر هغې چې شيدې بيرته غولانځې ته داخل نه کړی شي.

[دا حديث نسائي په الکبرى (٤٣٠١) کې روايت کړی، ابن العربي او الباني صحيح بللی]

انس بن مالک رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هغه دوه سترګو ته به هيڅ وخت اور ونه رسيږي: هغه سترګه چې د الله له ويرې څخه يې ژړلي وي.

[دا حديث أبو يعلى په خپل مسند (٤٣٤٦) کې روايت کړي، سيوطي او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ١٢٢ غنيمت

### ١٠ – نرم خويه، باوقاره او د خلکو سره نږدې پاتې کيدل

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هغه څوک چې نرم خويه، با وقاره او د خلکو سره نږدې وي، الله به يې د جهنم په اور حرام وګرځوي.

[دا حديث حاکم په المستدرک (٤٣٤) کې روايت کړی، سيوطي او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۱۲۳ غنيمت

### ۱۱ - د مسلمان د آبرو دفاع کول کله چې هغه غايب وي

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** أسماء بنت يزيد رضي الله عنها روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د خپل ورور په غياب کې د هغه د آبرو دفاع وکړي، پر الله لازمه ده چې هغه له د جهنم له اور څخه آزاد کړي.

[دا حديث امام أحمد (۲۸۲۵۷) روايت کړی دی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۱۲۴ غنيمت

### ۱۲ - د الله په لاره کې د شپې پيره (حراست) کول

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** ابن عباس رضی الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې ويل يې: دوه سترګو ته به اور د جهنم ونه رسيږي، يوه هغه سترګه چې د الله له ويرې يې ژړلي وي، او بله هغه چې د الله په لاره کې يې پيره يعني حراست کړی وي.

[دا حديث ترمذي (۱٦۳۹) روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۱۲۵ غنيمت

### ۱۳ – په روژه کې د شپې او ورځې نيک عمل کول

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بېشکه الله (په رمضان) کې د شپې او ورځې بندګان د جهنم له اوره خلاصوي.

[دا حديث امام احمد (۷۵٦۷) روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ١٢٦ غنيمت

### ١٤ – غوسه قابو کول

**فضيلت:** د جهنم څخه د اور څخه ژغورنه.

**دليل:** انس بن مالک رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک خپله غوسه قابو کړي، الله به يې د عذاب څخه وژغوري. [دا حديث الضياء المقدسي په المختارة (٢٠٦٦) کې روايت کړی، اوالباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ١٢٧ غنيمت

### ١٥ - درې ځله له دوزخ نه پناه غوښتل

**فضيلت:** دوزخ د هغه کس لپاره د نجات دعا کوي.

**دليل:** انس بن مالک رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې درې ځله له دوزخ نه پناه وغواړي، دوزخ وايي: اې الله ته يې د اور څخه وژغورې. [دا حديث ترمذي (٢٥٧٢)، نسائي په الکبری (٧٩٠٧)، ابن ماجه (٤٣٤٠)، أحمد (١٢٣٥٣) روايت کړی دی، ابن حبان (١٠٣٤)، سيوطي او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ١٢٨ غنيمت

### ١٦ - د الله په لاره کې د رباط په حالت مرگ

**فضيلت:** د قبر د عذاب څخه خلاصون.

**دليل:** فضاله بن عبيد رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر انسان چې مړ شي عمل يې ختم شي، يوازې د الله په لاره کې مرابط دی

چې د قيامت تر ورځې پورې به يې عمل زياتيږي، او د قبر د عذاب څخه به خلاص وي. [دا حديث ابو داود (٢٥٠٠)، ترمذي (١٦٢١)، احمد (٢٤٥٨٤) روايت کړی دی، ابن العربي او الباني صحيح بللی]

سلمان رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل، چې ويل يې: که مرابط مړ شي، هغه ته به د هغه عمل ثواب جاري ورکول کيږي چې په ژوند کې کول، رزق به يې جاري وي، او د قبر د ملائکو څخه به په امان کې وي. [مسلم: ١٩١٣]

سلمان فارسي رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې ويل يې: څوک چې د باط په حالت کې مړ شي، د قبر له عذابه به په امن وي. [دا حديث ترمذي (١٦٦٥) روايت کړی دی، اوالباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ١٢٩ غنيمت

### ١٧ – د يو مسلمان څخه تکليف لرې کول

**فضيلت :** د قيامت په ورځ به الله ترې تکليف لرې کړي.

**دليل:** عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې د يو مسلمان څه تکليف لرې کړ، الله پاک به د دغه انسان څخه په ورځ د قيامت تکليف لرې کړي.

[البخاري: (٢٤٤٢)، مسلم: (٢٥٨٠)، د حديث الفاظ د مسلم دي]

# دريم فصل

# هغه غنيمتونه چې د دنيا ناخوښي له منځه وړي

# (٢١) غنيمتونه

به غنیمت عمل

# ۱۳۰ غنیمت

**۱ -د کور څخه د وتلو پر مهال (بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ) ویل**

**فضیلت:** د الله له خوا ساتنه او د هغه له خوا اړین کارونو ته کفایت.

**دلیل:** انس بن مالک رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې یو سړی خپل کور څخه ووځي او ووایي: بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، نو په دې وخت کې به ورته وویل شي: ته لارښوونه شوی، کفایت شوی او د ساتنې لاندې یې. وروسته شیطانونه ترې لیرې شي او یو بل شیطان به ووایي: څنګه کولی شو داسې سړي ته زیان ورسولو، چې لارښوونه شوې، کفایت شوی او د ساتنې لاندې دی؟»

[دا حدیث ابو داود (۵۰۹۵) نسائي په الکبری (۹۸۳۷) کې روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

به غنیمت عمل

# ۱۳۱ غنیمت

**۲ -د (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَ الْمُعَوِّذَتَيْنِ) درې ځله لوستل د سهار او ماښام پر مهال**

**فضیلت:** د الله له خوا ساتنه.

**دلیل:** عبد الله بن خبب رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې د ماښام او سهار پر مهال (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَ الْمُعَوِّذَتَيْنِ) درې ځله ووایې، نو دا به له هر څه څخه د هغه ساتنه وکړي.

[دا حدیث ابو داود (۵۰۸۲) روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۳۲ غنیمت

۳ -د (بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ) درې ځله لوستل د سهار او ماښام پر مهال

**فضیلت:** د الله له خوا ساتنه.

**دلیل:** عثمان بن عفان رضی الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: هر بنده چې هره ورځ سهار او ماښام کې (بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ) درې ځله ووايي، نو هيڅ شی به هغه ته زیان ونه رسوي.

[دا حدیث ترمذي (۳۳۸۸) نسائي په الکبری (۱۰۱۰۶) ابن ماجه (۳۸۶۹) روایت کړی، او البانی صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۳۳ غنیمت

۴ - د آیت الکرسي لوستل د خوب پر مهال

**فضیلت:** د الله له خوا ساتنه.

**دلیل:** ابو هریره رضی الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: آیت الکرسي (اللَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ) تر اخره پورې ولوستل، نو به یقین سره چې د الله ساتنه به پرې وي، او هيڅ شیطان به يې نه نږدې شي تر هغې چې سهار شي.

[البخاري۲۳۱۱]

په غنیمت عمل

## ۱۳۴ غنیمت

٥ -د غم او خپګان پر مهال وینا: (اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ نَاصِيَتِي بِيَدِكَ...)

**فضل**: د غم او خپګان له منځه تلل او د خوشحالۍ ځای ورکول.

**دلیل**: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ چا چې هیڅ کله د غم او خپګان سره مخ شي او دا ووایي: "اللهم إني عبدك وابن عبدك وابن امتك ناصيتي بيدك ماض في حكمك عدل في قضاؤك، أسألك بكل اسم هو لك سميت به نفسك، أو علمته أحدا من خلقك، أو أنزلته في كتابك، او استأثرت به في علم الغيب عندك أن تجعل القرآن ربيع قلبي ونور صدري وجلاء حزني وذهاب همي" نو الله به د هغه غم او خپګان له منځه یوسي، او هغه ته به خوشحالي ورکوي، یو چا وویل اې د الله رسوله، آیا د نورو ته ونه رسوو؟ هغه وفرمایل: ولې نه، هر څوک چې واوري پکار ده چې دا زده کړي.

[دا حدیث امام احمد (۳۷۸۸) ابن حبان (۹۷۲) روایت کړی دی، او الباني صحیح بللي]

په غنیمت عمل

## ۱۳۵ غنیمت

٦ -د فجر لمونځ وروسته د خپلې ناستې د بدلون مخکې (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) لس ځله ویل

**فضیلت**: د هر ډول ناخوالو څخه ساتنه.

**دلیل**: ابو ذر رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: هر څوک چې د فجر لمونځ وروسته د خپلې ناستې د بدلون څخه مخکې دغه کلمات لس ځله ووایي:

(لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) نو لس نیکۍ به یې ولیکل شي، او لس گناهونه به یې معاف شي، او لس درجې به لوړې شي، د دغې ورځې په اوږدو کې به له هر ډول بدیو څخه محفوظ شي.

[دا حدیث ترمذي (۳۴۷۴) نسائي په الکبری (۹۸۷۸) کې روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۳٦ غنیمت

### ۷ - په الله توکل کول

**فضیلت:** د هر څه لپاره کفایت.

**دلیل :** (وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ)"

[الطلاق: ۳]

او هغه څوك چې په الله باندې توکل وکړي، نو همدی د ده لپاره بس (او کافی) دی.

په غنیمت عمل

## ۱۳۷ غنیمت

### ۸ -د آزموینې پر مهال ویناء: (الْحمدُ للَّه الَّذي عَافَاني مِمَّا ابْتَلَاهُ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَىٰ كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا)

**فضیلت:** د مصیبت څخه ساتنه.

**دلیل:** عمر بن الخطاب رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ څوك چې د آزمایښت سره مخ شي او دا ووایي: (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذي عَافَاني...)، نو هغه ته به د هغه آزموینې زیان ونه رسیږي». (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَاني مِمَّا ابْتَلَاهُ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلاً) هرنگه مصیبت چې وي دې انسان ته به ونه رسیږي.

[دا حدیث ترمذي (۳٤۳۱) ابو داود (۱۳) روایت کړی، الباني صحیح بللي]

په غنیمت عمل

## ۱۳۸ غنیمت

### ۹ -د داسې دعا کول چې نه په کې ګناه وي نه د خپلولۍ پریکون

**فضیلت:** څه چې پریشانه کړی وي، الله به یې لرې کړي.

**دلیل:** ابو سعید رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم مسلمان چې داسې دعا وغواړي چې ګناه او د خپلوۍ پریکون په کې نه وي، الله به ورته په دې دعا یو د درې شیانو څخه ورکړي: یا به یې سمدواره دعا قبوله کړي، یا به یې ورله اخرت ته ذخیره کړي، او یا به یې د تکلیف او مصیبت څخه وژغوري، صحابو وویل: نو باید چې بیا ډېرې دعاګانې وغواړو، الله هغومره ډیر ورکوونکي دي.

[دا حدیث امام احمد (۱۱۳۰۲) روایت کړی، الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۳۹ غنیمت

### ۱۰ -هرې دعا کې په رسول الله ﷺ درود ویل

**فضیلت:** څه چې پریشانه کړی وي، الله به یې لرې کړي.

**دلیل:** ابی بن کعب رضی الله عنه وایي: زه خپلې ټولې دعاګانې ستا لپاره ځانګړې کوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: له دې امله به یې پریشانۍ له مینځه لاړې شي، او ګناهونه به دې معاف شي.

[دا حدیث ترمذي (۲۴۵۷) روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۴۰ غنيمت

**۱۱ - (حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ) اوه ځله سهار او ماښام ويل**

**فضيلت:** څه چې پريشانه کړې وي، الله به يې لرې کړي.

**دليل:** ابو درداء رضى الله عنه وايي: ځوک چې سهار او ماښام دا ووايي: حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ اوه ځله، څه پريشانۍ چې لري، الله به يې ترې لرې کړي.

[دا حديث ابو داود (۵۰۸۱) روايت کړی، أرناؤوط صحيح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۴۱ غنيمت

**۱۲ - د سورة البقره وروستي دوې آيتونه د درې شپې په کور کې لوستل**

**فضيلت:** څه چې پريشانه کړې وي، الله به يې لرې کړي، او شيطان به يې کورته نه شي نږدې کيدی.

**دليل:** ابو مسعود انصاري رضى الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ځوک چې د سورة البقرې وروستي دوه آيتونه د شپې ولولي، له هر څه نه ورته دا کفايت کوي. [مسلم ۸۰۸]

نعمان بن بشير رضى الله عنه وايي: الله پآک د اسمانونو او ځمکو له پيدايښت څخه دوه زره کاله د وړاندې يو کتاب ليکلی، له هغې دوه اياتونه نازل کړي دي، چې هغه د سورت البقرې آخرې دوه اياتونه دی، په کوم کور کې درې شپې ولوستل شي، شيطان به ورنږدې نه شي.

[دا حديث ترمذي (۳۱۳۶) روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۴۲ غنیمت

### ۱۳ – تقوی د الله څخه ویره کول

**فضیلت:** د غمونو لرې کیدل او د دښمنانو د مکر څخه ساتنه.

**دلیل:** ﴿وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ﴾ [فصلت: ۱۸].

او مونږ هغو کسانو ته نجات ورکړ چې ایمان یې راوړی و او پرهېزګاري به یې کوله.

﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا﴾ [الطلاق: ۲].

او هغه څوك چې له الله نه ووېرېږي، (نو) هغه به د ده لپاره د وتلو څه ځای پیدا کړي.

﴿وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا﴾ [آل عمران: ۱۲۰].

او که تاسو صبر وکړئ او (د دوی له دوستی نه) ځان وساتئ (نو) د هغوی حل (او فریب) به تاسو ته هېڅ ضرر هم در ونه رسولی شي.

په غنیمت عمل

## ۱۴۳ غنیمت

### ۱۴ – په استغفارو پابندي

**فضیلت:** د غمونو لرې کول.

**دلیل:** ابن عباس رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په استغفارو پابندي وکړي، الله به هغه ته د هر ډول سختی څخه د خلاصون لاره ورکړي، او د هر ډول غم نه به هغه ته خوشحالي ورکړي.

[دا حدیث ابو داود (۱۵۱۳) نسائي په الکبری (۱۰۲۱۷) وابن ماجه (۳۸۱۹) روایت کړی دی، عبد الحق الإشبيلي او ابن باز صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۴۴ غنیمت

### ۱۵ - د ضحیٰ څلور رکعات لمونځ کول

**فضیلت:** د ټولې ورځې بسنه ترې کوي.

**دلیل:** ابو درداء او ابو ذر رضی الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل چې الله تعالی فرمایلي دي: اې د آدم زویه! د ورځې په پیل کې زما لپاره څلور رکعاته لمونځ وکړه، زه به يې تر ښپې پورې له تا څخه کافي کړم.

[دا حدیث ترمذي (۴۷۵) روایت کړی دی، الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۴۵ غنیمت

### ۱۶ - د حج او عمرې ترمنځ تعقیب

**فضیلت:** فقر لرې کول.

**دلیل:** عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل:

تاسو حج او عمرې بار بار کوئ، ځکه چې دا دواړه فقر او ګناه داسې له

مینځه وړي، لکه څنګه چې بنې د اوسپنې، د سپینو او سرو زرو خخه ګندګي له مینځه وړي.

[دا حدیث امام احمد (۳۷۴۳) ترمذي (۸۱۰) نسائي په الکبری (۳۵۹۷) کې روایت کړی، احمد شاکر صحیح بللي]

په غنیمت عمل

۱۴۶ غنیمت

**۱۷ – صبر**

**فضیلت:** د دښمنانو د مکر نه ساتنه.

**دلیل:** ﴿وَإِن تَصۡبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ لَا یَضُرُّكُمۡ كَیۡدُهُمۡ شَیۡـًٔاۗ﴾ [آل عمران: ۱۲۰].

او که تاسو صبر وکړئ او (د دوی له دوستی نه) ځان وساتئ (نو) د هغوی چل (او فریب) به تاسو ته هیڅ ضرر هم در ونه رسولی شي.

په غنیمت عمل

۱۴۷ غنیمت

**۱۸ - د سورة البقرې لوستل**

**فضیلت:** د جادوګرو خخه ساتنه.

**دلیل:** ابو امامه باهلي رضی الله عنه وایي: ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل: سورة البقره ولولئ، ځکه چې د هغي زده کول برکت دی او پرېښودل یې پښیمانتیا ده، او هغه جادوګر نه شي زغملای.

[مسلم ۸۰۴]

په غنیمت عمل

# ۱۴۸ غنیمت

**۱۹ – په خوب کې د ناخوښه څه د لیدو پرمهال: درې ځله کیڼ لورې ته د تف د لاړې تف کول، بیا درې ځلې اعوذ بالله ویل، په بله ډډه سملاستل**

**فضیلت:** د ناوړه خوبونو نه ساتنه.

**دلیل:** ابو قتاده رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: که څوک په خوب کې ناخوښ څه ووینې؛ نو کیڼ لورې ته درې ځلې لاړې تف کړې، اعوذ بالله دې ووایي، دا خوب ورته بیا زیان نه رسوي.

[البخاري (٦٩٩٥) ومسلم ٢٢٦١]

جابر رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: که په تاسو کې چا ناخوښه خوب ولید؛ نو کیڼ لورې ته درې لاړې تف کړې، اعوذ بالله دې ووایي، په کومه ډډه چې پروت و، هغې ته دې بدلون ورکړي.

[البخاري (٧٠٠٥) ومسلم (٢٢٦٢)، الفاظ ی مسلم دي]

په غنیمت عمل

# ۱۴۹ غنیمت

**۲۰ – په خوب کې د ویریدو پر وخت دعا (أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ)**

**فضیلت:** د ناوړه خوبونو څخه ساتنه.

**دلیل:** عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې څوک په وخت کې وویریږي، دا دعا دې ووایي: (أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ) هیڅ زیان به ورته ونه رسیږي.

[دا حدیث نسائي په الکبری (١٠٥٣٣) ابو داود (٣٨٩٣) ترمذي (٣٥٢٨) روایت کړی دی، منذري وایي: دا حدیث صحیح یا حسن او دې ته نږدې دی]

پـه غنيمت عمل

# ۱۵۰ غنيمت

**۲۱ - د سورة كهف د لومړيو لسو آيتونو حفظ كول**

**فضيلت:** د دجال څخه ساتنه.

**دليل:** ابو درداء رضى الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ځوک چې د کهف سورت لومړي لس آيتونه حفظ کړي، هغه به د دجال د فتنې څخه بچ وساتل شي .[مسلم ۸۰۹]

# دريم باب: غنيمتونه چې د دنيا او آخرت لپاره مطلوب ترلاسه کوي

**۲۱۰ غنيمتونه**

## دا شپږ فصلونه لري:

**لومړی فصل :** هغه غنيمتونه چې د دين په اړه مطلوب پرې ترلاسه کيږي (۵)
**دويم فصل :** هغه غنيمتونه چې د عمل په اړه مطلوب پرې ترلاسه کيږي(۱۴)
**دريم فصل :** هغه غنيمتونه چې د آخرت په اړه مطلوب پرې ترلاسه کيږي (۱۴٦)
**څلورم فصل :** هغه غنيمتونه چې د نفس په اړه مطلوب پرې ترلاسه کيږي(۳۱)
**پنځم فصل :** هغه غنيمتونه چې د دنيا په اړه مطلوب پرې ترلاسه کيږي (۱۰)
**شپږم فصل :** هغه غنيمتونه چې د شاوخوا کسانو په اړه مطلوب پرې ترلاسه کيږي (۴)

# لومړی فصل

# هغه غنيمتونه چې ديني مقصد پرې ترلاسه کيږي

# (۵) غنيمتونه

پە غنیمت عمل

## ١٥١ غنیمت

### ١ – پە الله ښه ګومان کول

**فضیلت:** الله هغه څه کوي چې ته يې پە اړه ګومان لرې.

**دلیل:** ابو هريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

الله فرمايلي دي: زه د خپل بنده د ګومان سره سم يم.

[البخاري: (٧٤٠٥)، مسلم : ٢٦٧٥]

پە غنیمت عمل

## ١٥٢ غنیمت

### ٢ - د سهار دوه كعتونه

**فضیلت:** د دنيا او څه چې پە دنيا کې دي، لە هغې غوره دي.

**دلیل:** عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د سهار دوه ركعاته لمونځ د دنيا او هغه څه چې پە دنيا کې دي، لە هغې غوره دي. [مسلم: ٧٢٥]

پە غنیمت عمل

## ١٥٣ غنیمت

### ٣ – تقوی او د الله څخه ویره کول

**فضیلت:** تقوی د حق او باطل تر منځ بيلوونکې ده، او پە دې سره الله رضا كيږي.

**دلیل:** ﴿يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا﴾ [الأنفال: ٢٩].

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى! كه چېرې تاسو لە الله نه ووېرېږئ، هغه بە تاسو لپاره فرقان (د حق او باطل پە مينځ کې فرق كوونكى) مقرر كړي

﴿يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَآمِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ وَيَجْعَل لَكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِ﴾ [الحديد: ٢٨].

**اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو له الله نه ووېرېږئ او د هغه په رسول ايمان راوړئ هغه (الله) به تاسو ته له خپل رحمت نه دوه حصې دركړي او تاسو لپاره به رڼا پيدا كړي چې تاسو به له هغې سره (په پل صراط) ځئ .**

﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى * وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى * فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى﴾ [الليل: ٥-٧].

**نو هر چې هغه څوك دى چې وركړه كوي او وېرېږي، او د ډېرې ښكلې كلمې تصديق كوي، نو مونږ به ضرور ده ته د اساني لارې اسانتيا وركړو.**

په غنيمت عمل

## ۱۵۴ غنيمت

### ۴ - صدقه وركول

**فضيلت: دا هغه عمل چې الله پرې رضا كيږي.**

**دليل:** ﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى * وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى * فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى﴾ [الليل: ٥-٧].

**نو هر چې هغه څوك دى چې وركړه كوي او وېرېږي، او د ډېرې ښكلې كلمې تصديق كوي، نو مونږ به ضرور ده ته د اساني لارې اسانتيا وركړو.**

په غنیمت عمل

# ۱۵۵ غنیمت

**۵ - د کور څخه د وتلو پر وخت (بِاسْمِ اللهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، لَا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ) دعا ویل**

**فضیلت:** دا هغه عمل دی چې الله پرې رضا کیږي.

**دلیل:** انس بن مالک رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: کله چې یو سړی له خپل کور څخه وځي او دا دعا ووایي: بِاسْمِ اللَّهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، لَا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، نو ورته ویل کیږي: ته په سمې لار شوې، الله دې پوره دی او ته محفوظ شوې، شیطان یې له مخې لرې شي، بل شیطان به ووایي: هغه سړی چې هدایت ورته وشو، الله کافي شو او محفوظ کړل ش، څنګه به ورته زیان ورسوې؟

[دا حدیث ابو داود (۵۰۹۵)، نسائي په الکبری (۹۸۳۷) کې روایت کړی، اوالباني صحیح بللی]

# دویم فصل

# هغه غنیمتونه چې د عمل له لارې پرې هدف ترلاسه کیږي

# (۱۴) غنیمتونه

په غنيمت عمل

## ١٥٦ غنيمت

### ١- تقویٰ او د الله څخه ويره كول

**فضيلت:** الله ته په ټولو کې محبوب عمل دی، د عمل د اصلاح او قبولی سبب هم دی.

**دليل:** ﴿ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى ﴾ [البقرة : ١٩٧]

اوتوښه واخلئ، پس يقيناً بهترينه توښه تقویٰ ده

﴿ يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا * يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَلَكُمْ ﴾ [الأحزاب : ٧٠-٧١]

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او خبره کوئ ډېره سمه (درسته) خبره، هغه به تاسو ته ستاسو عملونه درست (او صالح کړي.

﴿إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ﴾ [المائدة : ٢٧]

بيشكه همدا خبره ده چې الله له پرهيزگارانو څخه (قرباني) قبلوي

په غنيمت عمل

## ١٥٧-١٦٠ غنيمت

### ٢-٥- مسلمان خوشحالول، تكليف ترې لرې کول، پور يې پريکول، او د لوږې څخه خلاصون ورکول

**فضيلت:** الله په ټولو کې خوښ عمل دی.

**دليل:** ابن عمر رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

تر ټولو خوښ عمل الله ته، هغه د يو مسلمان خوشالول دي، يا تكليف ترې لرې کول دي، يا پور يې پريکول دي، او يا د ولږې څخه يې خلاصول دي.

[دا حديث طبراني په الکبير (١٣٦٤٦) کې روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱٦۱ غنیمت

### ٦- د ذوالحجې په لومړۍ لسیزه کې نېک عمل

**فضیلت:** الله ته په ټولو کې خوښ عمل دی.

**دلیل:** ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هغه ورځې چې په هغې کې نیک عمل کول، الله ته تر هر وخت ډېر خوښ دي، هغه دا ذوالحجې لومړۍ لس ورځې دي.

[دا حدیث ابو داوود (۲۴۳۸) روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱٦۲ غنیمت

### ۷- د قربانۍ اختر په ورځ وینه تویول

**فضیلت:** الله ته په ټولو کې خوښ عمل دی.

**دلیل:** عایشه رضي الله عنها وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د قربانۍ اختر په ورځ له (څاروي) د وینې تویولو څخه بل خوښ عمل الله ته نشته، دغه قرباني شوی څاروی به سره د ښکرو، وښتو او ښنګرو راځي، .... ناقص

[ترمذي (۱۴۹۳) روایت کړی، ترمذي، سیوطي او ابن حجر حسن بللی]

په غنيمت عمل

# ۱۶۳ غنيمت

**۸- (سبحان الله، الحمد لله، لا إله إلا الله، الله اكبر) ويل**

**فضيلت:** الله ته په ټولو کې خوښ عمل دی.

**دليل:** سمره بن جندف رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله خوښې خبرې څلور دي: سبحان الله، الحمد لله، لا إله إلا الله، والله اكبر، هيڅ زيان نه لري، چې په کومې يوې د پيل وکړ. [مسلم: ۲۱۳۷]

په غنيمت عمل

# ۱۶۴ غنيمت

**۹- (سبحان الله وبحمده) ويل**

**فضيلت:** الله ته په ټولو کې د خوښې خبره ده.

**دليل:** ابو ذر رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: آيا زه تاسو خبر نه کړم، چې الله ته کومه خبره ډېره خوښه ده؟ الله ته خوښه خبره سبحان الله وبحمده ده. [مسلم: ۲۷۳۱]

په غنيمت عمل

# ۱۶۵ غنيمت

**۱۰- (سبحان الله العظيم، سبحان الله وبحمده) ويل**

**فضيلت:** دا کلمې الله ته ډيرې خوښې دي.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: دوه داسې کلمې چې په ژبه اسانې، په تله د ميزان درنې، او د الله ته خوښې دي: سبحان الله العظيم، سبحان الله وبحمده.

[البخاري: ۶۴۰۶، مسلم: ۲۶۹۴]

به غنيمت عمل

## ١٦٦ غنيمت

**١١- كله چې د شپې رابيدار شي، او دا دعا ووايي (لا إله إلا الله وحده لا شريك له ...) بيا ادس وكړي او بيا لمونځ وكړي**

**فضيلت:** لمونځ به يې قبول شي.

**دليل:** عباده بن صامت رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: كه څوک د شپې له خوبه بيدار شي او دا دعا ووايي: لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير، الحمدلله، وسبحان الله، ولا إله إلا الله، والله أكبر، ولا حول ولاقوة إلا بالله، له دې وېلو ورسته ووايي: اې الله ما ته ښښنه وكړه، او يا كومه دعا وغواړي، غوښتنه به يې قبوله شي، كه اودس يې وكړ، لمونځ به يې قبول شي. [البخاري: ١١٥٤]

به غنيمت عمل

## ١٦٧ غنيمت

**١٢- په خپل اهل مال مصرفول ثواب ګڼل**

**فضيلت:** دا به په خپل اهل د صدقې په ډول قبليږي.

**دليل:** ابو مسعود الانصاري رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: كله چې مسلمان خپل مال په خپل اهل باندې د ثواب په نيت مصرف كړي، دا د هغه لپاره صدقه ده.

[البخاري: ٥٣٥١، مسلم: ١٠٠٢]

به غنيمت عمل

## ١٦٨ غنيمت

**١٣ - د لمر له زوال وروسته او د ماسپښين څخه د مخه څلور ركعته لمونځ كول**

**فضيلت:** د آسمان دروازې به ورته پرانستل كېږي.

**دليل:** له عبدالله بن سائب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به څلور رکعته لمونځ کاوه کله به چې لمر په پریوتو شو، تر ماسپښين مخکې، او ويل به يې: «دا هغه شېبه ده چې د آسمان دروازې پکې پرانستل کېږي، او زه خوښوم چې زما نېک عملونه په دې وخت کې الله ته پورته شي.

[دا حديث ترمذي (۴۷۸) کړی دی، او الباني صحيح بللی] په غنيمت عمل

## ۱۶۹ غنيمت

**۱۴ - د هر لمانځه وروسته** (سبحان الله، الحمد لله، الله اکبر) **درې دېرش (۳۳) ځله ويل**

**فضيلت:** د مخکې تير شو او راتلونکو کسانو اجر رالاندې کول.

**دليل:** له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې بېوزله صحابه رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته يې ويل: دا شتمن خلک خو له موږ څخه په جنت کې په لوړو درجو او نعمتونو ترلاسه کولو کې مخکې تللي، موږ چې څنګه لمونځ کوو دوی هم هماغسې لمونځ کوي، څنګه چې موږ روژه کيږو، دوی هم روژه کيږي، دوی د خپلو مالونو له امله حج ته هم ځي، عمرې، جهاد او صدقې هم کوي. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: آيا زه تاسې ته داسې څه در ونښايم که په هغې کلک پاتې شئ، نو هغو کسانو ته به ورسېږئ چې له تاسو مخکې دي، او له تاسو وروسته به څوک هم تر تاسې راونه رسېږي، او تاسې به له هر چا غوره ياست، پرته له هغو کسانو چې همدا عمل کړي وي؟ تاسې د هر لمانځه وروسته تسبيح، تحميد او تکبير درې دېرش (۳۳) ځله ووايئ. صحابه کرامو اختلاف وکړ، ځينو ويل: تسبيح ۳۳ ځله، تحميد ۳۳ ځله، او تکبير ۳۴ ځله، نو زه بېرته رسول الله ﷺ ته ورغلم، نو هغه راته وفرمايل: سبحان الله، الحمد لله، الله اکبر، تر هغې ووايئ، ترڅو چې هر يوه درې دېرش (۳۳) ځله وويل شي.

[البخاري: ۸۴۳، مسلم: ۵۹۵]

www.alukah.net

شبكة الألوكة

# دريم فصل

# هغه غنيمتونه چې د آخرت مطلوب مقام پرې ترلاسه کيږي

# (۱۴۶) غنيمتونه

شبكة الألوكة - قسم الكتب

په غنیمت عمل

# ۱۷۰ غنیمت

## ۱ - د الله تعالی ذکر کول

**فضیلت:** د درجې لوړولو تر ټولو غوره عمل دی، د الله په لاره کې له جهاد او د سرو او سپینو زرو له صدقې ورکولو څخه هم غوره دی.

**دلیل:** له ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: آیا زه تاسو ستاسې د غوره عمل په اړه خبر در نه کړم، د الله په وړاندې تر ټولو پاک عمل دي، ستاسې درجې لوړوي، ستاسو لپاره له سرو او سپینو زرو د انفاق څخه غوره دی، بلکې له دې هم غوره دی چې تاسې له دښمن سره مخامخ شئ، تاسې د هغوی مرۍ پرې کړئ، یا هغوی ستاسې مرۍ پرې کړي؟ صحابو وویل: ولې نه! هغه وفرمایل: هغه د الله تعالی ذکر دی.

[دا حدیث ترمذي ۳۳۷۷ روایت کړی، او الباني حسن بللی]

په غنیمت عمل

# ۱۷۱ غنیمت

## ۲ - بازار ته د داخلېدو پر وخت دا دعا ویل :(لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ، وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)

**فضیلت:** یو میلیون (۱۰۰۰۰۰۰) نیکۍ، او په جنت کې به د یو کورڅښتن شي.

**دلیل:** عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په بازار کې دا وینا ووایي، (لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ، وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) الله به ورته یو میلیون نیکۍ ولیکي، یو میلیون ګناهونه به یې وبښي، او په جنت کې به ورته یو کور جوړ کړي. [دا حدیث ترمذي ۳۴۲۹ روایت کړی، او الباني حسن بللی]

په غنیمت عمل

# ۱۷۲ غنیمت

**۳ - د سهار لمونځ وروسته چې د تشهد په حالت کې د خبرو کولو مخکې دا وینا (لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) لس (۱۰) ځله ویل**

**فضیلت:** لس درجې به یې پورته کېږي او لس نیکۍ به ترلاسه کوي.

**دلیل:** ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د سهار د لمانځه وروسته، د تشهد په حالت کې د خبرو کولو مخکې (لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) لس ځله ووایي، نو الله به ورته لس نیکۍ ولیکي، لس ګناهونه به یې پاک کړي، او لس درجې به یې لوړوي.

[دا حدیث نسائي په الکبری ۹۸۷۸، ترمذي ۳۴۷۴ کې روایت کړی، الفاظ د ترمذي دي، الباني حسن بللی]

په غنیمت عمل

# ۱۷۳ غنیمت

**۴ - په کور کې اودس کول، او مسجد ته د فرض لمونځ لپاره ډېر قدمونه اخیستل**

**فضیلت:** په جنت کې یې درجات لوړیږي، په جنت کې د کور مالک ګرځي، او د حج ثواب ترلاسه کیږي.

**دلیل:** له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا زه تاسو ته داسې عمل ونښایم چې الله پرې ګناهونه ببښي او درجې لوړوي؟ صحابو وویل: هو! هغه وفرمایل: د سختۍ پر مهال پوره اودس کول، او مسجد ته ډېر قدمونه اخیستل. [مسلم: ۲۵۱]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په خپل کور کې اودس وکړي، بيا مسجد ته د فرض لمونځ لپاره لاړ شي، نو په هر دوه قدمه يې، په يوه به يې ګناه ختميږي، او په بل به يې يوه درجه لوړيږي. [مسلم: ٦٦٦]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جماعت لمونځ، له انفرادي لمونځ څخه څه د پاسه شل درجې غوره دی، هغه داسې که اودس وکړي، او مسجد ته يوازې د لمانځه په غرض لاړ شي، نو په هر قدم به يې يوه درجه لوړيږي. [البخاری: ٢١١٩، مسلم: ٦٦٦ ، الفاظ د بخاري دي]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې هره ورځ سهار او ماښام مسجد ته ځي، الله به په هر ځل تګ ورته په جنت کې مېلمستيا تياره کړي. [البخاری: ٦٦٢، مسلم: ٦٦٩]

له ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د فرض لمونځ لپاره، په اوداسه حالت کې، پلي روان شي، نو هغه ته به د احرام تړلي حاجي غوندې اجر ورکړل شي.

[دا حديث امام احمد ٢٢٤٣٥، ابو داود ٥٥٨ کې روايت کړی دی، او الباني حسن بللی]

په غنيمت عمل

## ١٧٤ غنيمت

### ٥ - له يو لمانځه وروسته د بل لمانځه لپاره انتظار کول، يوازې لمانځه په مسجد کې رابند کړی وي

**فضيلت:** درجات يې لوړيږي، او د لمانځه ثواب ترلاسه کېږي.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا زه تاسو ته داسې عمل ونښايم چې الله پرې ګناهونه بښي او درجې لوړوي؟ صحابو وويل: هو! ولې نه. هغه وفرمايل: د سختۍ پر مهال پوره اودس کول، مسجد ته ډېر قدمونه اخيستل، د يو لمانځه وروسته د بل لمونځ انتظار کول، دا رباط دی. [مسلم: ٢٥١]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تر هغې پورې يو بنده په لمانځه کې حسابيږي، تر څو چې بل لمونځ رابند کړی وي. [البخاری: ٦٥٩، مسلم: ٦٤٩]

په غنيمت عمل

## ١٧٥ غنيمت

## ٦ - په سختو حالاتو کې پوره اودس کول

**فضيلت:** درجات ورسره لوړيږي.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا زه تاسو ته داسې عمل ونښايم چې الله پرې ګناهونه ببنې او درجې لوړوي؟ صحابو وويل: هو! ولې نه. هغه وفرمايل: د سختی پر مهال پوره اودس کول. [مسلم: ٢٥١]

په غنيمت عمل

## ١٧٦ غنيمت

## ٧ – الله ته ډېرې سجدې کول

**فضيلت:** په جنت که يوه درجه لوړيدل، او په جنت کې د رسول الله ﷺ ملګرتيا ترلاسه کيدل.

**دليل:** ثوبان رضي الله عنه وايي: ما رسول الله ﷺ ته وويل: ای د الله رسوله! ما ته داسې عمل وښايه چې زه يې وکړم، او الله مې د هغې له امله جنت ته داخل کړي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :نو بيا په ځان ډېرې سجدې کول لازم وګرځوه، ځکه ته چې هر ځل الله ته سجده کوې، الله ورباندې ستا مقام يوه درجه لوړوي. [مسلم: ١٨٨]

ربیعة بن کعب الأسلمي رضي الله عنه وايي: ما به د رسول الله ﷺ سره شپې تیرولې، د اودس اوبه او نور اړین شیان به مې ورته برابرول. یوه ورځ يې راته وفرمایل: څه وغواړه؟ ما وویل: زه په جنت کې ستا ملګرتیا غواړم. رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا له دي پرته نور څه نه غواړې؟ ما ورته وویل: بس؛ همدا غواړم. رسول الله ﷺ راته وفرمایل: نو ته ما سره بیا په ډېرو سجدو کولو کې مرسته وکړه. [مسلم: ۱۸۹]

په غنیمت عمل

## ۱۷۷ غنیمت

### ۸ – د پلار لپاره د زوی ښښنه غوښتل

**فضیلت:** په جنت کې وربانديې یوه درجه لوړیږي.

**دلیل:** ابو هریره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل :الله پاک به په جنت کې د ینک بنده یوه درجه لوړه کړي، دا نیک بنده به وایي: اي ربه! دا مقام مې له کومه شو؟ نو ورته به وویل شي: ستا زوی ستا لپاره ښښنه غواړي.

[دا حدیث امام احمد (۱۰۷۶۰) روایت کړي، ابن کثیر او شوکاني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۷۸-۱۸۱ غنیمت

### ۹ – ۱۲: له بدشګون، د چا څخه د ځان د دمولو غوښتنه او ځان په اور د داغلو څخه ساتل، او پر الله توکل کول.

**فضیلت:** بې حسابه جنت ته ننوتل.

**دلیل:** ابن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل :ما ته مخکنې امتونه راوښودل شول... بیا مې یو لوی مخلوق ولید، چې د اسمان کنارې يې ډولې پټې کړې وي، ما ته وویل شول:

دا ستا امت دی، او له دوی سره اویا زره کسان دي چې بې حسابه به جنت ته داخلیږي... بیا یې وویل: (دا اویا زره) هغه کسان دي چې بدشګون نه نیسي، د چا څخه د خپل ځان د دمولو غوښتنه نه کوي، نه خپل ځان ته په اور داغ ورکوي، او په الله باندې توکل کوي. [البخاري: ۵۷۵۲]

په غنیمت عمل

# ۱۸۲ غنیمت

## ۱۳ – د رسول الله ﷺ سره مینه لرل

**فضیلت:** په جنت کې د رسول الله ﷺ ملګرتیا ترلاسه کول.

**دلیل:** انس رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل :ته به د هغه چا سره یې چې ته ورسره مینه لرې. [البخاري: ۳٦۸۸]

په غنیمت عمل

# ۱۸۳ غنیمت

## ۱۴ – د لوڼو یا خویندو تر هغې پالنه کول، چې واده شي یا ترې ته وفات شي

**فضیلت:** په جنت کې د رسول الله ﷺ ملګرتیا ترلاسه کول

**دلیل:** انس بن مالک رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل :څوک چې دوه یا درې لوڼې، یا دوه یا درې خویندې وساتي، تر هغې چې واده شي، یا سرې ترې وفات شي، زه او هغه به په جنت کې لکه دا دوه ګوتې داسې یو ځای یو، په خپلې منځنۍ او شهادت ګوتې یې اشاره وکړه.

[دا حدیث ابن حبان (۴۴۷) روایت کړې، الباني صحیح بللی]

په غنيمت عمل

## ۱۸۴ غنيمت

### ۱۵ – د يتيم پالنه

**فضيلت:** په جنت کې د رسول الله ﷺ ملګرتيا ترلاسه کول.

**دليل:** سهل بن سعد رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: زه او د يتيم پالونکی به په جنت کې سره لکه دا دوه ګوتې نږدې يو، په خپلې شهادت او منځنۍ ګوتې سره يې اشاره وکړه، او ترمينځ يې سره بيلې کړې. [البخاري: ۵۳۰۴]

په غنيمت عمل

## ۱۸۵ غنيمت

### ۱٦ – په ښه ډول اودس کول، بيا دوه رکعته لمونځ د زړه په توجه سره کول

**فضيلت:** جنت ورته واجب دي، او جنت ته به داخليږي.

**دليل:** عقبة بن عامر رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هر هغه مسلمان چې په ښه ډول اودس وکړي، بيا دوه رکعته لمونځ وکړي، چې خپل زړه او مخ يې الله ته متوجې کړي وي، نو جنت ورته واجب شو. [مسلم: ۲۳۴]

ابو هريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ بلال ته د سهار د لمونځ پر مهال وويل: اې بلاله! ستا تر ټولو هيله بښوونکی عمل دې راته ووايه، چې تا په اسلام کې کړی وي، ځکه په جنت کې مې د له خپل ځانه مخکې ستا د پښو اواز واورېد. بلال وويل: زما لپاره تر ټولو اميد بښوونکی عمل دا دی: په شپه او ورځ کې چې هر کله زه اودس وکړم، په هغه اودس چې الله ما ته ځومره ليکلي وي، هغومره لمونځ کوم.

[البخاري: ۱۱۴۹، مسلم: ۲۴۵۸]

په غنیمت عمل

## ۱۸۶ غنیمت

### ۱۷ - د الله په لار کې جګړه کول، که څه هم د لږ وخت لپاره وي

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل ورله واجب دي.

**دلیل:** ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلْجَنَّةَ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ وَٱلْقُرْءَانِ﴾ [التوبة: ۱۱۱]

بېشکه الله له مومنانو نه د هغوی ځانونه او د هغوی مالونه اخیستي دي په بدل د دې کې چې یقینًا د دوی لپاره جنت دی، دوی د الله په لاره کې جنګ کوي، نو وژل کوي او وژلی شي، دا په تورات او انجیل او قرآن کې د هغه په ذمه حقه وعده ده.

له معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر څوک چې د الله په لاره کې دومره جنګ وکړي، څومره چې د یوې اوښې د فواق (لنډ آرام) وخت وي، نو جنت پرې واجب شو.

[دا حدیث ابو داود (۲۵۴۱)، نسائي په الکبری (٤٣٣٤)، ترمذي (١٦٥٧)، ابن ماجه (۲۷۹۲) روایت کړی دی، او الباني صحیح بللی]

له عبدالله بن أبي اوفی رضی الله عنه څخه روایت دی، رسول الله ﷺ وفرمایل :خبر شئ! جنت د تورو د تیارو د لاندې دی. [البخاري: ۲۸۱۸]

په غنیمت عمل

## ۱۸۷ غنیمت

### ۱۸ - د ژبې او شرمګاه ساتنه

**فضیلت:** د جنت واجبوالی.

**دلیل:** له سهل بن سعد رضی الله عنه روایت دی، رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې ما ته د هغه څه ضامن شي چې د دوو ژامو تر منځ دي (ژبه) او د دوو پښو ترمنځ دي (شرمګاه)، زه به ورته د جنت ضامن شم. [البخاري: ٦٤٧٤]

په غنیمت عمل

## ۱۸۸ غنیمت

### ۱۹ - هر سهار "رضیت بالله رباً، وبالإسلام ديناً، وبمحمد نبياً" ویل

**فضیلت:** د جنت ورله واجب دی.

**دلیل:** له منیذر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې ما د رسول الله ﷺ واوریدل، چې فرمایل یې: څوک چې سهار 'رضیت بالله رباً، وبالإسلام ديناً، وبمحمد نبياً' ووایي، زه به یې ضامن شم، تر دې چې د لاس څخه به یې ونیسم، او جنت ته به یې داخل کړم.

[دا حدیث طبراني په الکبیر (۸۳۸) کې روایت کړي دی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۸۹ غنیمت

### ۲۰ - له جماعت سره یوځای پاتې کېدل

**فضیلت:** د جنت په منځ کې به اوسیږي.

**دلیل:** له جابر بن سمره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې غواړي د جنت منځنۍ او غوره برخه لاسته راوړي، نو له جماعت سره دې پاتې شي، ځکه شیطان له یو کس سره وي، خو له دوو کسانو بیا لرې وي.

[دا حدیث امام احمد (۱۷۹) روایت کړی دی، او ارناؤوط صحیح بللی]

په غنيمت عمل

# ۱۹۰ غنيمت

## ۲۱ - د يو مسلمان ناروغ پوښتنه يا د الله لپاره د يو مسلمان ورور ليدنه او ملاقات

**فضيلت:** په جنت کې کور، د جنت ميوه او جنت ته داخليدل.

**دليل:** له ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې يو مسلمان خپل ورور ته د پوښتنې يا ليدنې لپاره لاړ شي، الله تعالی ورته فرمايي: ته پاک شوی، قدم دې مبارک دی، او تا د خپل ځان لپاره په جنت کې ځای ومونډ.

[ابن حبان ۲۹٦۱، دا حديث صحيح بللی]

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: هر مسلمان چې سهار د يو بل مسلمان د پوښتنې لپاره ولاړ شي، تر ماښامه پورې ۷۰ زره ملائکې د ده لپاره دعا کوي، او که ماښام لاړ شي، تر سهاره پورې ورته دعا کوي، او جنت کې به ورته ميوه وي.

[دا حديث ترمذي ۹٦۹، او الباني صحيح بللی]

له ثوبان رضي الله عنه روايت دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د يو ناروغ پوښتنه وکړي، هغه به تل جنت په خرفه کې وي، چا پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! دا خرفه څه ده؟ هغه ورته وفرمايل: جنتي ميوې.

[مسلم: ۲۵٦۸]

له انس بن مالک رضی الله عنه روايت دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: يو کس چې خپل مسلمان ورور يوازې د الله لپاره ليدلو ته لاړ شي، نو الله تعالی ورته يو ځای جنت کې ټاکي.

[دا حديث طبراني په الأوسط (۱۷٤۳) او په الصغير (۱۱۸) کې روايت کړي دي، او الباني حسن بللی]

په غنيمت عمل

# ۱۹۱ غنيمت

## ۲۲ - د الله لپاره يو بل سره محبت ساتل

**فضيلت:** جنت ته داخليدل او په جنت کې کور، او د قيامت په ورځ سيورى.

**دليل:** له ابو سعيد الخدري رضى الله عنه څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو بل سره محبت لرونکي به په جنت کې د يو بل کوټې لکه شرقي او غربي ستوري چې ځليږي؛ ويني، يو څوک به پوښتنه وکړي: دا خلک څوک دي؟ ورته به ويل شي: چې د الله لپاره يو بل سره محبت لرونکي دي.

[دا حديث امام احمد (۱۲۰۰۹) روايت کړی، سيوطي صحيح بللی]

له ابو هريرة رضى الله عنه څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو به جنت ته تر هغه نه داخليږئ، تر څو چې مومنان نه شئ، او ترهغې مومنان نشئ کيدلی، چې ترڅو د يو بل سره محبت ونه لرئ، ايا زه تاسو ته داسې يو عمل در ونښايم چې تاسو يې وکړئ؛ نو د يو بل سره به مو محبت پيدا شي؟ خپلو مينځنو کې سلام خپور کړئ.

[مسلم: ۵۴]

له ابو هريرة رضى الله عنه څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اووه کسان دي چې د قيامت په ورځ چې سيورى به نه وي، و الله به يې د سيوري د لاندې کړي، يو په هغې کې: هغه دوه کسان دي چې د الله لپاره يو بل سره مينه لري، يو ځاى کيدل او جلا کيدل هم د الله لپاره، او جلا شي د الله لپاره.

[البخاري: ٦٦٠، مسلم: ۱۰۳۱]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى، رسول الله ﷺ وفرمايل: الله به د قيامت په ورځ ووايي: چيرته دي هغه کسان چې زما د عظمت له امله له يو بل سره مينه پالي؟ نن ورځ چې زما له سورې پرته بل سورې نشته، زه به يې د خپل سيوري لاندې کړم.

[مسلم: ٢٥٦٦]

په غنیمت عمل

## ۱۹۲ غنیمت

### ۲۳ - د ښه اخلاق لرل

**فضیلت:** د قیامت ورځ په میزان کې تر ټولو دروند عمل دی، جنت ته داخلیدل، او د جنت په لوړه برخه به د کور ښتن شي.

**دلیل:** له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې له رسول الله ﷺ څخه یو چا د هغه عمل په اړه پوښتنه وکړه، چې له امله به یې ډېر خلک جنت ته لاړ شي، هغه وفرمایل: د الله څخه ویره، او ښه اخلاق درلودل.

[دا حدیث ترمذي (۲۰۰٤) روایت کړی دی، او صحیح بللی]

له ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د قیامت په ورځ په میزان کې تر هر څه دوند شی هغه ښه اخلاق دي.

[دا حدیث ترمذي (۲۰۰۲)، ابو داود (٤۷۹۹) کې روایت کړی دی، او الباني صحیح بللی]

له ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: چا چې خپل اخلاق ښه کړل، زه یې په جنت کې د یو کور ورکولو ضامن یم.

[دا حدیث ابو داود (٤۸۰۰) روایت کړی دی، نووي او ابن القیم صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۹۳ غنیمت

### ۲٤- د مصیبت په وخت کې تحمید او (إنا لله وإنا إلیه راجعون، اللهم اجرني في مصیبتي، وأخلف لي خیرا منها)

**فضیلت:** یو کور په جنت او د لوی اجر سبب کېږي.

**دليل:** له ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله چې د يو بنده زوی وفات شي، الله پاک ملائکو ته ووايي: آيا زما د بنده د زوی روح مو قبض کړ؟ هغوی ورته ووايي: هو، بيا ورته الله پاک ووايي: آيا زما د بنده د زړه ټوټه مو واخيسته؟ هغوی ورته وايي: هو، بيا الله پاک ووايي: زما بنده څه وويل؟ هغوی ورته ووايي: الحمدلله او إنا لله وإنا إليه راجعون، اللهم اجرني في مصيبتي وأخلف لي خيرا منها يې وويل، الله پاک ورته ووايي: زما دې بنده لپاره په جنت کې يو کور جوړ کړي، او بيت الحمد په نوم سره يې ونوموئ.

[دا حديث ترمذي (١٠٢١) روايت کړی دی، او حسن يې بللی]

له ام سلمه رضي الله عنها چې د رسول الله ﷺ ميرمن ده، روايت دی، ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې وفرمايل يې: کوم بنده ته چې مصيبت ورسيږي، إنا لله وإنا إليه راجعون، اللهم اجرني في مصيبتي وأخلف لي خيرا منها ووايي، الله پاک به دې ددې مصبت له امله ثواب ورکړي، او له دې به غوره بدله ورکړي.

[مسلم: ٩١٨]

## ١٩٤ غنيمت

په غنيمت عمل

## ٢٥ - د دروغو پرېښودل، که څه هم په ټوکو کې وي

**فضيلت:** د جنت په مينځ کې د کور ښنتن کيدل.

**دليل:** له ابو امامه رضى الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ځا چې خپل اخلاق ښه کړل، دروغ يې پرېښودل، که څه هم په ټوکو کې وي، زه يې په جنت کې د يو کور ورکولو ضامن يم.

[دا حديث ابو داود (٤٨٠٠) روايت کړی دی، نووي او ابن القيم صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۱۹۵ غنيمت

### ۲٦ – د فرض لمونځ پرته د الله لپاره هره ورځ د ۱۲ ركعت نفلي لمونځ كول

**فضيلت :** په جنت كې به د كور ښبنتن كيدل.

**دليل:** له ام حبيبه رضي الله عنها، چې د رسول الله ﷺ ميرمن ده، روايت دى، وايې چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل، چې ويل يې: هر بنده چې هره ورځ د فرض لمونځ پرته د الله لپاره ۱۲ ركعته نفلي لمونځ وكړي، الله پاک به ورته په جنت كې كور جوړ كړي.

[مسلم: ۷۲۸]

په غنيمت عمل

## ۱۹٦ غنيمت

### ۲۷ - د الله لپاره مسجد جوړول

**فضيلت:** په جنت كې به د كور ښبنتن كيدل.

**دليل:** له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دى، ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې ويل يې: چا چې د الله لپاره يو مسجد جوړ كړ، الله پاک به ورته په جنت كې د هغه په څير كور جوړ كړي. په بل روايت كې دي: الله په ورته په جنت كې كور جوړ كړي.

[البخاري: ٤٥٠، مسلم: ٥٣٣، الفاظ د مسلم دي]

له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: كه چا د الله لپاره مسجد د مارغانو د جالې او يا له هغې هم كوچنى وي؛ جوړ كړ، الله به ورته په جنت كې كور جوړ كړي.

[دا حديث ابن ماجه (۷۳۸) ، ابن خزيمة (۱۲۹۲) روايت كړى دى، او الباني صحيح بللى]

په غنیمت عمل

## ۱۹۷ غنیمت

### ۲۸ – له بحث او شخړو تېرېدل، که څه په حقه هم وي

**فضیلت:** د جنت په مینځ کې د کور ښتن کېدل.

**دلیل:** له ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: څوک چې له بحث او شخړې تیر شو، حال دا چې نوموړی پهه حقه هم وي، زه یې په جنت کې د یو کور ورکولو ضامن یم.

[دا حدیث ابو داود (۴۸۰۰) روایت کړی دی، نووي او ابن القیم صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۱۹۸ غنیمت

### ۲۹ – تقوی او د الله څخه ویره

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل، جنت کې ښکلې جوړې (ازواج)، د الله په نزد د صدق مقام، د الله له لوري د ثواب او جنت زیری، بریا او ښه عاقبت، د الله له لوري بدله او ثواب.

**دلیل:** * ﴿لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ﴾ [آل عمران: ۱۵].

د هغو کسانو لپاره چې پرهېزګاره دي، (هغه) د خپل رب په نیز باغونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې په هغو کې به دوی تل ترتله وي او (د دوی لپاره) ښې پاکې ښځې دي.

* ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ * فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ * يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ * كذلك وزوجناهم بحور عين﴾ [الدخان: ۵۴۱].

بېشکه متقیان به په امن ناکه ځای کې وي، په جنتونو او چینو کې به وي، دوی به له نریو وربښمو او پېړو وربښمو جامې اغوندي، په داسي حال کې چې سره مخامخ به ناست وي، همداسې به وي. او مونږ به دوی د غټې سترګو سپینو سرو حورو سره ملګري کړو.

* ﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا * حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا * وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا * وَكَأْسًا دِهَاقًا * لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّابًا * جَزَاءً مِن رَّبِّكَ عَطَاءً حِسَابًا﴾ [النبأ: ٣١-٣٦].

**بېشکه خاص د متقيانو لپاره کاميابي ده، (چې) باغونه او انګور دي، او انارسينه همځولې پېغلې دي، او ترخنډېو پورې ډکې د شرابو پيالې دي، دوی په دغه (جنت) کې نه لغوه (بېکاره) خبره اوري او نه دروغ، د رب له جانبه به بدله ورکولی شي- (د عملونو) په حساب سره ډېره ورکړه.**

* ﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [آل عمران: ١٣٣].

**او تاسو له يو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی، د پرهېزګارانو لپاره تيار کړی شوی دی.**

* ﴿مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا وَّعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ﴾ [الرعد: ٣٥].

**د هغه جنت حال چې له متقيانو سره يې وعده شوې ده (دا دی چې) د هغه له لاندې ولې بهېږي، د هغه مېوې هميشنی دي او د هغه سيوری هم، دغه (جنت) د هغو کسانو انجام (او د رجوع ځای) دی چې پرهېزګاري کوي او د کافرانو انجام اور دی.**

* ﴿وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ * جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ كَذَٰلِكَ يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ﴾ [النحل: ٣٠-٣١].

**او يقيناً ښه کور د متقيانو دی، چې د هميشه اوسېدلو جنتونه دي چې دوی به هغو ته داخلېږي، د هغو له لاندې ولې بهېږي، د دوی لپاره په دغو (جنتونو) کې هغه څه دي چې دوی يې غواړي- همدارنګه الله متقيانو ته بدله ورکوي.**

* ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ﴾ [الذاريات: ١٥].

**بېشکه متقيان (پرهېزګاران) به په جنتونو او چينو کې وي.**

* ﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى * وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى﴾ [الليل: ٧٥].

نو هر چې هغه څوك دى چې وركړه كوي او وېرېږي، او د ډېرې ښكلې كلمې تصديق كوي، نو مونږ به ضرور ده ته د اسانۍ لارې اسانتيا وركړو.

•﴿وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [الشعراء: ٩٠].

او جنت به (په هغې ورځ كې) پرهېزګارانو ته ورنژدې كړى شي.

•﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتِ النَّعِيمِ﴾ [القلم: ٣٤].

بېشكه د پرهېزګارو لپاره د خپل رب په نيز د نعمتونو جنتونه دى.

•﴿مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَرٌ مِنْ مَاءِ غَيْرِ حَاسِنٍ وَأَنْهَرٌ مِن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ۝ وَأَنْهَرٌ مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ۝ وَأَنْهَرٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ﴾ [محمد: ١٥].

د هغه جنت حال (او صفت) چې پرهېزګارانو ته يې وعده وركړى شوې ده، په هغو كې د داسې اوبو ولې دي چې خرابېدونكې نه دي او د داسې شيدو (پيو) ولې دي چې خوند (او مزه) به يې تغير نه مومي (نه خرابېږي) او د داسې شرابو ولې دي چې څښونكو ته مزه وركوونكې وي او د صفا كړى شويو شاتو ولې دي او د دوى لپاره په دغو (جنتونو) كې هر قسمه مېوې دي.

• ﴿وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا: "سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ۝ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ﴾ [الزمر: ٧٣].

او هغه كسان به چې له خپل رب نه وېرېدل، جنت ته ډلې ډلې روان كړى شي، تر هغه پورې چې كله دوى ده ته راشي، په دې حال كې چې د ده دروازې به (له مخكې نه) پرانستل شوې وي او دوى ته به د دغه (جنت) نګرانان ووايي: په تاسو دې سلام وي، تاسو پاك يئ، نو دغو ته داخل شئ، په داسې حال كې چې تل اوسېدونكې به يئ.

• ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ * وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ * كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ * إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ﴾ [المرسلات: ٤٤٤١].

يقينًا پرهېزګاران به په سيورو او چينو کې وي، او په داسې مېوو کې چې دوى يې غواړي، (ملايک به مومنانو ته وايي:) تاسو خورئ او څښئ،

په داسې حال کې چې خوند اخيستونکي يئ د هغو عملونو په بدل کې چې تاسو به کول، بېشکه همداسې مونږ نېکي کوونکو ته بدله ورکوو.

• ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنهر فى مقعد صدق عند مليك مقتدر﴾ [القمر: ۵۴–۵۵].

بېشکه متقيان به په باغونو او ويالو کې وي، د راستی په مجلس کې به وي، له لوى قدرت لرونکي بادشاه سره.

• ﴿الَّذِينَ ءَامَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ [يونس: ۶۳–۶۴].

هغه کسان چې ايمان يې راوړى دى او ځان (له نافرمانيو) ساتي، د همدوى لپاره په دنيايي ژوند کې زېرى دى او په اخرت کې (هم). د الله کلماتو لره هېڅ بدلول نشته، همدغه ډېر ستر برى دى.

• ﴿فَإِنَّمَا يَسَّرْنَهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ﴾ [مريم: ۹۷].

پس بېشکه همدا خبره ده چې مونږ دغه (قرآن) ستا په ژبه آسان کړى دى، د دې لپاره چې ته په ده سره پرهېزګارانو ته زېرى ورکړې.

• ﴿وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [الأعراف: ۱۲۸]، [القصص: ۸۳].

او ښه انجام د پرهېزګارانو لپاره دى

• ﴿فَأَصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [هود: ۴۹].

نو صبر کوه، بېشکه ښه انجام د پرهېزګارانو لپاره دى

• ﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ، وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا﴾ [الطلاق: ۵].

او هغه څوک چې له الله نه ووېرېږي، هغه به له ده نه د ده ګناهونه لرې کړي او د ده لپاره به اجر ډېر لوى کړي.

• ﴿وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ﴾ [آل عمران: ۱۷۹].

او که چېرې تاسو ايمان راوړ او پرهېزګاره شوئ، نو تاسو لپاره بېخي لوى اجر دى.

• ﴿وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ﴾ [محمد: ۳۶].

او که تاسو ايمان راوړئ او پرهېزګاره شئ (نو) هغه به تاسو ته ستاسو اجرونه درکړي.

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ څخه د هغه عمل په اړه پوښتنه وشوه، چې په هغې عمل کوونکي به جنت ته داخل شی؟ هغه تقوی يعنې د الله څخه ويره کول دي.

[ دا حديث ترمذي (٢٠٠٤) روايت کړی، او صحيح يې بللی]

په غنيمت عمل

## ١٩٩-٢٠٢ غنيمت

### ٣٠-٣٣: سبحان الله، الحمد لله، لا إله إلا الله، الله اكبر ويل

**فضيلت:** په جنت کې ونه، او د صدقې اجر.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سبحان الله، الحمد لله، لا إله إلا الله، الله اكبر؛ وايه، نو الله تعالى به ستا لپاره د هرې جملې پر بدل کې يوه ونه په جنت کې کښېنوي.

[دا حديث ابن ماجه ٣٩٢٠ روايت کړی، او الباني صحيح بللی)

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هره سبحان الله صدقه ده، هر الله اكبر صدقه ده، هر الحمدلله صدقه ده.

[مسلم: ١٠٠٦]

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هره سبحان الله صدقه ده، هر الحمدلله صدقه ده، او هر لا إله إلا الله صدقه ده، هر الله اكبر صدقه ده. [مسلم: ١٦٤٨]

په غنيمت عمل

## ٢٠٣ غنيمت

### ٣٤: سبحان الله العظيم وبحمده ويل

**فضيلت:** په جنت کې د خرما ونه کرل.

**دليل:** له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې ووايي: سبحان الله العظيم وبحمده، الله تعالی به د هغه لپاره يوه نخله په جنت کې کښېنوي.

[دا حديث ترمذي ۳۸۰۸، نسائي په الکبری ۱۰۵۹٤ کې روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۰۴ غنيمت

### ۳۵: د غوسې زغم، سره له دې چې د انتقام وس لري

**فضيلت:** جنت ته داخلېدل، الله به يې د ټولو مخلوقاتو په وړاندې راوبلي، اختيار به ورکړي چې کومه حورا د ځان لپاره غوره کوي، د قيامت پر ورځ د اميد څخه ډکېدل.

**دليل:** ﴿وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَاوَاتُ وَٱلْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلْكَاظِمِينَ ٱلْغَيْظَ﴾ [آل عمران: ۱۳۳–۱۳۴]

او تاسو له يو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی، د پرهېزګارانو لپاره تيار کړی شوی دی، هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي.

معاذ د انس رضي الله عنه څخه روايت نقل کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې غصه وزغمي، سره له دې چې ځواک يې لري، الله به هغه د قيامت پر ورځ د ټولو مخلوقو پر وړاندې راوبلي، ترڅو چې له کومو حورو وغواړي، همغه به ورته ورکړل شي.

[دا حديث امام احمد ۱۵۸۷۷، ترمذي ۲۰۲۱، ابو داود ۴۷۷۷، ابن ماجه ۴۱۸٦ روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې غصه وزغمي، سره له دې چې کولی یې شول چې خپله غوسه وکړي، الله به یې د قیامت په ورځ زړه د امید څخه ډک کړي.

[دا حدیث طبراني په الکبیر ۱۳٦٤٦ کې روایت کړی دی، او الباني صحیح بللی]تر دې ځایه تصحیح وشوه

په غنیمت عمل

## ۲۰۵ غنیمت

### ۳٦: د الله لپاره تواضع او عاجزي کول، او ښه لباس هم نه اغوستل که څه هم توان یې لري

**فضیلت:** جنت ته داخلېدل، د الله له لورې د ټولو مخلوقاتو په وړاندې راغوښتل، او دا اختیار ورکول چې د ایمان د جامو څخه د ځان لپاره لباس غوره کړه.

**دلیل:** حارثه بن وهب رضي الله عنه وايي، چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل، چې فرمایل یې: آیا تاسو ته جنتیان درونه وپېژنم؟ هر هغه کمزوری او متواضع انسان. [البخاري ٦٦٥٧، مسلم ۲۸۵۳]

سهل بن معاذ رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د تواضع له امله ښه لباس په تن کول پریږدي، حال دا چې توان یې لري، الله به یې د قیامت پر ورځ د ټولو مخلوقاتو په وړاندې راوبلي، اختیار به ورکړي، چې د ایمان له جامو څخه یې چې کومې خوښې وي، د ځان لپاره غوره کړي. [دا حدیث امام احمد ۱۵۷۹۸، ترمذي ۲٦۸۵ روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۰٦ غنیمت

### ۳۷: قرض دار ته مهلت ورکول، نیمه یا ټول حق ورته پرېښودل

**فضیلت:** جنت ته داخلېدل او د قیامت پر ورځ د عرش تر سیوري لاندې اوسېدل.

**دلیل:** د حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: یوه سړی مړ شو او جنت ته داخل شو، ورته وویل شول: تا به څه عمل کوو؟ ویې ویل: ما به له خلکو سره تجارت کاوه، تنګدسته ته به مې مهلت ورکوه، او په قیمت کې به مې ترې لږ اخیست؛ الله ورته ښښنه کړې وه. [البخاري ۲۳۹۱، مسلم ۱۵٦۰]

ابو هریره رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: څوک چې تنګدسته ته مهلت ورکړي یا پاتې پیسې ورته معاف کړي، الله به هغه ته د قیامت په ورځ چې د هغه د عرش پرته به بل سیوری نه، ځای ورکړي. [دا حدیث امام احمد ۸۸۳۲، ترمذي ۱۳۰٦ روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۰۷ غنیمت

### ۳۸: روژه نیول

**فضیلت:** جنت ته داخلېدل، او الله تعالی پخپله اجر ورکوي.

**دلیل :** ابو امامه رضی الله عنه وایي: زه رسول الله ﷺ ته راغلم ما ورته وویل: داسې عمل راته وښایه چې جنت ته پرې داخل شم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: روژې نیول پرځان لازم وګرځوه، ځکه چې ددې په څیر عمل نشته. [دا حدیث امام احمد ۲۲۵۷۹، ابن حبان ۳۴۲۵ روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

ابو هریره رضي الله عنه وایي: چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله فرمایي: د انسان هر عمل د هغه لپاره دی، خو روژه یې بیا زما لپاره ده، او زه به یې پخپله اجر ورکوم. [بخاري ۱۹۰۴، مسلم ۱۱۵۱]

پە غنيمت عمل

## ۲۰۸ غنيمت

**۳۹: بد اخلاقه او عامو خلکو ته ښښنه کول، او د خلکو خير خواهي کول**

**فضيلت:** جنت ته داخلېدل، او الله تعالى پخپله اجر ورکوي.

**دليل:** ﴿وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ١٣٣ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ﴾ [آل عمران: ۱۳۳-۱۳٤]

او تاسو له يو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت) بخښني ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والى د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دى، د پرهېزګارانو لپاره تيار کړى شوى دى، هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي او خلقو ته معافي کوونکي وي.

﴿فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ﴾ [الشورى: ٤٠]

نو هغه څوک چې معافي وکړي او اصلاح وکړي نو د ده اجر په الله دى.

پە غنيمت عمل

## ۲۰۹ غنيمت

**۴۰: د خوشحالۍ او سختۍ په وخت کې سوال کوونکو او د سوال څخه ځان ساتونکو باندې انفاق کول، او له بخل څخه ځان ژغورل**

**فضيلت:** جنت ته داخلېدل، بريا او ښايسته عاقبت ترلاسه کول.

**دليل:** ﴿وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ١٣٣ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ﴾ [آل عمران: ۱۳۳-۱۳٤]

او تاسو له يو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت) بخښني ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والى د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دى، د پرهېزګارانو لپاره تيار کړى شوى دى، هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې.

﴿فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ٥ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٦ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ﴾ [الليل: ٥-٧]

**نو هر چې هغه څوك دى چې وركړه كوي او وېرېږي او د ډېرې ښكلې كلمې تصديق كوي نو مونږ به ضرور ده ته د اسانۍ لارې اسانتيا وركړو.**

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ١٥ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُحۡسِنِينَ ١٦ كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ١٧ وَبِٱلۡأَسۡحَارِ هُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ١٨ وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ﴾ [الذاريات: ١٥-١٩]

**بېشكه متقيان (پرهېزګاران) به په جنتونو او چينو كې وي په داسې حال كې چې هغه څه لره به نيوونكي وي چې دوى ته يې د دوى رب وركوي، بېشكه دوى له دې نه مخكې نېكي كوونكي وو دوى به د شپې په لږه برخه كې ويده كېدل او په چرګ بانګونو كې به دوى استغفار كاوه او د دوى په مالونو كې به د سوالګري او د محروم (مسكين) حق و.**

﴿وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ﴾ [الحشر: ٩]

**او هغه څوك چې د خپل نفس له د بخيلى نه وساتل شو، نو هم دغه خلق كامياب دي.**

په غنيمت عمل

## ٢١٠ غنيمت

**٤١ - د شپې تهجد لمونځ او لږ خوب كول، او زر آيتونو په تهجدو كې لوستل**

**فضيلت: جنت ته ننوتل، او د «مُقَنْطِرِين» له ډلې څخه شميرل كېدل.**

**دليل :** ﴿إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ١٥ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُحۡسِنِينَ ١٦ كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ﴾ [الذاريات: ١٥-١٧]

**بېشكه متقيان (پرهېزګاران) به په جنتونو او چينو كې وي په داسې حال كې چې هغه څه لره به نيوونكي وي چې دوى ته يې د دوى رب وركوي، بېشكه دوى له دې نه مخكې نېكي كوونكي وو دوى به د شپې په لږه برخه كې ويده كېدل.**

عبدالله بن سلام رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د شپې تهجد لمونځ کوئ، کوم چې خلک ويده وي؛ نو تاسي به په سلامتيا سره جنت ته داخل شئ.

[دا حديث امام احمد (٢٤٣٠٧)، ترمذي (٢٤٨٥)، ابن ماجه (١٣٣٤) روايت کړى، او الباني صحيح بللى]

عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د تهجدو په لمونځ کې زر آياتونه ولولي، هغه به د منقنطرين له ډلې څخه وشميرل شي.

[دا حديث ابو داود (١٣٩٨) روايت کړى، او الباني صحيح بللى]

په غنيمت عمل

## ٢١١ غنيمت

### ٤٢ - د سورة الملك لوستل

**فضيلت:** جنت ته داخليدل، دا سورت د لوستونکي لپاره شفاعت کوي

**دليل:** انس بن مالك رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: (سورت الملک) به د لوستونکي لپاره بحث او مباحثه کوي، ترڅو چې جنت ته يې داخل کړي.

[دا حديث طبراني په الأوسط (٣٦٥٤) او په الصغير (٤٩٠) کې روايت کړى، هيثمي وايي: ددې حديث راويان د بخاري راويان دي.

ابو هريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: په قرآن کې يو سورت دى، چې ديرش ٣٠ آياتونه لري، د لوستونکي لپاره به شفاعت کوي، تر څو چې جنت ته يې داخل کړي: ﴿تَبَارَكَ الَّذِى بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾.

[دا حديث ابن ماجه (٣٧٨٦)، نسائي په الكبرى (١٠٤٧٨) کې روايت کړى، او الباني صحيح بللى]

په غنیمت عمل

## ۲۱۲ غنیمت

**٤٣ -شهادة أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له وأن محمدا عبده ورسوله ...**

**فضیلت:** د دې عمل له امله به د جنت له اته دروازو څخه چې په هره دروازه چې وغواړي داخلېدل.

**دلیل:** عبادة بن الصامت رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې دا اقرار وکړي چې: الله زموږ رب دي، چې هيڅ ډول شريک نه لري، محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی، عیسی علیه السلام د الله بنده او رسول دی، بلکي د الله یوه کلمه ده، او د هغې له لوري يو روح دی، څوک چې دا اقرار وکړي، په الله باندې حق دی چې په هر عمل کې اخته وي، جنت ته داخل کړي. د بخاري په روایت کې دي: د جنت په اتوو دروازو کې چې په کومې داخليږي.

[البخاري (٣٤٣٥)، مسلم ٢٨]

په غنیمت عمل

## ۲۱۳ غنیمت

**٤٤ -مبرور حج**

**فضیلت:** جنت ته داخلېدل.

**دلیل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د مبرور (له گناه پاک) حج بدله یوازې جنت دی.

[البخاري (١٧٧٣)، مسلم ١٣٤٩]

په غنیمت عمل

## ۲۱۴ غنیمت

**٤٥ -ریښتني توبه**

**فضیلت:** جنت ته داخلېدل.

**دليل:** ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ﴾ [التحريم: ٨]

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو الله ته توبه وباسئ خالصه رښتيني توبه، اميد دى چې ستاسو رب به له تاسو نه ستاسو ګناهونه ورژوي او تاسو به داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهيږي.

**۲۱۵ غنيمت**

په غنيمت عمل

### ٤٦ -له لويو ګناهونو ځان ساتل

**فضيلت:** جنت ته داخلېدل.

**دليل:** ﴿إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا كَرِيمٗا﴾ [النساء: ٣١].

كه چېرې تاسو له هغو غټو ګناهونو نه ځان وساتئ، چې تاسو ترې منع كولى شئ (، نو) مونږ به له تاسو نه ستاسو (واړه) ګناهونه لرې كړو او ډېر د عزت ځاى ته به مو داخل كړو.

**۲۱٦ غنيمت**

په غنيمت عمل

### ٤٧ - مور او پلار سره نيكي

**فضيلت:** جنت ته داخلېدل.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پوزه يې په خاورو ككړه شه، پوزه يې په خاورو ككړه شه، پوزه يې په خاورو ككړه شه. چا وويل: د چا اې د الله رسوله! ويې فرمايل: څوک چې په خپل ژوند كې بوډا مور او پلار دواړه ومومي، يا يو وومومي، او بيا هم جنت ته داخل نه شي.

[مسلم ٢٥٥١]

عیاض بن مرثد یا مرثد بن عیاض العامري رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: یو تن د رسول الله ﷺ څخه د هغه عمل په اړه وپوښتل چې جنت ته یې داخل کړي، هغه ورته وویل: ایا په مور او پلار کې دې کوم یو ژوندی دی؟ هغه ورته وویل: نه، درې ځل یې پوښتنه وکړه، بیا یې ورته وویل: خلکو ته اوبه ورکړه، خلکو ته اوبه ور ورسوه کله چې هغوی نه وي، او حاجت یې پوره کړه کله چې هغوی حاضر وي.

[دا حدیث طبراني په الکبیر (١٠١٤) کې روایت کړی، هیثمي: راویان یې د بخاري دي]

ابو درداء رضي الله عنه وایي، چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل، چې ویې ویل: مور او پلار د جنت منځنۍ دروازه ده، که غواړې یا دا دروازه ضایع کړه، او یا یې ساتنه وکړه.

[دا حدیث امام احمد (٢٨١٥٩)، ترمذي (١٩٠٠) الفاظ د ترمذي دي، وابن ماجه (٣٦٦٣) روایت کړی، او ابن ماجه صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ٢١٧ غنیمت

### ٤٨ - پر ابتلا صبر کول

**فضیلت:** جنت ته داخلېدل.

**دلیل:** ابن عباس رضي الله عنهما وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: که چیرته صبر وکړې، ستا لپاره به جنت وي.

[البخاري (٥٦٥٢)، ومسلم ٢٥٧٦]

په غنیمت عمل

## ٢١٨ غنیمت

### ٤٩ - روژې نیول، جنازې پسې تلل، مسکین ته خوراک ورکول، او د ناروغ پوښتنه

**فضیلت:** جنت ته داخلېدل.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دا كارونه چې په يو تن كې راجمع شول، جنت ته به داخليږي.

[مسلم ١٠٢٨]

په غنيمت عمل

## ٢١٩ غنيمت

### ٥٠ - د علم طلب

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چې د علم د حصول لاره ونيسي، الله به ورته د همدې لارې په بركت د جنت لاره آسانه كړي. [مسلم ٢٦٩٩]

په غنيمت عمل

## ٢٢٠ غنيمت

### ٥١ –رښتيا ويل

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: رېښتيا ويل انسان نېكۍ ته رسوي، او نېكي بيا انسان جنت ته رسوي. يو تن تل رېښتيا وايي تر هغې چې د الله په وړاندې رېښتينى وليكل شي.

[البخاري ٦٠٩٤، مسلم ٢٦٠٦]

په غنيمت عمل

## ٢٢١ غنيمت

### ٥٢ - د سلام خپرول

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو به جنت ته لاړ نه شئ تر څو چې ايمان ونه راوړئ، او ايمان به مو پوره نه وي تر څو چې يو بل سره مينه و نه كړئ.

آیا زه تاسو ته داسې یو څه و نه ښیم چې که هغه وکړئ، نو یو بل سره به مینه پیدا کړئ؟ خپلمنځی سلام خپور کړئ. [مسلم ٥٤]

په غنیمت عمل

## ٢٢٢ غنیمت

**٥٣ - د مسلمانانو له لارې څخه ضرري شیان لرې کول، لکه د ونې څانګه چې خلکو ته زیان رسوي**

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل.

**دلیل:** د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: یو سړی د لارې پر سر د یوې ونې له څانګې تېرېده، نو ویې ویل: پر الله قسم، زه دا څانګه له مسلمانانو لرې کوم، ترڅو هغوی ته ضرر ونه رسوي، نو الله هغه سړی جنت ته داخل کړ .

[مسلم: ١٩١٤]

له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ما یو سړی ولید چې په جنت کې ګرځیدو، دا هغه سړی و چې یوه ونه یې له لارې پرې کړې وه، چې خلک یې ازارول.

[مسلم: ١٩١٤]

په غنیمت عمل

## ٢٢٣ غنیمت

**٥٤ - پوره اوداس کول، او بیا دا دعا ویل: أشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمداً عبد الله ورسوله**

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل.

**دلیل:** د عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو څخه څوک چې اودس وکړي، او پوره اودس وکړي، بیا ووایي: أشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمداً عبد الله ورسوله، نو د جنت ټولې اته دروازې به ورته پرانیستل شي، له هرې دروازې چې وغواړي، ننوتلای به شي. [مسلم: ٢٣٤]

په غنیمت عمل

# ۲۲۴ غنیمت

## ۵۵ – د الله تعالی ۹۹ ښکلي نومونه یاد ساتل

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل.

**دلیل:** د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی نهه نوي ۹۹ نومونه لري، که څوک یې یاد کړي جنت ته به داخل شي. [البخاري: ٦٤١٠، مسلم: ٢٦٧٧]

په غنیمت عمل

# ۲۲۵ غنیمت

## ۵٦ – خلکو ته اوبه ورکول سقیا الماء

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل.

**دلیل:** د عیاض بن مرثد رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: یو سړي له رسول الله ﷺ څخه د هغه عمل په اړه وپوښتل چې انسان جنت ته داخلوي؟ هغه وفرمایل: ایا ستا له مور او پلار څخه کوم یو ژوندي شته؟ هغه وویل: نه، رسول الله ﷺ تري دري ځله دا پوښتنه وکړه، بیا یې ورته وفرمایل: خلکو ته اوبه ورکوه، کله چې هغوی نه وي، نو اوبه ورته ورسوه، او کله چې وي، نو په اوبو یې ماړه کړه.

[دا حدیث طبراني په الکبیر ١٠١٤ کې روایت کړي، هیثمي وایي: راویان دیې د صحیح بخاري راویان دي]

په غنیمت عمل

# ۲۲٦ غنیمت

## ۵۷ – خلکو ته خواړه ورکول

**فضیلت:** جنت ته ننوتل

**دلیل:** د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی، هغه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: ...خلکو ته خواړه ورکړئ، سلام خپور کړئ، نو تاسو به په امن سره جنت ته داخل شئ.

[أحمد ٦٩٦٧، او الترمذي ١٨٥٥، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۲۷ غنیمت

### ۵۸ – له گناه وروسته استغفار کول او په گناه ټینګ نه پاتې کېدل

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل.

**دلیل:** ﴿وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ * الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ * وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ [آل عمران: ۱۳۳ - ۱۳۵]

او تاسو له یو بل نه تلوار کوئ هغه مغفرت بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې په اندازه دی، د پرهېزګارانو لپاره تیار کړې شوی دی، هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ او تنګۍ کې او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي او خلقو ته معافي کوونکي وي او الله نېکي کوونکي خوښوي، او هغه کسان چې کله څه فاحش کار وکړي، یا په خپلو ځانونو بل ظلم وکړي نو الله یاد کړي، او ورپسې د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي، او بل خوك دی چې ګناهونه وبخښي غیر له الله نه؟ او څه چې دوی کړي وي په هغې اصرار کلکوالی و نه کړي، په دې حال کې چې دوی پوهېږي.

په غنیمت عمل

## ۲۲۸ غنیمت

### ۵۹ – د مؤذن له اذان سره د زړه نه په یقین سره متابعه کول

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل.

**دلیل:** د عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روایت دی، هغه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې مؤذن ووایي: الله اکبر، الله اکبر، نو تاسو هم ووایاست: الله اکبر، الله اکبر. کله چې مؤذن: أشهد أن لا إله الله؛ نو تاسې هم أشهد أن لا إله الله ووایئ، کله چې مؤذن:

نو تاسې هم أشهد أن لا إله الله ووايئ، كله چې مؤذن: أشهد أن محمدا رسول الله ووايي؛ نو تاسې هم: أشهد أن محمدا رسول الله ووايئ. كله چې مؤذن: حي على الصلاة ووايي؛ نو تاسې لاحول ولاقوة إلا بالله ووايئ. كله چې مؤذن: حي على الفلاح ووايي؛ نو تاسې لاحول ولاقوة إلا بالله ووايئ، كله چې مؤذن: الله أكبر الله أكبر ووايي؛ نو تاسې هم الله أكبر الله أكبر ووايئ، تر دې چې كله لا إله إلا الله ووايي؛ نو تاسې هم لا إله إلا الله ووايئ، كه څوک دا په يقين سره ووايي، هغه به جنت ته داخل شي. [مسلم: ٣٨٥]

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د مؤذن په څېر دا ووايي، د زړه له يقين سره، نو هغه به جنت ته داخل شي. [دا حديث ابن حبان ١٦٦٧ روايت كړی، ابن حبان او الباني دواړو صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ٢٢٩ غنيمت

### ٦٠ - د هر فرضي لمونځ وروسته آيت الكرسي لوستل

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** ابو امامه رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د هر فرض لمونځ وروسته آيت الكرسي ولولي، هغه به له مرگ پرته بل هيڅ څه جنت ته د تللو څخه بند نه كړي.

[دا حديث نسائي په الكبرى ٩٨٤٨ كې روايت كړي، ابن حبان، سيوطي او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ٢٣٠ غنيمت

### ٦١ –سهار او بيگاه په يقين سره سيد الاستغفارويل اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت...

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** شداد بن اوس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: سيد الاستغفار د دا دی چې ته ووایې: اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت، خلقتني وأنا عبدك، وأنا على عهدك ووعدك ما استطعت، أعوذ بك من شر ما صنعت، أبوْ لك بنعمتك عليّ، وأبوْ بذنبي، فاغفر لي، فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت.
بیا یې وفرمایل: که څوک دا د ورځې په پوره یقین سره ووایي او د ماښام له راتلو مخکې وفات شي، دا به جنتي وي، او څوک چې دا د شپې په پوره یقین سره ووایي او د سهار له راتلو مخکې وفات شي، دا به جنتي وي. [البخاري: ٦٣٠٦]

په غنيمت عمل

## ٢٣١ غنيمت

### ٦٢ - د پیشلمي پر وخت استغفار او ښښنه غوښتل

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ * وَاخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ * كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ * وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ﴾ [الذاريات: ١٥-١٨].

بېشکه متقيان پرهېزګاران به په جنتونو او چينو کې وي، په داسې حال کې چې هغه څه لره به نيوونکي وي چې دوی ته يې د دوی رب ورکوي، بېشکه دوی له دې نه مخکې نېکي کوونکي وو، دوی به د شپې په لږه برخه کې ویده کېدل، او په چرګ بانګونو کې به دوی استغفار کاوه.

په غنيمت عمل

## ٢٣٢ غنيمت

### ٦٣ - تږو حيواناتو ته اوبه ورکول

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: يو سړی يوې څاه ته ورننوتی شو، ورښکته شو، اوبه يې ترې وڅښلې،

د څاه په غاړه يو سپی ولید، چې د تندې له امله يې خپله ژبه راویستې ده، دې سړي پرې شفقت وکړ، خپله یوه موزه يې وویسته، له اوبو يې راډکه کړه، او سپي ته يې اوبه ورکړې، الله يې دا عمل قبول کړ، او جنت ته يې داخل کړو.

[دا حدیث ابن حبان روایت کړي او صحیح يې بللی ٥٤٣]

پە غنیمت عمل

## ٢٣٣ غنیمت

### ٦٤ - د قاضي او متقاضي ترمنځ غوره معامله کول

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل.

**دلیل:** عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړی په ښه معامله کولوجنت ته داخل شو کله به چې هغه قاضي و، او یا به متقاضي یعني غوښتونکی وو.

[دا حدیث امام أحمد ٧٠٨٢ روایت کړي، او أحمد شاکر صحیح بللی].

پە غنیمت عمل

## ٢٣٤ غنیمت

### ٦٥ -زړه ته ګران تن په مرګ د صبر ثواب

**فضیلت:** جنت ته داخلیدل.

**دلیل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله وايي: زما د هغه مؤمن بنده لپاره چې زه يې په دنیا کې زړه ته ګران او عزیز تن روح قبض کړم او هغه صبر وکړي بدله جنت دی. [البخاري: ٦٤٢٤]

په غنيمت عمل

## ۲۳۵ غنيمت

### ٦٦ - حيا لرل

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې هغه فرمايي: حيا د ايمان برخه ده، او د ايمان بدله جنت دی.

[دا حديث امام احمد ۱۰٦٦۱ ، الترمذي ۲۰۰۹ روايت کړي، ذهبي او الباني دا حديث صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۳٦ غنيمت

### ٦۷ - د سورة اخلاص سره محبت

**فضيلت:** جنت ته داخليدل.

**دليل:** انس بن مالک رضي الله عنه وايي: يو انصاري چې د قباء مسجد کې يې د خلکو امامت کوو، هر کله به يې چې په سورت پيل کوو، د اخلاص سورت به لوستلو، نو کله چې رسول الله ﷺ ورته راغی، هغوی په دې کار باندې خبر کړ، رسول الله ﷺ ورته وويل چې ته ولې دا سورت په هر رکعت کې لولې؟ هغه امام ورته وويل: اې د الله رسوله ! زه دې سورت سره محبت لرم، رسول الله ﷺ ورته وويل: له دې سورت سره ستا محبت به تا جنت ته داخلوي.

[دا حديث ترمذي ۲۹۰۱ روايت کړی، ابن العربي او الباني دا حديث صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۳۷ غنيمت

### ٦۸ - د مصيبت په وخت کې تسليت ورکول

**فضيلت:** هغه څوک چې په قيامت کې د عزت لباس له دې ترلاسه کوي.

**دليل:** محمد بن عمرو بن حزم رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

هيڅ مؤمن خپل ورور ته د مصيبت په وخت کې تسليت نه ورکوي، مگر الله تعالی هغه ته د قيامت په ورځ د عزت لباس ورکوي.

[ابن ماجه، ۱۶۰۱، او الباني دا حديث حسن بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۳۸ غنيمت

**۶۹ - د الله څخه درې ځله جنت غوښتل**

**فضيلت:** جنت هغه بنده ته د جنت د داخليدو دعا کوي.

**دليل:** انس بن مالک رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د الله څخه درې ځله جنت وغواړي، جنت ووايی: اې الله ته يې جنت ته داخل کړه.

[دا حديث امام احمد، ۱۳۳۷۵او ترمذي ۲۵۷۲، او نسائي په الکبری ۷۹۰۹، او ابن ماجه ۴۳۴۰، او ابن حبان ۱۰۱۴، سيوطي، الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۳۹-۲۴۴ غنيمت

**۷۰ - ۷۵ –د پادشاه عدل، په عبادت کې د ځوانانو ستر کيدل، د مساجدو سره زړه تړل، هغه کس چې يوه ښکلي او معتبره ښځه ترې غوښتنه وکړي او وتره وايي: زه له الله څخه ويرېږم، د صدقې پټول، او د ذکر په وخت کې د سترگو اوښکې بهيدل.**

**فضيلت:** د قيامت په ورځ د سايې يعنې سيورې لاندې وي.

**دليل:** ابو هريره رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وويل: اووه کسان به الله د قيامت په ورځ د سيورې لاندې کړي، چې د هغې پرته به بل سيوري نه وي: عادل امام، هغه ځوان چې د خپل رب په عبادت کې رالوی شي، هغه کس چې زړه يې په مساجدو پورې تړلی وي، هغه دوه کسان چې له يو بل سره د الله لپاره محبت کوي، يوځای کيدل او جدا کيدل د الله لپاره وي، هغه کس چې يوه ښکلي او مقام درلودونکي ښځه ترې غوښتنه وکړي او دا ورته ووايي چې زه له الله څخه ويرېږم، هغه کس چې صدقه يې داسې پټه وي چې کيڼ لاس يې

چې کینې لاس يې نه پوهيږي چې ښيي لاس څه ورکړل، او هغه څوک چې يوازې ځای کې د الله ذکر کوي، او سترګې يې راډکې شي، او اوښکې تري وبهيږي. [البخاري: ٦٦٠، او مسلم: ١٠٣١]

په غنيمت عمل

## ۲۴۵ غنيمت

### ٧٦ - د الله په لاره کې د وتلي مجاهد په سر سيورې کول

**فضيلت:** د قيامت په ورځ د سيورې يعنې سايې لاندې وي.

**دليل:** عمر بن الخطاب رضى الله عنه وايي، ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل: چا چې د يو په مجاهد سيورې وکړ، الله به په د قيامت په ورځ په سيورې وکړي.

[دا حديث امام احمد ١٢٨ او ابن ماجه روايت کړی دي، الأرناؤوط صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۴٦ غنيمت

### ٧٧ –عدل

**فضيلت:** د قيامت په ورځ به د الله په وړاندې د ملغلرو په منبرو ناست وي.

**دليل:** عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وويل: په دنيا کې عادل کسان به د قيامت په ورځ د ملغلرو په منبرو باندې د رحمان ذات په وړاندې ناست وي، ځکه چې دوی په دنيا کې عدل کړی وو.

[دا حديث امام احمد ٦٥٦٠ روايت کړی، احمد شاکر صحيح بللی]

شبكة الألوكة

## ۲۴۷ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۷۸ - د یوه مسلمان ورور په خوشالول، الله ته خوښ دي

**فضیلت:** د قیامت په ورځ خوشحالي.

**دلیل:** له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې له خپل مسلمان ورور سره په دا ډول مخامخ شي، چې هغه خوشاله کړي، نو الله به هغه بنده د قیامت په ورځ خوشحاله کړي.

[دا حدیث طبراني په الصغیر ۱۱۷۸، کې روایت کړی دی، هیثمي، دمیاطي او منذري حسن بللی]

## ۲۴۸ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۷۹ –په مسلمان پرده اچول

**فضیلت:** د قیامت په ورځ به پرې پرده واچول شي.

**دلیل:** له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر بنده چې په دنیا کې په بل بانديې پرده واچوي، الله به د قیامت په ورځ په دې پرده واچوي. [مسلم ۲۵۹۰]

عبدالله بن عمر رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په یو مسلمان پرده واچوي، الله پاک به د قیامت په ورځ په هغه پرده واچوي. [البخاري ۲٤٤۲، مسلم ۲٥۸۰]

په غنيمت عمل

## ۲۴۹ غنيمت

**۸۰ - د يوه ورور د اړتيا په حق کې تلل تر هغه مشکل يې حل شي**

**فضيلت:** د قيامت په ورځ چې قدمونه ښوييږي، ددې تن قدم به ثابت وي، په مسجد نبوي کې د يوې مياشت اعتکاف څخه غوره کار دی.

**دليل:** ابن عمر رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ... د خپل ورور د کومې اړتيا پوره کولو لپاره تلل راته په مسجد نبوي کې د يوې مياشتې د اعتکاف څخه غوره ګڼم، او څوک چې د خپل مسلمان ورور سره د هغې د اړتيا د پوره کولو لپاره ولاړ شي، ترڅو چې دا ستونزه يې حل شي، الله به يې د قيامت پر ورځ، چې قدمونه ښوييږي، د هغه قدم ټينګ وساتي.

[دا حديث طبراني ۱۳٦۴٦ روايت کړي، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۵۰ غنيمت

**۸۱ - د ويده کيدو پر وخت: اللهم أسلمت نفسي إليك ... دعا ويل**

**فضيلت:** مرګ به يې د فطرت په حالت کې وي.

**دليل:** براء بن عازب رضي الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله به چې رسول الله ﷺ خپل بستر ته ولاړ، نو په ښي اړخ به ويده شو، او بيا به يې ويل: (اللهم أسلمت نفسي إليك، ووجهت وجهي إليك، وفوضت أمري إليك، وألجأت ظهري إليك، رغبة ورهبة إليك، لا ملجأ ولا منجا منك إلا إليك، آمَنتُ بكتابك الذي أنزلت، ونبيك الذي أرسلت). او رسول الله ﷺ وفرمايل: چو څوک دا ووايي او په دغه شپه کې وفات شي، هغه د فطرت په حالت کې وفات شو.

[البخاري ٦۳۱۵ ،مسلم ۲۷۱۰]

## ٢٥١ غنيمت

په غنيمت عمل

### ٨٢ - په رمضان کې عمره کول

**فضیلت:** د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کې حج کولو ثواب، یا د حج برابر ثواب.

**دلیل:** ابن عباس رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د رمضان په میاشت کې عمره د یوه حج معادل یا زما په ملګرتیا کې حج کول.

[البخاري ١٨٦٣، مسلم ١٢٥٦]

ابن عباس رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د رمضان په میاشت کې یوه عمره کول، د حج برابر دي. او په بل روایت کې دي: زما په ملګرتیا کې د حج کولو سره معادل دي.

[البخاري ١٧٧٢، مسلم ١٢٥٦]

## ٢٥٢ غنيمت

په غنيمت عمل

### ٨٣ - د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کول، د لمر ختلو پورې د الله ذکر کول او بیا دوه رکعاته لمونځ ادا کول

**فضیلت:** د یو حج او یوې عمرې ثواب.

**دلیل:** انس رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړي، بیا د لمر تر ختلو پورې د الله ذکر وکړي او له هغې وروسته دوه رکعاته لمونځ ادا کړي، هغه ته د یو حج او عمرې برابر ثواب دی. رسول الله ﷺ وفرمایل: پوره ثواب، پوره ثواب، پوره ثواب.

[دا حدیث ترمذي ٥٨٦ روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۵۳ غنیمت

**۸۴ - سهار وختي مسجد ته د خير د زده کړې، او يا نورو ته د ښوولو لپاره تلل**

**فضيلت:** د حج ثواب.

**دليل:** ابو امامه رضي الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک سهار وختي مسجد ته لاړ شي، يوازې په دې نيت چې خپله څه زده کړي او يا نورو ته څه وښايي، هغه ته د کامل حج ثواب ورکول کيږي.

[دا حديث طبراني په الکبير ۷۴۷۳ کې روايت کړي، او الباني صحيح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۵۴ غنیمت

**۸۵ - د ذي الحجې د مياشتې په لومړی لسو ورځو کې نيک عملونه کول**

**فضيلت:** د الله په لاره کې د جهاد څخه هم غوره دی، پرته له هغه مجاهد څخه چې خپل ځان او مال د الله په لاره کې ورکړي، او بيا بيرته هيڅ رانه شي.

**دليل:** ابن عباس رضي الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د دې لسو ورځو په څير هيڅ داسې ورځې نشته چې په هغې کې نيک عملونه د الله ته ډير خوښ وي، او نه جهاد د الله په لاره کې، پرته له هغه مجاهد چې خپل ځان او مال د الله په لاره کې ورکړي، او بيا بيرته هيڅ رانه شي.

[دا حديث امام احمد ۱۹۹۳، ابو داود ۲۴۳۸ روايت کړي، او الباني صحيح بللی]

## ۲۵۵ غنيمت

په غنيمت عمل

### ۸۶ – د کونډې او مسکين پالنه

**فضيلت:** د الله په لاره کې د مجاهد ثواب، د ټول عمر روژې او د بې وقفې عبادت ثواب.

**دليل:** له ابوهريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک چې د کونډې او مسکين پالنه کوي، د الله په لاره کې د جهاد کوونکي په څېر دی. او ګومان کوم چې نبي ﷺ وفرمايل: د هغه چا په څېر دی چې بې‌وقفې عبادت کوي، او د هغه چا په څېر دی چې تل روژه وي.

[البخاري: ٦٠٠٧، مسلم: ٢٩٨٢]

## ۲۵٦ غنيمت

په غنيمت عمل

### ۸۷ – د مجاهد تجهيزول، تر هغې چې جګړې ته ولاړ شي

**فضيلت:** د الله په لاره کې د مجاهد اجر.

**دليل:** له زيد بن خالد رضي الله عنه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې يو مجاهد د الله په لاره کې جګړې ته تيار کړ، داسې ده لکه نومورې خپله جهاد وکړ.

[البخاري: ٢٨٤٣، مسلم: ١٨٩٥]

له عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې يو مجاهد تجهيز کړ، تر هغې چې جګړې ته ولاړ، الله به ورته د هغه په برابر ثواب ورکړي، تر هغې وخته پورې چې يا خو وفات شي، يا بيرته راستون شي.

[دا حديث امام احمد ١٢٨، ابن ماجه ٢٧٥٨ کې روايت کړی دی، او أرناؤوط صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۵۷ غنيمت

**۸۸ – په ښه نيت د مجاهد د کور کارونو ترسره کول**

**فضيلت:** د الله په لاره کې د مجاهد اجر.

**دليل:** له زيد بن خالد رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې يو مجاهد د الله په لاره کې تيار کړ، نو داسې ده لکه نومونړي چې خپله جهاد وکړ. [البخاري: ۲۸۴۳، مسلم: ۱۸۹۵]

په غنيمت عمل

## ۲۵۸ غنيمت

**۸۹ – د هرې مياشتې درې روژې نيول**

**فضيلت:** د ټول عمر د روژې اجر، او د ثواب لس چنده زياتوالی.

**دليل:** له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله ﷺ په ما رادا خل شو، او راته يې وفرمايل: ته چې د هرې مياشتې درې ورځې روژه ونيسې، د ستا لپاره بسنه کوي، ځکه چې هره نېکي لس چنده حسابېږي، نو دا د ټول عمر د روژې په څېر کېږي. [البخاري: ۶۱۳۴، مسلم: ۳۴۱۸]

په غنيمت عمل

## ۲۵۹ غنيمت

**۹۰ – د رمضان د روژو وروسته د شوال شپږ روژې نيول**

**فضيلت:** د ټول عمر د روژې اجر.

**دليل:** له ابو أيوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل :چا چې د رمضان روژې ونيولې، او بيا يې ورپسې د شوال د مياشتې شپږ روژې ونيولې، داسې ده لکه دا چې ټول عمر روژه وي. [مسلم: ۱۱۶۴]

په غنیمت عمل

## ۲۶۰ غنیمت

**۹۱ - د جمعې په ورځ غسل کول، دوخته په پښو مسجد ته تلل، امام ته نږدې خاموشه کیناستل او خبرې نه کول**

**فضلیت:** د یو کال روژې او د یو کال قیام اجر.

**دلیل:** اوس بن اوس ثقفي رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه د جمعې په اړه واورېدل: څوک چې غسل وکړي، بیا سهار د وخته په پښو (مسجد ته) روان شي، او په سپرلۍ لاړ نه شي، امام ته نږدې ځاې کې خاموشه کیني او خبرې ونه کړي؛ نو ددې تن لپاره به یو کال روژې او یو کال قیام اجر ورکول کېږي.

[دا حدیث امام احمد ۱٦٤۲٦، نسائي په الکبری ۱٦۹۷، ابو داود ۳٤٥ روایت کړی دی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲٦۱ غنیمت

**۹۲ - د روژه دار ته افطار ورکول**

**فضیلت:** د روژې اجر.

**دلیل:** زید بن خالد الجهني رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې روژه دار ته افطار ورکړي، نو هغه ته د روژه دار په څیر اجر ورکول کېږي، پرته له دې چې د روژه دار په اجر کې به هیڅ کمښت رانشي.

[دا حدیث ترمذي ۸۰۷ روایت کړی، سیوطي او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲٦۲ غنیمت

### ۹۳ -سل ځله د الله تسبیح ویل

**فضیلت:** زر نیکۍ او د سل مسلمانانو غلامانو آزادولو اجر.

**دلیل:** ام هاني بنت ابی طالب رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سل ځله د الله تسبیح وایه، ځکه دا د اسماعیل علیه السلام د اولاد څخه د سلو غلامانو آزادولو سره برابر عمل دی.

[دا حدیث امام احمد ۲۷۵۵۳، نسائي په الکبری ۱۰٦۱۳ کې روایت کړي دی، او الباني حسن بللی]

سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه وايي موږ د رسول الله ﷺ په مجلس کې وو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: آیا تاسو کې څوک نه غواړي چې هره ورځ زر نیکۍ ترلاسه کړي؟ په ناستو کې یو تن پوښتنه تري وکړه، څه ډول به یو تن زر نیکۍ ترلاسه کړي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: سل ځله دې تسبیح ووايي، نو زر نیکي به ورته ولیکل شي، یا زر ګناهونه به يې پاک شي. [مسلم ۲٦۹۸]

په غنیمت عمل

## ۲٦۲ غنیمت

### ۹۴ - (لا إله إلا الله وحده لا شریک له له، له الملک وله الحمد وهو على کل شی قدیر) سل ځله ویل

**فضیلت:** د لسو غلامانو آزادولو اجر، او دا کلمه به د اسمان او ځمکې ترمنځ ځای ډک کړي، او زر نیکۍ

**دلیل:** ابو هریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې دا کلمه (لا إله إلا الله وحده لا شریک له له، له الملک وله الحمد وهو على کل شی قدیر) په یوه ورځ کې سل ځله ووايي؛ نو هغه ته به د لسو غلامانو آزادولو اجر ورکول کېږي، او زر نیکۍ به يې ولیکل شي. [البخاري ۳۲۹۳ مسلم ۲٦۹۱]

په غنيمت عمل

## ۲۶۳ غنيمت

**۹۴ - (لا إله إلا الله وحده لا شريک له له، له الملک وله الحمد وهو على كل شى قدير) ۱۰۰ ځله ويل**

**فضيلت:** د ۱۰ غلامانو آزادولو اجر، او دا کلمه به د اسمان او ځمکې ترمنځ ځای ډک کړي، او زر نيکۍ

**دليل:** ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خوک چې دا کلمه (لا إله إلا الله وحده لا شريک له له، له الملک وله الحمد وهو على كل شى قدير) په يوره ورځ کې سل ځله ووايي؛ نو هغه ته به د لسو غلامانو آزادولو اجر ورکول کيږي، او زر نيکۍ به يې وليکل شي.[البخاري ۳۲۹۳ مسلم ۲۶۹۱]

أم هاني بنت ابى طالب رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سل ځله تهليل ووايه. ابن خلف وايي: زما په گومان چې داسې وويل: دا کلمه به د اسمان او ځمکې ترمنځ ځای به ډک کړي، او هيڅ چا عمل په دې وځې پورته نه کړل شي، پرته له هغه چا چې ددې په اندازه يې دا عمل کړې وي، او يا يې له دې زيات.

[دا حديث امام احمد ۲۷۵۵۳ ، نسائي په الکبرى ۱۰٦۱۳ کې روايت کړی، او الباني حسن بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۶۴ غنيمت

**۹۵ -(لا إله إلا الله وحده لا شريک له له، له الملک وله الحمد وهو على كل شى قدير) لس ځله ويل**

**فضيلت:** د څلور مسلمانو غلامانو آزادولو اجر.

**دليل:** عمرو بن ميمون رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خوک چې دا کلمه (لا إله إلا الله وحده لا شريک له له، له الملک وله الحمد وهو على كل شيء قدير) لس ځله ووايي، نو هغه ته د اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه د څلورو غلامانو آزادولو اجر ورکول کيږي. [البخاري ٦٤٠٤، مسلم ۲٦۹۳، الفاظ د مسلم دي]

په غنيمت عمل

## ٢٦٥ غنيمت

### ٩٦ - د بيت الله څخه طواف کول او بيا دوه رکعته لمونځ کول

**فضيلت:** د يوه غلام آزادولو اجر، او په هر قدم يوه نيکي.

**دليل:** عبد الله بن عمر رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل: څوک چې د دې کور (کعبې) څخه اوه طوافونه وکړي او هغه وشماري؛ نو د هغه لپاره به د يو غلام د ازادلو په اندازه اجر وي.

[دا حديث ترمذي ٩٥٩ احمد ٤٥٤٨ روايت کړي دي، او الباني صحيح بللی]

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د بيت الله طواف وکړي او بيا دوه رکعتونه لمونځ وکړي، نو هغه ته د يو غلام د آزادولو اجر ورکول کېږي. [ابن ماجه ٢٩٥٦، او الباني صحيح بللی]

عبد الله بن عمر رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې ويې فرمايل: څوک چې د بيت الله څخه اوه طوافونه وکړي په هر قدم کيښودلو او پورته کولو به يې ګناهونو معاف شي، او نيکی به ورته وليکل شي، او يوه درجه به يې لوړه شي. [دا حديث امام احمد ٤٥٤٨، ابن حبان ٣٦٩٧، ترمذي ٩٥٩ روايت کړی دی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ٢٦٦ - ٢٦٨ غنيمت

### ٩٧ - ٩٩ يو چا ته شيدې لرونکي څاروی ورکول، يا د مال مرسته کول، او يا چا ته د لارې ښودل

**فضيلت:** د غلام د آزادولو اجر.

**دليل:** براء بن عازب رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې بل مسلمان ته د شيدو ورکولو لپاره يوه وزه، غوا يا اوښه ورکړه (يعنې موقتي ګټه‌يې ورکړه)، يا چا ته يې پيسې پور ورکړې،

يا يې يوه لاروی ته سمه لاره وښوده، نو ده ته داسې اجر ورکول کېږي لکه چې يې يو غلام آزاد کړی وي .
[دا حديث امام احمد ١٨٨١٠، ترمذي ١٩٥٧ روايت کړی دی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ٢٦٩ غنيمت

### ١٠٠ - سل ځله د الله حمد ويل

**فضيلت:** د الله په لاره کې د سل زين شو، اسونو برابر اجر.

**دليل:** ام هاني بنت ابی طالب رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سل ځله د الله حمد ووايه، ځکه دا د سلو زين شوو اسونو برابر اجر لري. [دا حديث امام احمد ٢٧٥٥٣، نسائي په الکبرى ١٠٦١٣ کې روايت کړي، او الباني حسن بللی]

په غنيمت عمل

## ٢٧٠ غنيمت

### ١٠١- (الحمد لله عدد ما خلق...) او په دې اندازهد الله تسبيح ويل

**فضيلت:** دا کار د شپې او ورځې له دوامدار ذکر څخه هم زيات دی

**دليل:** د ابوامامه رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: رسول الله ﷺ زه وليدلم، چې ما شونډې مې ښورولې، نو ويې وفرمايل: اې ابوامامه! ته څه وايې؟ ما وويل: د الله ذکر کوم .نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: آيا زه تا ته داسې الفاظ ونه ښايم چې د شپې او ورځې د دوامداره ذکر نه هم زيات وي؟ داسې وايه: (الحمد لله عدد ما خلق، والحمد لله ملءَ ما خلق، والحمد لله عدد ما في السماوات وما في الأرض، والحمد لله عدد ما أحصى كتابه، والحمد لله ملءَ ما أحصى كتابه، والحمد لله عدد كل شيء، والحمد لله ملءَ كل شيء، او د همدې الفاظو په ځېر د الله تسبيح ووايه. بيا يې راته وفرمايل: دا کلمات خپلو اولادونو ته هم ورزده کړه، تر څو تر تا وروسته هغوی هم دا ذکر وکړي. [دا حديث امام احمد ٢٢٥٧٣، نسائي په الکبرى ٩٩٢١، طبراني په الکبير ٧٩٥٦ کې روايت کړي دی، او الباني صحيح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۷۱ غنیمت

**۱۰۲ - (سبحان الله وبحمده، عدد خلقه، ورضا نفسه، وزنة عرشه، ومداد کلماته) درې ځله ویل**

**فضیلت:** که دا ذکر د ډېر زیات ذکر سره وتلل شي، نو دا به تر هغو درونــد شي.

**دلیل:** له جویریه رضی الله عنها نه روایت دی، وايي رسول الله ﷺ د سهار لمانځه وروسته له ما ووت، او زه خپل عبادت ځای کې ناسته وم، چې رسول الله ﷺ د ځاښت وخت بیرته راستون شو، ما ته یې وفرمایل: زه چې درڅخه لاړم تر اوسه هماغسې ناسته یې؟ ما وویل: هو .نو ویې وفرمایل: ما له تا وروسته ځلور کلمې درې ځلې وویلې، که ستا د نن ورځ ټول ذکر سره وتلل شي، نو زما ذکر به تر هغه زیات درونـد وي :سبحان الله وبحمده، عدد خلقه، ورضا نفسه، وزنة عرشه، ومداد کلماته. [رواه مسلم ۲۷۲٦]

په غنیمت عمل

## ۲۷۲ غنیمت

**۱۰۳ - لا حول ولا قوة إلا بالله ویل**

**فضیلت:** د جنت له خزانو څخه یوه خزانه ده.

**دلیل:** له ابوموسی اشعري رضی الله عنه نه روایت دی، وايي: رسول الله ﷺ راته وفرمایل: ایا تا ته د جنت د خزانو څخه د یوې خزانې کلمات درونه ښایم، یایې داسې وویل: آیا د جنت له خزانو یوه خزانه درونه ښایم؟ زما ورته وویل: ولې نه! نو ویې وفرمایل: لا حول ولا قوة إلا بالله وایه، ځکه دا د جنت له خزانو څخه یوه خزانه ده. [رواه البخاري ٦۳۸۴ ، مسلم ۲۷۰۴]

## ۲۷۳ غنیمت

په غنیمت عمل

**۱۰۴ – دوه لمونځونه یو په بل پسې په داسې حالت کې کول، چې د دواړو ترمنځ بې ځایه خبرې نه وي**

**فضیلت:** دا عمل به د علیین په دفتر کې ثبت شي.

**دلیل:** له ابوامامه رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه لمونځونه چې ترمنځ یې له بې ځایه خبرو نه وي، دا عمل به د علیین په دفتر کې لیکل کېږي.

[دا حدیث امام أحمد ۲۲۷۳۵ ، أبو داود ۱۲۸۸ روایت کړی، او ارناؤوط دا حدیث صحیح بللی]

## ۲۷۴ غنیمت

په غنیمت عمل

**۱۰۵ – د الله څخه په ریښتیونې ډول د شهادت غوښتنه**

**فضیلت:** د الله په لاره کې د شهید اجر به ورکول کېږي.

**دلیل:** له سهل بن حنیف رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د الله څخه په رښتینې نیت سره د شهادت غوښتنه وکړي، الله به یې د شهیدانو درجې ته ورسوي، که څه هم هغه په خپل بستر وفات شي.

[رواه مسلم ۱۹۰۹]

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په ریښتینې نیت سره شهادت وغواړي، نو هغه ته به د شهید اجر ورکړل شي، که څه هم شهادت ورته حاصل نه شي .

[رواه مسلم ۱۹۰۸]

پە غنیمت عمل

## ٢٧٥ غنیمت

### ١٠٦ – یوازې د نفل لمونځ یا د اشراق لمونځ ته په نیت تلل او مزل کول

**فضیلت:** د عمرې اجر به ورکول کېږي.

**دلیـل:** لـه ابوامامـه رضي الـلـه عنـه څخـه روایـت دی، رسـول الـلـه ﷺ وفرمایل: څوک چې د نفـل لمانځـه لپـاره پلـې ولاړ شي، نـو دا عمـل بـه ورته د کاملې عمرې په څېر اجر ولري. [دا حديث امام احمـد ٢٢٧٣٥ ، أبو داود ٥٥٨ روایت کړی، طبراني، او الباني حسن بللی]

له ابوامامه رضي الله عنه څخه روایـت دی، رسـول الـلـه ﷺ وفرمایـل: څوک چې د اشراق لمونځ لپاره ووځي او له هغـه پرتـه یـې بـل څـه یـې ستړی نه کړي، نو هغه تـه بـه د عمـرې د ادا کـوونکي پـه انـدازه اجـر ورکول کېـږي. [دا حـدیث امـام احمـد ٢٢٧٣٥، ابـو داود ٥٥٨ کـې روایـت کړی، الفاظ د ابو داود دي، الباني دا حديث حسن بللی]

پە غنیمت عمل

## ٢٧٦ غنیمت

### ١٠٧ – په مسجد قبا کې لمونځ کول

**فضیلت:** د عمرې اجر لري.

**دلیل:** له سهل بن حنیف رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د قبا مسجد په نیت له کوره راووځي، او هلته لمونځ وکړي، د یوې عمر برابر اجر به ولري.

[دا حديث نسائي په الکبری ٧٨٠ کې روایت کړي، او الباني صحیح بللی]

به غنیمت عمل

## ۲۷۷ غنیمت

### ۲۷۷ غنیمت
### ۱۰۸ – سل ځله د تکبیر ویل

**فضیلت:** په امیلونو د ښایسته سلو اوښانو د قبولې شوې قربانۍ د اجر برابر اجر.

**دلیل:** له ام هاني بنت أبي طالب رضي الله عنها نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: او سل ځله تکبیر ووایه، ځکه د دې عمل ثواب د هغو سل قرباني شو اوښانو په اندازه دی، چې آمیلونه یې په غاړه وي، او قرباني یې الله قبوله کړې وي. [دا حدیث امام احمد ۲۸۰۳۶ ، نسائي په الکبری ۱۰۶۱۳ کې روایت کړی، او الباني حسن بللی]

به غنیمت عمل

## ۲۷۸ غنیمت

### ۱۰۹ – په نیکۍ حکم او خلکو ته د هدایت بلنه ورکول

**فضیلت:** د صدقې اجر لري او چا چې یې خبره ومنله، د ده لپاره به د هغه سره برابر اجر وي.

**دلیل:** له ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل :د نیکۍ حکم کول یوه صدقه ده .[رواه مسلم ۷۲۰]

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل :څوک چې د هدایت طرف ته بلنه ورکړي، هغه ته به د ټولو هغو خلکو د عمل اجر ورکړل شي چې ورپسې روان شول، پرته له دې چې د هغوی له اجر څخه څه کم شي .[رواه مسلم ۲۶۷۴]

په غنيمت عمل

## ۲۷۹ غنيمت

### ۱۱۰ – له بديو او منكراتو خلک منع كول

**فضيلت:** د صدقې اجر.

**دليل:** له ابو ذر رضی الله عنه نه روايت دی چې نبی ﷺ وفرمايل: ...او له بديو څخه خلک منع كول هم صدقه ده. [مسلم ۷۲۰]

په غنيمت عمل

## ۲۸۰-۲۸۱ غنيمت

### ۱۱۱ او ۱۱۲ – د چا مرسته كول چې پر خپل څاروي سپور شي، يا د هغه بار سورلی ته ورپورته كول

**فضيلت:** د صدقې اجر.

دليل: له ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی چې نبی ﷺ وفرمايل : د انسان د بدن پر هر بند باندې هره ورځ صدقه لازمه ده، هره ورځ كې چې ته د يوه سړي سره مرسته كوې، هغه ته پر څاروي سپرېدل اسانه كوې، يا يې بار سورلی ته ورپورته كوې، نو دا هم صدقه ده. [البخاري ۲۸۹۱ ، مسلم ۱۰۰۹]

په غنيمت عمل

## ۲۸۲ غنيمت

### ۱۱۳ – د څاښت دوه ركعته لمونځ كول

**فضيلت:** د بدن د هر بند پر مقابل كې د صدقې اجر.

**دليل:** له ابو ذر رضی الله عنه نه روايت دی چې نبی ﷺ وفرمايل: د هر بنده د بدن په هر بند هر سهار صدقه لازم ده ... (بيا يې وفرمايل) د هربند د صدقې څخه كه د څاښت دوه ركعته لمونځ وكړي، دا ترې بسنه كوي. [مسلم ۷۲۰]

په غنیمت عمل

## ۲۸۳ غنیمت

### ۱۱۴ – سلف یعني قرض ورکول

**فضیلت:** د نیمي صدقې اجر.

**دلیل:** له ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې نبی ﷺ وفرمایل :قرض ورکول د نیمي صدقې ثواب لري. [دا حدیث امام احمد ۳۹۸۸ روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۸۴-۲۸۵ غنیمت

### ۱۱۵ او ۱۱٦ – د ماخوستن او سهار لمونځ په جماعت سره ادا کول

**فضیلت:** د ټولې شپې د قیام اجر.

**دلیل:** له عثمان بن عفان رضی الله عنه نه روایت دی، وایي ما له رسول الله ﷺ واورېدل، چې ویې فرمایل :چا چې ماخوستن لمونځ په جماعت وکړ، داسې ده لکه نیمه شپه یې چې عبادت کړی وي، او چا چې سهار لمونځ په جماعت سره وکړ، نو داسې ده لکه ټوله شپه یې چې لمونځ کړی وي. [مسلم ٦٥٦]

په غنیمت عمل

## ۲۸٦ غنیمت

### ۱۱۷– په مسجد الحرام کې لمونځ کول

**فضیلت:** د نورو ځایونو د سل زره لمونځونو څخه زیات اجر لري.

**دلیل:** له عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه روایت دی، وایي له رسول الله ﷺ مې واورېدل، چې ویې فرمایل: په مسجد الحرام کې یو لمونځ د نورو ځایونو له سل زره مونځونو کولو څخه غوره دی.

[دا حدیث امام احمد ۱۴۹۲۰، ابن ماجه ۱۴۰٦ روایت کړی، سیوطی او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۸۷ غنیمت

### ۱۱۸- په مسجد نبوي کې لمونځ کول

**فضیلت:** له زر مونځونو څخه غوره دی.

دلیل: له ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې نبی ﷺ وفرمایل: زما په مسجد کې یو لمونځ د نورو ځایونو له زرو مونځونو څخه غوره ده، پرته له مسجد حرام څخه . [البخاري ۱۱۹۰، مسلم ۱۳۹۴]

په غنیمت عمل

## ۲۸۸ غنیمت

### ۱۱۹ – د جماعت لمونځ یا د امام سره لمونځ کول

**فضیلت:** اجر یې اووه ویشت یا څه د پاسه اوویشت درجې دي، او اجر یې له پنځه ویشتو درجو غوره دی.

**دلیل:** له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د جماعت لمونځ د یوازیني لمونځ پرتله اووه ویشت درجې غوره دی. [البخاري ٦۴۵ ، مسلم ٦۵۰]

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د امام سره لمونځ کول، د هغه پنځه ویشتو لمونځونو څخه غوره دی چې خوک یې یواځې کوي. [البخاري ٦۴۸، مسلم ٦۴۹]

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسو الله ﷺ وفرمایل: ستاسې هغه لمونځ چې په جماعت سره یې کوئ، د هغه لمونځ څخه چې په بازار یا کور کې یې کوئ، څه د پاسه شل درجې زیات ثواب لري. [البخاري ۲۱۱۹، مسلم ٦۴۹]

په غنيمت عمل

## ۲۸۹ غنيمت

### ۱۲۰ – نفلي لمونځ په پټه یا په کور کې ادا کول

**فضيلت:** پنځه ویشت درجې ډېر اجر، او د فرض لمونځ فضيلت تر نفلي لمونځ غوره دی.

**دليل:** له صهيب رضی الله عنه نه روايت دی، دا وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :د یو کس نفلي لمونځ چې په پټه يې ادا کړي، له هغه لمونځ نه چې خلک يې ويني، پنځه ويشت چنده غوره دی. [دا حديث ابو يعلى په المطالب العالية د ابن حجر ۵۷۴ کې روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

له صهيب بن نعمان رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :د انسان لمونځ په خپل کور کې د هغه لمونځ په پرتله چې خلک يې ويني، داسې غوره دی لکه فرض لمونځ چې پر نافل لمونځ غوره دي. [دا حديث طبراني په الکبير ۷۳۲۲ کې روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۲۹۰ غنيمت

### ۲۱ - د قرآن کريم د يو توري (حرف) لوستل

**فضيلت:** يو نېکی، او دا يوه نېکي لس چنده کېږي، قرآن به يې د قيامت په ورځ شفاعت کوي.

**دليل:** عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د الله له کتاب څخه يو توری ووايي، نو ده ته به په هغه يو نېکي وي، او يوه نېکي په لسو ده، زه دا نه وايم چې الم يو توری دی، بلکې الف يو توری دی، لام بل توری دی، او ميم بل توری دی. [دا حديث ترمذي ۲۹۱۰ روايت کړی، سيوطي او الباني صحيح بللی]

ابو امامه باهلي رضی الله عنه وايي چې ما د الله رسول ﷺ څخه اورېدلی، چې ويل يې: قرآن لولئ، ځکه دا به د قيامت په ورځ د لوستونکو لپاره شفاعت کوي. [مسلم ۸۰۴]

په غنيمت عمل

## ۲۹۱ غنيمت

### ۱۲۲ - د مؤذن سره د اذان ويلو وروسته په رسول الله ﷺ درود ويل

**فضيلت:** لس چنده اجر به وركول كېږي.

**دليل:** عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما وايي، ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل، چې ويې فرمايل: كله چې اذان واورئ، نو مؤذن چې څه وايي تاسې هم هماغه ووايئ، د اذان وروسته بيا پر ما درود ووايئ، ځكه څوک چې پر ما يو ځل درود ووايي، الله به پرې لس ځله درود ووايي. [مسلم ۳۸۴]

په غنيمت عمل

## ۲۹۲ غنيمت

### ۱۲۳ -قرباني (حلاله) كول

**فضيلت:** د قيامت په ورځ به يې د ميزان په تله كې اجر له اوويا چنده زيات وي.

**دليل:** علي بن ابي طالب رضى الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ فاطمې رضى الله عنها ته وفرمايل: اې فاطمې! پاڅه او خپله قرباني دې ووينه، د هغې د لومړي څاڅكي وينې تويدو سره به الله ستا ټول گناهونه معاف كړي، د قيامت په ورځ به د قربانۍ څاروی د خپلو غوښو او وينو سره راوستلى شي، د ميزان په تله كې به د اوويا چندو څخه زيات دروند شي.

ابو سعيد خدري رضى الله عنه وويل: اې د الله رسوله! آيا دا د آل محمد لپاره خاص او ځانگړې ده، او كنه د آل محمد او د ټولو خلكو لپاره عمومي ده؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: بلكې دا د آل محمد او د عامو ټولو خلكو لپاره ده. [دا حديث بيهقي په الكبرى ۱۹۲۲۷ كې روايت كړي، سيوطي حسن بللى]

په غنیمت عمل

## ۲۹۳ غنیمت

### ۱۲۴ - سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ويل

**فضيلت:** د قيامت په ورځ د ميزان تله درنه وي.

**دليل:** ابو هريره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دوې كلمې دي، په ژبې ډېرې سپكې، د ميزان پّ تله كې ډېرې درنې، او د الله ته ډېرې خوښې دي، هغه: سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ دي.

[البخاري ٦٤٠٦، مسلم ٢٦٩٤]

په غنیمت عمل

## ۲۹۴ غنیمت

### ۱۲۵ - صبر كول

**فضيلت:** الله صبر كوونكو ته بې‌حسابه اجر وركوي.

**دليل:** ﴿إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ [الزمر: ١٠]

بېشكه يواځې صبر كوونكو ته د هغوی اجر بې حسابه پوره وركولې شي.

په غنیمت عمل

## ۲۹۵ غنیمت

### ۱۲۶ - د نارينه او ښځينه مومنانو لپاره ښښنه غوښتل

**فضيلت:** د هر مومن سړي او مومنې ښځې په مقابل كې به ورته يوه نېكي ليكل كېږي

**دليل :**عباده بن صامت رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د مومنانو سړو او ښځو لپاره ښښنه وغواړي، الله به ورته د هر مومن سړي او مومنې ښځې په بدل كې يوه نېكي وليكي.

[دا حديث طبراني په مسند الشاميين ۲۳۴/۳ كې روايت كړي، او الباني حسن بللی]

په غنیمت عمل

## ۲۹۶-۲۹۷ غنیمت

### ۱۲۷ او ۱۲۸ – له جنازې سره له کور څخه وتل، لمونځ پرې کول، تر تدفین پورې یې ملتیا کول؛ یا یواځې لمونځ پرې کول او بېرته ستنیدل

**فضیلت:** که څوک جنازې ته سره لاړ شي او لمونځ پرې وکړي، یو قیراط اجر لري؛ او که تر تدفین پورې ورسره پاتې شي، نو دوه قیراطه اجر لري.

**دلیل:** له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د جنازې لمونځ وکړي، هغه ته یو قیراط اجر ورکول کېږي، او څوک چې تر دفن پورې ورسره پاتې شي، هغه ته دوه قیراطه اجر ورکول کېږي. یو چا وپوښتل: قیراط څه ته وایي؟ ورته یې وفرمایل: د دوو غټو غرونو په اندازه اجر ته وایي. [البخاري ۱۳۲۵، مسلم ۹۴۵]

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي چې ما د رسول الله ﷺ واوریدل، چې ویې فرمایل: څوک چې له جنازې سره له کوره لاړ شي، لمونځ پرې وکړي، او تر تدفین پورې ورسره پاتې شي، هغه ته دوه قیراطه اجر ورکول کېږي، هر قیراط د احد غره په اندازه دي، او څوک چې یواځې لمونځ پرې وکړي او بېرته ترې لاړ شي، هغه ته به د احد د غره په اندازه اجر ورکول کېږي. [البخاري ۴۷، مسلم ۹۴۵، الفاظ د مسلم دي]

په غنیمت عمل

## ۲۹۸ غنیمت

### ۱۲۹– داسې دعا کول چې نه ورکې د ګناه څه وي او نه ورکې د خپلولۍ پریکون وي

**فضیلت:** اجر به یې د آخرت لپاره جمع شي.

**دليل:** له ابوسعيد رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم مسلمان چې داسې دعا وغواړي چې ګناه يا د خپلوۍ پرېکون په کې نه وي، الله ورته درې شيانو څخه يو ورکړي: يا به يې دعا قبوله شي، يا به يې اجر د آخرت لپاره جمع شي، يا به د هغې په اندازه به يې له ضرر څخه مخنيوی وشي. صحابو وويل: نو بيا بايد موږ ډېرې دعاګانې وکړو؟ هغه ورته وفرمايل: الله تر هر څه او هر چا زيات، بهتر، او کامل دی! [دا حديث امام احمد ١١٣٠٢ روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ٢٩٩ غنيمت

### ١٣٠ – د نيک عمل بنسټ ايښودل

**فضيلت:** د هغه کس اجر چې سنت پيل کړي، او د ټولو هغو کسانو اجر چې دا عمل تر ده وروسته ترسره کړي، به يو شان وي.

**دليل:** له جرير بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په اسلام کې يوه ښه سنت پيل کړي، نو د هغه اجر به ورته ورکړل شي، او همداراز د هغو ټولو کسانو اجر به هم ورکړل شي، چې دا عمل تر ده وروسته کوي، بې له دې چې د هغوی له اجره څه کم شي. [مسلم ١٠١٧]

په غنيمت عمل

## ٣٠٠ غنيمت

### ١٣١ – د نيک عمل نيت کول

**فضيلت:** د نيت له امله به د عمل اجر ورکول کېږي.

**دليل:** له ابوکبشه انماري رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړی چې الله ورته مال او علم ورکړی وي، او دا دواړه د الله په لاره کې کاروي؛ او بل سړی داسې وي چې علم ولري، خو مال ونلري، خو وايي:

که زه د فلاني غوندې وای، همدا کار به مې کاوه. نو دواړه به د اجر له مخې برابر وي. رسول الله ﷺ وفرمایل: دا دواړه په اجر کې سره برابر دي. [دا حدیث امام احمد ۱۸۳۰۹، ابن ماجه ۴۲۲۸ روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۳۰۱ غنیمت

### ۱۳۲ – د اذان په اورېدو سره مسجد ته حاضري او د لمونځ لپاره په لومړۍ صف کې ودرېدل

**فضیلت:** دومره اجر لري چې که خلک پوه شي، حاضرېدو لپاره به قرعه وکړي.

**دلیل:** له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: که خلک پوه شي چې د اذان او لومړي صف په فضیلت کې څومره خیر دی، نو که د قرعې پرته بله لار نه وي، نو قرعه به يې کولی. [البخاري ٦٥٢، مسلم ۴۳۷]

په غنیمت عمل

## ۳۰۲ - ۳۰۳ غنیمت

### ۱۳۳ او ۱۳۴ –په لومړۍ، یا دویمه یا درېیمه گوزار د وزغ وژنه

**فضیلت:** که وزغ په لومړي گوزار ووژل شي، سل نیکۍ لیکل کېږي، په دویم یا درېیم گوزار که ووژل شي، له لومړۍ يې نیکي کمه لیکل کېږي.

**دلیل:** له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې وزغ په لومړۍ ضربه ووژني، سل نیکۍ ورته لیکل کېږي؛ که په دویمه ضربه ووژني، نو تر هغې کمې، او که په درېیمه کې، نو تر هغې هم کمې نیکۍ ورکول کېږي. [مسلم ۲۲۴۰]

## ۳۰۴ -۳۰۶ غنيمت

په غنيمت عمل

### ۳۰۴ – ۳۰۶ غنيمتونه

### ۱۳۵ او ۱۳۷ – (السلام عليكم ورحمة الله وبركاته)، (السلام عليكم ورحمة الله)، (السلام عليكم)

**فضليت:** دريش نيکۍ، شل نيکۍ، لس نيکۍ.

**دليل:** له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی، چې يو سړی راغی رسول الله ﷺ ته راغي، ويې ويل: السلام عليكم. رسول الله ﷺ ورته د سلام جواب ورکړ، او ويې فرمايل: د دې لپاره لس نيکۍ شوې. بيا بل راغی، هغه وويل: السلام عليكم ورحمة الله. رسول الله ﷺ وفرمايل: د دې لپاره شل نيکۍ شوې. بيا بل تن راغی او هغه وويل: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته، او بيا کيناست، رسول الله ﷺ جواب ورکړ، رسول الله ﷺ وفرمايل: د دې لپاره دېرش نيکۍ شوې.

[دا حديث امام احمد ۲۰۲۶۷، ابو داود ۵۱۹۵، ترمذي ۲۹۸۹، نسائي ۱۰۰۹۷ روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

## ۳۰۷ غنيمت

په غنيمت عمل

### ۱۳۸ - د الله په لاره کې د څوکۍ او ساتنې په حالت کې مړينه

**فضيلت:** د مرگ وروسته تر قيامته پورې به يې اجر زياتېږي او دا کار به جاري وي.

**دليل:** له فضالة بن عبيد رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :هر مړ شوی کس باندې د هغه عمل ختمېږي، خو هغه څوک چې د الله په لاره کې مرابط يعني ساتندوی مړ شي، نو د هغه عمل به تر قيامته زياتېږي.

[دا حديث امام احمد ۲۴۵۸۴، أبو داود ۲۵۰۰، ترمذي ۱۶۲۱ روايت کړی، ابن العربي او الباني صحيح بللی]

له عِرْباض بن ساريه رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :د هر انسان عمل له مرګ سره ختمیږي، مګر د الله په لاره کې د مرابط یعني ساتندوی انسان عمل به تر قیامته زیاتیږي، او رزق به یې جاري وي.

[دا حدیث طبراني په الکبیر ٦٤١ کې روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

له سلمان فارسی رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :څوک چې د رباط په حالت کې مړ شي، د هغه عمل به تر قیامته پورې زیاتیږي.

[دا حدیث ترمذي ١٦٦٥ روایت کړی، او الباني صحیح بللی]

له سلمان فارسی رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل، چې فرمایل یې :که داسې تن مړ هم شي، هغه عمل به یې جاري وي چې پخوا به یې کول. [مسلم ١٩١٣]

په غنیمت عمل

# ٣٠٨ غنیمت

## ١٣٩ - د مؤذن سره د اذان ویلو وروسته د الله څخه د وسیلې غوښتنه (اللهم رب هذه الدعوة التامة ...)

**فضیلت:** د قیامت په ورځ به د رسول الله ﷺ شفاعت ورته حاصل شي.

**دلیل:** له جابر بن عبدالله رضی الله عنهما روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :څوک چې اذان واوري او دا دعا ووایي: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، والصلاة القائمة، آت محمدا الوسيلة والفضيلة، وابعثه مقاما محمودا الذي وعدته، نو د قیامت په ورځ به زما د شفاعت حقدار وګرځي. [البخاري ٦١٤]

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :کله چې مؤذن واورئ، نو څه چې هغه وایي تاسو یې هم ووایئ، بیا پر ما درود ووایاست، ځکه څوک چې پر ما یو درود وایي، الله به لس درودونه پرې وایي، بیا له الله څخه زما لپاره وسیله وغواړئ، ځکه وسیله په جنت کې یو مقام دی چې یوازې یو بنده یې حقدار دی، او زه هیله لرم چې هغه به زه یم، نو څوک چې زما لپاره وسیله وغواړي، نو په ما یې شفاعت حق وګرځیدو. [مسلم ٣٨٤]

په غنيمت عمل

## ۳۰۹ غنيمت

### ۱۴۰ - سهار او ماښام لس ځل په رسول الله ﷺ درود ويل

**فضيلت:** د قيامت په ورځ د رسول الله ﷺ شفاعت حاصلول.

**دليل:** له ابو درداء رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل :څوک چې سهار لس ځله او ماښام لس ځله پر ما درود وايي، د قيامت په ورځ به زما شفاعت ترلاسه کړي.

[دا حديث طبراني په دوه سندونو روايت کړي، يو سند يې ښه دى، لکه څنګه چې هيثمي په مجمع الزوائد (۱۲۰/۱۰) شميره (۱۷۰۲۲) کې ويلي، روايان يې ثقات دى، سيوطي دا حديث حسن بللى]

په غنيمت عمل

## ۳۱۰ غنيمت

### ۱۴۱ - د البقرې او آل عمران سورتونه لوستل

**فضيلت:** د قيامت په ورځ به د لوستونکي لپاره شفاعت کوي.

**دليل:** له ابوامامه الباهلي رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل :قرآن ولولئ، ځکه چې دا به د قيامت په ورځ د خپل لوستونکي شفاعت کوي، الزهراوان (البقرة او آل عمران) ولولئ، ځکه دا به د قيامت په ورځ داسې راشي لکه دوه وريځې يا دوه سيورې يا د مرغانو دوه ډلې چې د لوستونکي دفاع به کوي .[مسلم ۸۰۴]

په غنيمت عمل

## ۳۱۱ غنيمت

### ۱۴۲ - د پلار د ملګرو سره صله رحمي پالل

**فضيلت:** دا تر ټولو غوره صله رحمي ده.

**دليل:** له عبدالله بن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل :تر ټولو غوره صله رحمي دا ده چې يو زوى د خپل پلار د دوستانو سره اړيکې وپالي .[مسلم ۲۵۵۲]

په غنیمت عمل

## ۳۱۲ غنیمت

### ۱۴۳ - د إذا زلزلت سورت لوستل

**فضیلت:** د نیم قرآن ثواب لري.

**دلیل:** له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :إذا زلزلت د قرآن نیمايي سره برابر ده .

[ترمذي ۳۱۵۲، ابن القیم او سیوطي دا حدیث صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۳۱۳ غنیمت

### ۱۴۴ - د قل هو الله أحد سورت لوستل

**فضیلت:** د قرآن د درېیمې برخې اجر لري.

**دلیل:** له ابو درداء رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :آیا تاسو کې یو څوک نشي کولای چې په یوه شپه کې د قرآن درېمه برخه ولولي؟ صحابو وپوښتل: هغه څنګه؟ وېې فرمایل: (قل هو الله أحد) د قرآن درېمې برخې سره برابر ده .[مسلم ۸۱۱]

په غنیمت عمل

## ۳۱۴ غنیمت

### ۱۴۵ - د الکافرون سورت لوستل

**فضیلت:** د قرآن د څلورمې برخې اجر لري.

**دلیل:** له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :قل یا أیها الکافرون د قرآن د څلورمې برخې برابر دی.

[ترمذي ۳۱۵۲ ، سیوطي او الألباني دا حدیث صحیح بللی]

## ٣١٥ غنيمت

په غنيمت عمل

### ١٤٦ - مسجد ته تلل او هلته د قرآن يو څو آيتونه لوستل

**فضيلت:** له څو ښکلو او قيمتي اوښانو ښخه غوره عمل.

**دليل:** له عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا تاسو دا نه خوښوئ چې هره ورځ بطحان يا عقيق ته لاړ شئ، او له هغه ځايه دوه څرب اوښان راولئ، په داسې حال چې گناه مو نه وي کړې، او نه صله رحمې پرې کړې وي؟ صحابه وويل: ولې نه! مونږ ټول يې خوښوو. بيا يې وفرمايل: څوک چې سهار مسجد ته لاړ شي، دوه آيتونه نه زده کوي يا يې بل چا ته ورزده کړي؟ دا ورته له دوو څرب اوښانو غوره دی، درې آيتونه له دريو اوښانو، او څلور له څلورو غوره دي، او د شمار په ندازه اوښان. [مسلم ٨٠٣]

# څلورم فصل
# هغه غنیمتونه چې د انساني نفس اصلاح او سمونه پرې ترلاسه کیږي
# (۳۱) غنیمتونه

په غنیمت عمل

# ٣١٦ غنیمت

## ١ – تقوی او د الله ښخه ویریدل

**فضیلت:** د مرگ په وخت کې د الله له لوري د ملایکو له خوا زېری، د الله رحمت، او له قرآن ښخه گټه اخیستل.

**دلیل:** ﴿الَّذِينَ ءَامَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ * لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ [یونس : ٦٣-٦٤]

هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او ځان (له نافرمانیو) ساتي، د همدوی لپاره په دنیایي ژوند کې زېری دی او په اخرت کې (هم). د الله کلماتو لره هیڅ بدلول نشته، همدغه ډېر ستر بری دی.

﴿ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ [الأنعام: ١٥٥]

د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي.

﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ ﴾ [الأعراف : ١٥٦]

او زما رحمت هر شي لره راگېر کړی دی، نو ژر به زه ولیکم دا (رحمت) د هغو کسانو لپاره چې پرهېزگاره دي.

﴿يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَءامِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ﴾ [الحدید: ٢٨]

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او د هغه په رسول ایمان راوړئ هغه (الله) به تاسو ته له خپل رحمت نه دوه حصې درکړي.

﴿ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾ [البقرة : ٢]

دا (عظیم) کتاب دی، په ده کې هیڅ شك نشته، د پرهېزگارانو لپاره هدایت دی.

﴿وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [الحاقة : ٤٨]

او بېشکه دا (قرآن) د پرهېزگارانو لپاره پند (او نصیحت) دی.

پە غنيمت عمل

## ۳۱۷ - ۳۱۸ غنيمت

### ۲ او ۳ – د حج او عمرې په پای کې د سر خرول (حلق) او يا ويښتان لنډول (تقصير)

**فضيلت:** د حلق کوونکو لپاره رسول الله ﷺ دوه يا درې ځله د رحمت دعا کړې، او د تقصير کوونکو لپاره يې يو ځل دعا کړې.

**دليل:** له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله! پر سر خروونکو رحم وکړه. صحابو وپوښتل: اې د الله رسوله! او تقصير کوونکو ته هم دعا وکړه؟رسول الله ﷺ بيا وفرمايل: اې الله! ته پر سر خروونکو رحم وکړه، هغوی بيا وويل: او تقصير کوونکو ته هم دعا وکړه؟ نو رسول الله ﷺ بيا وفرمايل: او په تقصير کوونکو هم رحم وکړه. ليث وايي: نافع ما ته دې بيان وکړ: الله دې پر سر خروونکو رحم وکړي، دا دوه يا درې ځله وو. بيا وايي، عبيدالله ويلي: ما ته نافع وويل: په څلورم ځل يې وويل: چې الله په تقصير کوونکو هم رحم وکړه.

[البخاري (۱۷۲۷) ، مسلم۱۳۰۱]

پە غنيمت عمل

## ۳۱۹ غنيمت

### ۴ – د مازديگر له لمانځه مخکې څلور رکعته لمونځ کول

**فضيلت:** رسول الله ﷺ هغه چا ته د رحمت دعا کړې چې دغه څلور رکعته لمونځ ادا کړي.

**دليل:** عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله دې په هغه سړي رحم وکړي چې له مازديگر له لمانځه مخکې څلور رکعته لمونځ کوي.

[دا حديث ابو داود (۱۲۷۱)، ترمذي (٤۳۰)، آحمد (۱۰۸۸)، ابن حبان (۲٤٥۳) کې روايت کړی، ابن حبان، سيوطي او ابن باز صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۳۲۰ غنيمت

### ۵ – د الله د ذکر لپاره رايوځای کيدل

**فضيلت:** د الله رحمت وربانديې نازليږي، ملايک يې په خپلو وزرو سره تر اسمانه پورې راګيروي

**دليل:** له ابو هريره او ابو سعيد الخدري رضي الله عنهما څخه روايت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چې خلک د الله تعالى د ذکر لپاره سره کښيني، ملايکې به وربانديې راچاپيره شي، او د الله رحمت به يې وپوښي. [مسلم ۲۷۰۰]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله داسې ملايکې لري چې پر لارو کې ګرځي، د ذکر خلک لټوي، کله چې د ذکر خلک ومومي، نو يو بل ته وايي: راشئ، دا ستاسو اړتيا ده! بيا له هغوى راچاپيريږي تر هغه چې تر آسمان دنيوي پورې يې تر وزرو لاندې نيسي، بيا له ملايکو پوښتنه کوي، چې زما بندګان څه وايي، حال دا چې الله ته پرې خبر وي؟ ملايک ورته وايي: ستا تسبيح، تکبير، تحميد او تمجيد وايي. [البخاري ۶۴۰۸]

په غنيمت عمل

## ۳۲۱ غنيمت

### ٦ – د شپې لمونځ ته پاڅېدل، خپله مېرمن راويښل، که څه هم په مخ يې اوبه وپاشل شي

**فضيلت:** د الله رحمت وربانديې نازليږي.

**دليل:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله دې پر هغه سړي رحم وکړي چې د شپې له خوبه پاڅي، لمونځ وکړي، او خپله ښځه راويښه کړي، که ويښه نه شي، نو اوبه يې پر مخ وشيندي. او همدارناز الله دې پر هغې ښځې رحم وکړي چې د شپې پاڅي، لمونځ وکړي، او خپل مېړه راويښ کړي، که ويښ نه شي، نو پر مخ يې اوبه وشيندي. [دا حديث ابو داود (۱۳۰۸)، نسائي په الکبرى (۱۳۰۲) کې روايت کړی، سيوطي او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۳۲۲ غنيمت

### ۷ - په پلور، پېر او پور غوښتنه کې نرمي کول

**فضيلت:** د الله د رحمت نازليدل.

**دليل:** له جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله دې په هغه سړي رحم وکړي چې کله خرڅوي، کله پېري او کله پور غواړي؛ نو نرم وي. [البخاري ۲۰۷٦]

په غنيمت عمل

## ۳۲۳ غنيمت

### ۸ - داسې دعا کول چې ګناه او د خپلوۍ پريکون په کې نه وي

**فضيلت:** الله به يې دعاګانې زر قبلوي.

**دليل:** له ابوسعيد رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم مسلمان چې داسې دعا وغواړي چې ګناه يا د خپلوۍ پرېکون په کې نه وي، الله ورته درې شيانو څخه يو ورکړي: يا به يې دعا قبوله شي، يا به يې اجر د آخرت لپاره جمع شي، يا به د هغې په اندازه به يې له ضرر څخه مخنيوی وشي. صحابو وويل: نو بيا بايد موږ ډېرې دعاګانې وکړو؟ هغه ورته وفرمايل: الله تر هر څه او هر چا زيات، بهتر، او کامل دی!

[دا حديث امام احمد ۱۱۳۰۲ روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۳۲۴ غنيمت

### ۹ –د مسلمان لپاره د هغه په غياب کې دعا غوښتل

**فضيلت:** د دعا قبليدل، او دعا غوښتونکي لپاره د ملايکو دعاګانې

**دليل:** له ابو الدراء رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

د مسلمان لپاره د هغه په غياب يعني نه شتون کې دعا قبليږي، د انسان په سر يو ملک (فرښته) ګمارل شوی، هر کله چې د يو مسلمان لپاره د خير دعا وغواړي، هغه ملايك ووايي: آمين، او ستا لپاره دې هم د هغه په خير وي. [مسلم ٢٧٣٣]

په غنيمت عمل

## ٣٢٥ غنيمت

### ١٠ - د شپې په وروستي دريمه حصه کې د الله څخه څه غوښتل

**فضيلت:** د دعا قبليدل.

**دليل:** له جابر رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په شپه کې يوه شيبه ده چې که مسلمان بنده پکې له الله څخه د دنيا يا د آخرت خير وغواړي، الله به يې خامخا ورکړي، دا شيبه بيا هره شپه وي. [مسلم ٧٥٧]

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زموږ رب هره شپه د آسمان دنيا ته راکوزيږي، کله چې د شپې وروستی دريمه برخه وي، او وايي: څوک دی چې له ما څخه دعا غواړي، زه يې دعا قبلوم؟ څوک چې له ما يو څخه غواړي، زه يې ورکوم، او څوک چې له ما ببښنه غواړي، زه ورته ببښنه کوم.

[البخاري (١١٤٥)، مسلم (٧٥٨)]

په غنيمت عمل

## ٣٢٦ غنيمت

### ١١ - د چهارشنبې په ورځ د ماسپښين او مازديګر ترمنځ وخت کې دعا غوښتل

**فضيلت:** د دعا قبليدل.

**دليل:** له جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ د فتح په مسجد کې درې ورځې دعا وکړه: دوشنبه، سه شنبه او چهارشنبه، نو د چهارشنبې د ماسپښين او مازديګر ترمنځ يې دعا قبوله شوه، نو د خوښۍ نښې يې پر څېره څرګندې شوې.

جابر رضي الله عنه وايي: هر كله راته كوم سخت كار پېښ شي، نو دا وخت به مې غوره کړه، په دغه وخت کې دعا کوم او قبولي يې وينم. [ دا حديث امام احمد (۱۴۷۸۷) روايت کړی، الباني دا حديث حسن بللی]

په غنيمت عمل

## ۳۲۷ غنيمت

### الغنيمة ۳۲۷

### ۱۲ - د يونس عليه السلام دعا غوښتل: (لا إله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين)

**فضيلت:** د دعا قبليدل.

**دليل:** له سعد رضی الله عنه څخه روايت دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: د ذوالنون (يونس) عليه السلام دعا چې هغه د ماهي په گېډه کې و، وويله: (لا إله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين)؛ که په دې سره يو مسلمان بنده دعا وکړي، الله به يې دعا قبوله کړي.

[ دا حديث نسائي (۱۰۴۱۷)، ترمذي (۳۵۰۵)، احمد (۳۵۰۵) روايت کړی، الفاظ د ترمذي دي، الباني دا حديث صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۳۲۸ غنيمت

### ۱۳ - د جمعې په ورځ د لمانځه پر مهال دعا کول

**فضيلت:** د دعا قبليدل.

**دليل:** له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ د جمعې ورځ ياد کړه او بيا يې وفرمايل: په دې ورځ کې يوه شېبه ده، که يو مسلمان بنده يې د لمانځه په حال کې رالاندې کړي، څه چې د الله څخه غواړي الله به يې حتما ورکړي. او رسول الله ﷺ د لاس په اشاره وښودله چې دا شېبه ډېره کمه ده. [البخاري (۹۳۵)، مسلم ۸۵۲]

په غنیمت عمل

## ۳۲۹ غنیمت

### ۱۴ - د دعا پر مهال لاسونه پورته کول

**فضیلت:** د دعا قبلیدل.

**دلیل:** له سلمان الفارسي رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: بېشکه الله عزوجل حیا لرونکی او کریم دی، کله چې یو بنده د دعا لپاره لاسونه پورته کړي، الله حیا کوي چې هغه لاسونه تش واپس کړي.

[دا حدیث ترمذي (۳۵۵٦) روایت کړی، سیوطي او الباني صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۳۳۰ غنیمت

### ۱۵ - د اذان او اقامت ترمنځ دعا کول

**فضیلت:** د دعا قبلیدل.

**دلیل:** له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د اذان او اقامت ترمنځ دعا نه ردېږي.

[ابو داود (۵۲۱)، الباني دا حدیث صحیح بللی]

په غنیمت عمل

## ۳۳۱ غنیمت

### ١٦ – د مؤذن پسې د اذان ویلو وروسته دعا غوښتل

**فضیلت:** د دعا قبلیدل.

**دلیل:** له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یو سړي وویل: ای د الله رسوله! مؤذنان پر موږ ډېره غوره دي. نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته هم هغه څه وایه کوم چې مؤذنان وايي، بیا چې پای ته ورسې، دعا وغواړه، څه چې غواړې درېه کړل شي.

[ دا حدیث ابو داود (٥٢٤) نسائي په الکبری (٩٧٨٩)، ابن حبان (١٦٩٥) روایت کړی، ابن حبان او الباني صحیح بللی]

## ٣٣٢ غنیمت

په غنیمت عمل

**١٧ – د شپې له خوبه راپاڅېدو پر مهال دا ویل: (لا إله إلا الله وحده لا شریك له...) بیا دعا غوښتل**

**فضیلت:** د دعا قبلیدل.

**دلیل:** له عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ځوک چې د شپې له خوبه راپاڅي او دا وایي :لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير، الحمد لله، وسبحان الله، ولا إله إلا الله، والله أكبر، ولا حول ولا قوة إلا بالله. بیا وایي: اې الله ما ته بښنه وکړه، یا دعا وکړي، نو قبلیږي. [البخاري (١١٥٤)]

## ٣٣٣ غنیمت

په غنیمت عمل

**١٨ – د روژه دار دعا د روژې یا د روژه ماتې پر مهال**

**فضیلت:** د دعا قبلیدل.

**دلیل:** له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د روژه دار د روژې د ماتولو پر مهال دعا نه ردیږي. [ابن ماجه (١٧٥٣)، أحمد شاکر صحیح بللی]

له ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: درې کسان دي چې دعا یې نه ردیږي: روژه دار تر هغې پورې چې روژه ماته کړي، عادل امام، او د مظلوم دعا.

[دا حدیث ترمذي (٣٥٩٨)، ابن ماجه (١٧٥٢)، احمد (٩٨٧٤) روایت کړی، ابن الملقن دا حدیث صحیح بللی]

په غنيمت عمل

## ۳۳۴ غنيمت

### ۱۹ – د الله ذکر کول

**فضيلت:** د دعا قبليدل.

**دليل:** له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دريو کسانو دعا نه رديږي: د الله ذکر کوونکی، د مظلوم دعا، او عادل واکمن.»

[دا حديث بزار په خپل مسند کې (۱۵/۲۷۱) په دې (۸۷۵۱) شميرې روايت کړې، الباني حسن بللي]

په غنيمت عمل

## ۳۳۵ غنيمت

### ۲۰ – دعا

**فضيلت:** د دعا قبليدل.

**دليل:** ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [غافر: ٦٠]

او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم. بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي.

په غنيمت عمل

## ۳۳۶ غنيمت

### ۲۱ ـ د رمضان په هره شپه او ورځ کې دعا کول

**فضيلت:** د دعا قبليدل.

**دليل:** له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی هره ورځ او شپه له دوزخ څخه بندګان آزادوي، او هر مسلمان ته په هرې ورځې او شپې کې يوه قبوله کېدونکې دعا ورکول کېږي (يعنی د رمضان په مياشت کې).

[دا حديث طبراني په الأوسط (٦٤٠١) کې روايت کړې، او الباني صحيح بللی]

## ٣٣٧ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۲۲ـ د الله لپاره تواضع کول

**فضیلت:** الله تعالی به لوړ مقام ورکړي

**دلیل:** له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د الله لپاره تواضع وکړي، الله تعالی به یې لوړ کړي. [مسلم ۲۵۸۸]

## ٣٣٨ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۲۳ ـ د ژبې ساتنه

**فضیلت:** الله به د هغه عیبونه پټ کړي

**دلیل:** له انس رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې خپل غصه کنټرول کړي، الله تعالی به خپل عذاب ترې لرې کړي، او څوک چې خپله ژبه وساتي، الله به یې عیبونه پټ کړي.

[دا حدیث الضیاء المقدسي په المختاره (۲۰٦٦) کې روایت کړی، او البانې صحیح بللی]

## ٣٣٩ غنیمت

په غنیمت عمل

### ۲۴ـ د خپلوانو سره د اړیکو پالل

**فضیلت:** د عمر زیاتوالی

**دلیل:** له ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ... د خپلولی پالنه عمر زیاتوي.

[دا حدیث طبراني په الکبیر (۸۰۱۴) کې روایت کړی، البانی صحیح بللی]

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د خپلولۍ پالنه، ښه اخلاق او له ګاونډيانو سره ښېګڼه ښارونه آبادوي او عمرونه اوږدوي.

[دا حديث امام احمد (٢٥٨٩٦) کې روايت کړی، الباني صحيح بللی]

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که څوک غواړي چې روزي يې پراخه شي او عمر يې زيات شي، خپلولي دې پالي. [البخاري٥٩٨٦، مسلم٢٥٥٧]

په غنيمت عمل

## ٣٤٠ - ٣٤١ غنيمت

### ٢٥ او ٢٦ ـ ښه اخلاق او له ګاونډيانو سره ښېګڼه

**فضيلت:** د عمر زياتوالی.

**دليل:** له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د خپلولۍ پالنه، ښه اخلاق او له ګاونډيانو سره ښېګڼه ښارونه آبادوي او عمرونه اوږدوي.

[دا حديث امام احمد (٢٥٨٩٦) روايت کړی، الألباني صحيح ګڼلی]

په غنيمت عمل

## ٣٤٢ غنيمت

### ٢٧ـ په اثمد سره سترګې تورول

**فضيلت:** نظر روښانه کوي.

**دليل:** له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو لپاره د سترګو د تورولو لپاره اثمد غوره دي، څکه چې دا سترګې صفا کوي او ويښتان رازرغونوي.

[دا حديث امام احمد (٢٢٥٤)، نسائي په الکبری (٩٣٤٤) ، ابو داود(٣٨٧٨)، ترمذي(١٧٥٧) روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

په غنيمت عمل

## ۳۴۳ غنيمت

### ۲۸ـ د مخکينۍ صف کې لمونځ کول

**فضيلت:** ملائکې دعا ورته کوي.

دليل: له براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله او د هغه ملايکې د مخکينيو صفونو لمونځ کوونکو لپاره دعا کوي.

[دا حديث نسائي په الکبرى (۱٦۲۲) کې روايت کړى، او الباني صحيح بللى]

په غنيمت عمل

## ۳۴۴ غنيمت

### ۲۹ـ په خپلې مصلى ناست پاتې کېدل، تر څو چې اودس يې مات کړى نه وي

**فضيلت:** د دغه بنده لپاره د ملائکو دعا.

**دليل:** له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ملائکې د هغه چا لپاره دعا کوي، چې تر لمانځه وروسته په خپلې مصلى ناست پاتې شي، تر څو چې اودس يې نه وي مات شوى، او داسې وايي: يا الله! ده ته ببښنه وکړه، او رحم پرې وکړه.

[البخاري۴۴۵، مسلم ٦۴۹]

په غنيمت عمل

## ۳۴۵ غنيمت

### ۳۰ ـ د مسلمان عيادت کول

**فضيلت:** د دغه بنده لپاره د ملائکو دعا.

**دليل:** له علي رضي الله عنه څخه روايت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

څوک چې د سهار په مهال د مسلمان عيادت وکړي، تر ماښامه پورې اويا زره ملائکې دعا ورته کوي، او که يې د ماښام له لوري عيادت وکړ، تر سهاره پورې اويا زره ملائکې دعا ورته کوي.

[دا حديث ترمذي (۹٦۹) کې روايت کړی، او الباني صحيح بللی]

## ۳٤٦ غنيمت

په غنيمت عمل

### ۳۱ - اذان کول

**فضيلت:** د اذان کوونکي لپاره به هر لوند او وچ شی شهادت ورکړي.

**دليل:** له ابوهرېره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل :مؤذن ته به د خپل آواز تر حده پورې مغفرت وشي، او هر لوند او وچ شی به د هغه لپاره شهادت ورکړي.

[دا حديث نسائي په الکبری (۱٦۲۱)، ابو داود (۵۱۵) کې روايت کړي، او الباني صحيح بللی]

# پنځم فصل

# هغه غنیمتونه چې دنیاوې چارو کې مطلوب هدف پرې ترلاسه کیږي

# (۱۰) غنیمتونه

پـه غنيمت عمل

# ٣٤٧ غنيمت

## ١ - د مسلمان ورور حاجت ته ځان رسول

**فضیلت:** الله تعالی به د هغه په حاجت کې وي.

**دلیل:** له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د خپل ورور په حاجت کې وي، الله تعالی به د هغه په حاجت کې وي.

[البخاري (٢٤٤٢)، مسلم (٢٥٨٠)]

پـه غنيمت عمل

# ٣٤٨ غنيمت

## ٢ -صله رحمي

**فضیلت:** تر ټولو زر ثواب لرونکي طاعت دی، مال، اولاد او رزق کې یې ډیروالي پیدا کیږي.

**دلیل:** له ابو بکره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تر ټولو ژر ثواب لرونکې طاعت، صله رحمي ده، آن د يوې کورنۍ اهل فاسقان وي؛ نو هم مالونه به يې زياتيږي، او اولاد به يې ډيريږي، چې کله صله رحمي پالي.

[دا حدیث ابن حبان (٤٤٠) روایت کړی، ارناؤوط صحیح بللی]

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: که څوک غواړي چې رزق یې پراخه او عمر کې یې برکت پیدا شي، نو صله رحم دې پالي.

[البخاري (٢٠٦٧)، مسلم (٢٥٥٧)]

په غنیمت عمل

# ۳۴۹ غنیمت

**۳ -استغفار په ځان لازم ګرځول، او الله ته توبه کول**

**فضیلت:** د دنیا ښایسته ژوند، او له هغه لورې به ورته د رزق بندوبست وشي، چې په فکر به یې هم نه وي.

**دلیل:** ﴿وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم مَّتَاعًا حَسَنًا إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ [هود: ۳]

او دا چې تاسو له خپل رب نه مغفرت وغواړئ، بیا هغه ته توبه وباسئ (، نو هغه به تاسو ته د یوې مقررې نېټې پورې ډېره ښکلې فایده درکړي.

له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په دوامداره توګه استغفار کوي، الله به د هر تنګ او سخت حالت څخه ورته خلاصون ورکړي، د هر غم نه به وروسته پرې خوشالي راولي، او له داسې ځایه به روزي ورکړي چې فکر کې به یې هم نه وي.

[دا حدیث ابو داود (۱۵۱۸)، نسائي په الکبری (۱۰۲۱۷)، ابن ماجه (۳۸۱۹) روایت کړی دی، عبد الحق الإشبیلي او ابن باز صحیح بللی]

په غنیمت عمل

# ۳۵۰ غنیمت

**۴ -تقوی او د الله څخه ویره**

**فضیلت:** د اسمان او ځمکې له لورې به برکت دروازې ورته خلاصې شي، له هغه ځایه به رزق ورکړل شي، چې په فکر کې هم نه وي، او کارونه به یې آسانه شي.

**دلیل:** ﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ﴾ [الأعراف: ۹۶]

او که چېرې د کليو اوسېدونکو ايمان راوړی وَی او پرهېزگاره شوي وَی (، نو) مونږ به خامخا په دوي باندې د اسمان او ځمکې نه برکتونه پرانستلي وی.

﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا * وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾[الطلاق: ٢-٣]

او هغه څوك چې له الله نه ووېرېږي، (نو) هغه به د ده لپاره د وتلو څه ځاى پيدا كړي، او ده ته به له هغه ځايه رزق وركړي چې دى به گمان هم نه کوي.

﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا﴾[الطلاق: ٤]

او هغه څوك چې له الله نه ووېرېږي، هغه به د ده لپاره په كار كې ډېره اساني پيدا كړي.

په غنيمت عمل

**٣٥١ غنيمت**

### ٥ -په الله توكل كول

**فضيلت:** رزق به وركړل شي.

**دليل:** له عمر بن الخطاب رضى الله عنه څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كه تاسو پر الله هغه شان توكل وكړئ لكه څنگه چې لازم دى، نو الله به تاسو ته همداسې روزي دركړي لكه څنگه چې مرغانو ته وركوي، چې سهار وږي وځي او ماښام ماړه راگرځي.

[دا حديث ترمذي (٢٣٤٤)، ابن ماجه (٤١٦٤)، احمد (٢١٠) روايت كړى دى، الباني صحيح بللى]

په غنيمت عمل

## ۳۵۲ غنيمت

### ٦ - لګښت (انفاق) کول

**فضيلت:** د الله لورې د مال پر ځای ښه بديل ترلاسه کول.

**دليل:** ﴿قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾ [سبأ: ۳۹]

ته (دوی ته) ووايه: بېشکه زما رب رزق فراخوي چا ته چې وغواړي په خپلو بنده ګانو کې او د هغه لپاره يې تنګوي او تاسو چې څه شی هم لګوئ، نو هغه د دغه (څيز) عوض درکوي۔ او هغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکی دی.

له ابو هرېره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هره ورځ چې بندګان سبا کوي، دوه ملايکې راکوزېږي: يوه وايي: اې الله! مصرف کوونکي ته بدله ورکړه، او بله وايي: اې الله! بخيل ته تاوان ورکړه. [البخاري: ۱۴۴۲، مسلم: ۱۰۱۰]

په غنيمت عمل

## ۳۵۳ غنيمت

### ۷- د عمر خوړلي شخص درناوی او اکرام کول

**فضيلت:** الله به داسې څوک برابر کړي چې د دې به په زوړ عمر اکرام وکړي.

**دليل:** له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو ځوان به د يو زوړ شخص د عمر له امله اکرام و نه کړي، مګر دا چې الله به داسې څوک برابر کړي چې د ده اکرام به وکړي، کله چې دی زاړه عمر ته ورسيږي.

[دا حديث ترمذي ۲۰۲۲ روايت کړی، سيوطي صحيح بللی]

په غنیمت عمل

# ۳۵۴ غنیمت

**۸ - د مصیبت پر مهال (إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) ویل**

**فضیلت:** الله به غوره بدیل ورکړي.

**دلیل:** له ام سلمه رضي الله عنها، چې د رسول الله ﷺ میرمن ده، وایي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې ویې فرمایل: کوم بنده ته چې مصیبت ورسیږي، او هغه ووایي (إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) د مصیبت له امله به الله هغه ته اجر ورکړي، او له هغې څخه غوره بدیل به هم ورکړي.

[مسلم: ۹۱۸]

په غنیمت عمل

# ۳۵۵ غنیمت

**۹ – د خرڅونې پر مهال ریښتیا ویل او وضاحت ورکول**

**فضیلت:** په سودا کې برکت پیدا کیږي.

**دلیل:** له حکیم بن حزام رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه سودا کوونکي تر هغه وخته د اخیستو او نه اخیستو اختیار لري تر څو چې سره جلا شوي نه وي، که چیرته دواړه رښتیني وي او د سودا بیان وکړي؛ نو د دوی په سودا کې به یې الله برکت واچوي، او که دروغ ووایي او د سودا عیب پټ کړي؛ نو د سودا برکت به له منځه لاړ شي.

[البخاري: ۲۰۷۹، مسلم: ۱۵۳۲]

په غنیمت عمل

# ۳۵٦ غنیمت

**۱۰ - د ویده کیدو مخکې: ۳۴ ځله تکبیر، ۳۳ ځله تسبیح، ۳۳ ځله تحمید ویل**

**فضیلت:** **له خدمتګار ساتلو غوره دي.**

**دلیل:** **له علي رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې تاسې بیده کېږئ، نو ۳۴ ځله تکبیر، ۳۳ ځله تسبیح، او ۳۳ ځله تحمید ووایئ، دا درته له خدمتګار ساتلو څخه غوره دي.**

[البخاري: ۳۷۰۵، مسلم: ۲۷۲۷]

# شپږم فصل

# هغه غنیمتونه چې ستا شاوخوا خلکو د مطلوب اثر سبب گرځي

# (۴) غنیمتونه

په غنیمت عمل

# ۳۵۷ غنیمت

## ۱ – بدی په ښېګڼې سره دفع کول

**فضیلت:** دښمن په د نږدې دوست په څېر وګرځي.

**دلیل:** ﴿وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ﴾ [فصلت: ۳۴]

او نېکي او بدي هیڅکله سره نه برابرېږي. ته په هغې طریقې سره جواب ورکوه چې تر ټولو ښه وي، نو ناڅاپه به هغه کس چې ستا په مینځ کې او د هغه په مینځ کې دښمني وي، داسې شي ګویا کې هغه ستا ډېر مهربان دوست دی.

په غنیمت عمل

# ۳۵۸ – ۳۶۰ غنیمت

## ۲ – ۴ - صله رحمي، ښه اخلاق او ښه ګاونډیتوب

**فضیلت:** د کورونو د آبادی او ښېرازی سبب ګرځي.

**دلیل:** له عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: صله رحمي، ښه اخلاق او ښه ګاونډیتوب، کورنو آباد او ښیرازوي.

[دا حدیث امام احمد (۲۵۸۹٦) روایت کړی دی، الباني صحیح بللی]